
وَصَلِّ عَلَيْهِمْ إِنَّ صَلَاتَكَ سَكَنٌ لَّهُمْ
حتمي سفر
غسل، کفن، جنازه
۵
وَصَلِّ عَلَيْهِمْ إِنَّ صَلَاتَكَ سَكَنٌ لَّهُمْ
5
INEVITABLE JOURNEY
DEAD BODY WASH
SHROUD, FUNERAL

شمـا ره

مـضمـ

ـــــــــــــــــــــــــــــون

صفـحـه

1. قـبـر..4

2. د خښولـو حکم 6

3. د قـبـر کـيفـيت...7

4. کـوم قـبـر غوره دی؟..7

5. قـبـر بـه څومـره ژور وي؟..9

6. د قـبـر مـسئـلـې 9

7. د قـبـرونـو احـترام کـول سـنت دي.............................16

8. د قـبـر را لـوڅول 17

9. ډېـر کسان پـه يـو قـبـر کـې خښول...........................19

10. قـبـر بـه لـه زمـکـې نـه لـږ پـورتـه کـوي 20

11. پـه قـبـر بـانـدې نـښه کـول.......................................21

12. پـه نـېږدې مـقـبـره (هـديـره کـې خښول) 24

13. د قـبـرونـو زيـارت..24

14. د ښځـې لـپـاره د قـبـر زيـارت کـول 25

15. د مـشرک د قـبـر زيـارت..29

16. د قـبـرونـو زيـارت پـه دری قـسمـه دی.........................31

17. لـمړی قـسم شرعي زيـارت..31

18. دوهم قـسم نـاروا زيـارت...33

19. دريـم قـسم شرکـي زيـارت...34

20. مړي د ژونديو په زيارت خبريږي........................34
21. د مړيو ارواح خبرې سره کوي............................37
22. د مړيو روحونه چېرته وي؟..............................40
23. ارواح يو له بل سره ملاقات کوي........................54
24. روح نه مړ کيږي..55
25. ارواح بغير له بدن پېژندل کيږي........................56
26. قبر واله زيارت کونکي پيژني............................56
27. مړی تر خښېدلو وړاندې په ډېر څه پوهيږي 57
28. مړي خبرې هم کوي......................................60
29. په مړيو باندې د سلام ځواب ملائکې وايي..........62
30. د قبر عذابونه او نعمتونه 62
31. د حضرت عمر بن عبد العزيز خطبه 63
32. د قبر عذاب..67
33. د قبر عذاب په احاديثو کې 73
34. د قبر عذابونه..87
35. ١. په کمچينو سره وهل...................................87
36. ٢. ماران او لړمان ورباندې مسلط کيدل..............89
37. ٣. سر يې په تيږه وهل کيږي.............................91
38. ٤. سترګې خوله او پوزه يې پرې شکول کيږي....92
39. د قبر خبرې..94
40. د قبر د عذاب کشف......................................96
41. د قبر د عذاب ځينې اسباب............................105
42. ١. کفر او شرک..106
43. ٢. نفاق..107
44. ٣. په مانځه کې سستيا کول 109

45. ٤. په قرآن کریم باندې عمل نه کول............111
46. ٥. په چا پسې بهتان خپرول......................111
47. ٦. زنا..112
48. ٧. سود..113
49. ٨. فرضي روژه خوړل..............................113
50. ٩. قول او عمل سره بدلېدل........................114
51. ١٠. غلا..115
52. ١١. د غنیمت د مال نه غلا کول....................116
53. ١٢. له بولو (متیازو) څخه ځان پاک نه ساتل
116..
54. ١٣. النمیمة چغلي (خبرې نقل کول)..........116
55. ١٤. غیبت کول....................................121
56. ١٥. کبر او غرور.................................121
57. ١٦. د غیر ناطقه حیواناتو عذاب کول.............122
58. ١٧. قرضونه.......................................123
59. ١٨. په مړي باندې ژړا.............................124
60. د قبر د عذاب نه نجات ورکونکي...................126
61. ١. ایمان او ثبات.................................126
62. ٢. د عذاب له اسبابو ځان ساتل....................127
63. ٣. نېک اعمال کول.................................129
64. ٤. شهادت...130
65. ٥. د الله په لاره کې پهره کول......................131
66. ٦. د قبر له عذاب څخه پناه غوښتل...................132
67. ٧. د جُمعې په ورځ یا شپه مرګ....................132
68. ٨. د ګېډې په بیماري مړه کېدل......................133
69. ٩. سورة الملک لوستل.............................134

70. ۱۰ . صدقات ورکول..134
71. ۱۱. صدقه جاریه 134
72. ۱۲. مړي ته دعاء کول..135
73. ۱۳. مړي ته د نېک عمل ثواب ور بښل..............137
74. په قبر کې د نېکو اعمالو فایده 137
75. په قبر کې نېک اعمال...147
76. مړي له دنیا نه خبریږي...152
77. په قبر کې رسېدونکی اجر..158
78. لمړی تعلیم...159
79. دوهم د نهرونو کیندل...160
80. دریم د کوهیو ویستل...160
81. څلرم د کجورې نهال کول..161
82. پنځم د جومات جوړول...162
83. شپږم په میراث کې قرآن کریم پاتې کېدل.......163
84. اووم نېک اولاد پاتې کېدل..163
85. ماخذونه..166
86. د مؤلف چاپ شوي آثار...168

Ÿ

إنَّ الحَمدَ للهِ نَحمدُهُ ونستعينُهُ ونستهديهِ ونشْكرُهُ ونعوذُ باللهِ من شرورِ أنفسِنَا ومن سيئاتِ أعمالنا، مَن يهدِ اللهُ فلا مُضِلَّ لهُ ومن يُضلِل فلا هادِيَ لهُ، وأشهدُ أنْ لا إلـهَ إلا اللهُ وحدَهُ لا شريكَ لهُ ولا مثِيلَ لهُ ولا ضدَّ ولا نِدَّ لهُ، وأشهدُ أنَّ سيّدَنا وحبيبَنا وعظيمَنا وقائِدَنا وقُرَّةَ أَعْيُنِنَا محمَّدًا عبْدُهُ ورَسولُهُ وصَفِيُّهُ وحَبيبُهُ صلَّى اللهُ عليهِ وعلى كلِّ رسولٍ أرسلَهُ.

حمد او ثناء ده هغه ذات لره چې ټول مخلوقات يې پيدا کړي دي او د هرشي لپاره يې په دنيا کې د پاتې کېدلو لپاره وخت مقرر کړی دی چې کله هغه وخت ختم شي نو بيا به هغه مخلوق هم ورسره ختميږي حمد او ثناء ده هغه ذات لره چې انسانان يې په دنيا کې پيدا کړي دي چې د آخرت لپاره عملونه وکوي او بيا يې د هدايت لپاره ورته هر وخت پيغمبران را لېږلي دي ترڅو دوی سمې لارې ته متوجه کړي درود او سلام دې وي په هغه ټولو پيغمبرانو باندې چې د الله د رضا لپاره يې د خلکو د هدايت په لاره کې هر ممکن کوښښ وکولو او تر آخري حده پورې يې کوښښ وکولو چې خلک سمې لارې ته برابر کړي او بې ساري درود او سلام دې وي زمونږ په مهربان استاذ ، مهربان رهبر ، مهربان پيغمبر حضرت محمد ﷺ چا چې د بعثت نه تر وفات پورې خپل ټول ژوند ددې لپاره وقف کړی وو چې خپل امت په سمه لاره برابر کړي او څوک به چې د قيامت په ورځ يوازې يو شخصيت وي چې د خپل امت غم به کوي او د خپل ځان غم به ورسره نه وي .

لکه مخکې (د همدې سلسلې د کتابونو په لمړۍ برخه کې) چې تېر شول الله انسانان پيدا کړي دي او بيا الله دوی پدې خبر کړي دي چې هر ژوندی شی

چې پدې جمله کې انسان هم دی خامخا به مړ کیږي الله فرمایي : كُلُّ نَفْسٍ ذَائِقَةُ الْمَوْتِ ثُمَّ إِلَيْنَا تُرْجَعُونَ (57) .[1]

ترجمة : هر یو نفس (ژوندی) څکونکی د مرګ دی (یعنی خامخا مري) بیا (خاص) موږ ته (په بعث بعد الموت سره) راوستل کیږی (د جزاء له پاره)

او بیا چې کله یو مسلمان وفات شي د هغه څه مراسم دي لکه کفن غسل او جنازه دا ټول په تفصیل سره ددینه په مخکني کتاب کې تېر شوي دي امید دی چې ستاسې تر لاسونو به در رسېدلی وي بیا شریعت مونږ ته حکم کوي چې د جنازې تر مانځه وروسته چې حالات عادي وي نو مړی به په قبر کې خښ کړئ او همدا زمکه د انسان آخري د ارام ځای دی الله فرمایي : مِنْهَا خَلَقْنَاكُمْ وَفِيهَا نُعِيدُكُمْ وَمِنْهَا نُخْرِجُكُمْ تَارَةً أُخْرَى (55) .[2]

ترجمة : (خاص) له دې (زمکې څخه) پیدا کړي یئ مونږ تاسې (په ژوندون سره) او په همدې زمکې کې ننه باسو تاسې (په مرګ سره) او له دې (زمکې) څخه را باسو تاسې کرت بل (دوهم ځلې په بعث بعدالموت سره).

او دا په زمکه کې خښول هغه شی دي چې ملائکو د حضرت آدم زوی ته ور وښودل تفصیلي قصه یې د قتل په برخه کې تېره شویده کله چې قابیل خپل ورور هابیل قتل کړو نو بیا حیران وو چې څه وربانديې وکوي بالآخره دوه کارغان راغلل یو پاڅېدو بل یې مړ کړو او بیا یې په زمکه کې خښ کړو نو بیا دی هم پوه شو چې دا یې ده ته ور ښودله چې دی ورسره څه وکوي نو ده هم بیا همداسې وکول یو ځل یې بیا در په زړه کوم هلته

---

[1] سورة العنكبوت
[2] **سورة طه**

الله فرمايلي وو : **فَطَوَّعَتْ لَهُ نَفْسُهُ قَتْلَ أَخِيهِ فَقَتَلَهُ فَأَصْبَحَ مِنَ الْخَاسِرِينَ (30) فَبَعَثَ اللَّهُ غُرَابًا يَبْحَثُ فِي الأَرْضِ لِيُرِيَهُ كَيْفَ يُوَارِي سَوْءةَ أَخِيهِ قَالَ يَا وَيْلَتَا أَعَجَزْتُ أَنْ أَكُونَ مِثْلَ هَذَا الْغُرَابِ فَأُوَارِيَ سَوْءةَ أَخِي فَأَصْبَحَ مِنَ النَّادِمِينَ (31)** . [1]

ترجمة : نو ښائسته کړ دغه (اماره) نفس د ده وژل د ورور د ده (چې هابيل ؤ) بيا وواژه (قابيل) دغه (هابيل) نو وګرځېد (قابيل په دنيا او عقبی کې په سبب د قتل د هابيل) له زيان کارانو نو ولېږه الله يو کارغه چې ژوروال يې کول په زمکه کې (په مښوکه او پنجو خپلو سره) له پاره د دې چې و ښيي دغه (قابيل) ته چې څرنګه پټه کړي جثه د ورور (هابيل) وويل (قابيل) اې افسوسه زما راشه دغه د وخت دی (يعني افسوس دی ماته) آيا عاجز وم زه له دې چې کيدی په شان د دې کارغه (په پوهه کې) نو پټه کړی به مې وه جثه د ورور خپل نو وګرځېد (قابيل په دې قتل د هابيل سره او يا دومره وخت په شا د ګرځولو د ورور د جثې) له پښېمانی کوونکو څخه .

او دا يو عزت دی چې الله انسانانو ته ورکړی دی او په دې خصوصيت او عزت سره يې يوازې انسانان خاص کړي دي او په قرآن کريم کې يې دا هم په دوی باندې يو انعام او احسان ياد کړی دی الله فرمايي : **ثُمَّ أَمَاتَهُ فَأَقْبَرَهُ (21)** [2]

ترجمة : بيا (الله) مړ کړ هغه (انسان لره) نو په قبر کې ئې کېښود ده لره.

---

[1] سورة المائدة
[2] سورة عبس آية ٢١

حضرت عبد الله بن عباس ددې آيت په تفسير کې فرمايي ددې معنى داده چې په قبر او ښکلو سره يې عزت ورکړى دى امام بغوي فرمايي : معنى يې داده چې د انسان لپاره قبر يو داسې ځاى دى چې دى پکې پټيږي (که بيا په ده باندې هر ډول حالات راځي له خلکو نه پټ وي او څوک يې نه ويني) امام فراء فرمايي : دا قبر يې دده لپاره نعمت کړى دى او انسان يې داسې نه دى کړى لکه نور حيوانات او ځناور چې چېرته مړه شي بس د خلکو له نظر او د ګرځېدلو له ځاى نه يوې خوا ته وغورځول شي .

قبر

د قبر په اړه رسول الله ﷺ فرمايي :

القبرُ إمَّا رَوْضَةٌ مِنْ رياضِ الجنَّةِ وإمَّا حُفْرةٌ مِنْ حُفَرِ النيرانِ .

ترجمة : قبر يا د جنت له باغيچو څخه يوه باغيچه وي او يا د دوزخ له کندو څخه يوه کنده وي .

همدارنګه يو روايت دى چې رسول الله ﷺ فرمايل :

يَقُولُ الْقَبْرُ لِلْمَيِّتِ حِينَ يُوضَعُ فِيهِ : وَيْحَكَ يَا ابْنَ آدَمَ مَا غَرَّكَ بِي ؟ أَلَمْ تَعْلَمْ أَنِّي بَيْتُ الْفِتْنَةِ ، وَبَيْتُ الظُّلْمَةِ ، وَبَيْتُ الْوَحْدَةِ ، وَبَيْتُ الدُّودِ ؟ مَا غَرَّكَ بِي ؟

ترجمة : قبر مړي ته وايي کله چې په هغه کې کېښودل کيږي افسوس دى ستا په حال اى بني ادمه ته په ما باندې څه شي دوکه کړى وې؟ ته پدې نه پوهېدې چې زه د فتنې کور يم ، د تيارې کور يم ، د تنهايي کور يم ، د چنجو کور يم؟ ته په مابانډې څه شي دوکه کړى يې؟

همدا رنګه له حضرت ابي سعيد څخه روايت دى هغه فرمايي: دَخَلَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم مُصَلاَّهُ فَرَأَى نَاسًا كَأَنَّهُمْ يَكْتَشِرُونَ قَالَ " أَمَا إِنَّكُمْ لَوْ أَكْثَرْتُمْ ذِكْرَ هَاذِمِ اللَّذَّاتِ لَشَغَلَكُمْ عَمَّا أَرَى فَأَكْثِرُوا مِنْ ذِكْرِ هَاذِمِ اللَّذَّاتِ الْمَوْتِ فَإِنَّهُ لَمْ يَأْتِ عَلَى الْقَبْرِ يَوْمٌ إِلاَّ تَكَلَّمَ فِيهِ فَيَقُولُ أَنَا بَيْتُ الْغُرْبَةِ وَأَنَا بَيْتُ الْوَحْدَةِ وَأَنَا بَيْتُ التُّرَابِ وَأَنَا بَيْتُ الدُّودِ . فَإِذَا دُفِنَ الْعَبْدُ الْمُؤْمِنُ قَالَ لَهُ الْقَبْرُ مَرْحَبًا وَأَهْلاً أَمَا إِنْ كُنْتَ لأَحَبَّ مَنْ يَمْشِي عَلَى ظَهْرِي إِلَىَّ فَإِذْ وُلِّيتُكَ الْيَوْمَ وَصِرْتَ إِلَىَّ فَسَتَرَى صَنِيعِي بِكَ . قَالَ فَيَتَّسِعُ لَهُ مَدَّ بَصَرِهِ وَيُفْتَحُ لَهُ بَابٌ إِلَى الْجَنَّةِ . وَإِذَا دُفِنَ الْعَبْدُ الْفَاجِرُ أَوِ الْكَافِرُ قَالَ لَهُ الْقَبْرُ لاَ مَرْحَبًا وَلاَ أَهْلاً أَمَا إِنْ كُنْتَ لأَبْغَضَ مَنْ يَمْشِي عَلَى ظَهْرِي إِلَىَّ فَإِذْ وُلِّيتُكَ الْيَوْمَ وَصِرْتَ إِلَىَّ فَسَتَرَى صَنِيعِي بِكَ . قَالَ فَيَلْتَئِمُ عَلَيْهِ حَتَّى تَلْتَقِيَ عَلَيْهِ وَتَخْتَلِفَ أَضْلاَعُهُ . [1]

ترجمة : رسول الله خپل د مانځه ځاى ته ننوتلو ويې ليدل چې هلته خلک وو هغوى خندل رسول الله ﷺ ورته وفرمايل که چېرته تاسې د مرګ ذکر زيات کولى نو تاسې به يې لدې نه مشغول کړي وى کوم حالت چې زه ستاسې اوس وينم مرګ ډېر يادوئ ځکه په قبر باندې هېڅ ورځ نه را ځي مګر هغه پکې خبرې کوي او وايي زه د غربت کور يم او زه د يوازې توب کور يم او زه د خاورو کور يم او زه د چينجو کور يم کله چې يو مؤمن بنده خښ کړل شي قبر ورته وايي په خير راغلې بېشکه ته به چې زما په شا ګرځېدلې ماته ګران وې اوس چې ته زما ګېډې ته راغلې نو دلته به هم وګورې چې زه لتا سره څه کوم نو بيا ورته قبر دومره فراخ شي لکه څومره چې دده نظر کار کوي او جنت ته ورته يوه دروازه ورخلاصه شي او کله چې فاجر بنده او يا کافر خښ کړل شي قبر ورته وايي تاته د ستړي مشي نه وي ته به چې زما په شا باندې ګرځېدې زما بد ايسېدې چې اوس ته زما په

[1] صحيح الترمذي

واک کې راغلې او ماته راغلې اوس به ته وګورې چې زه لتا سره څه کوم بیا وربانډې زمکه را ټوله شي تردې چې دی کلک ونیسي او دده اندامونه سره یو تر بل تېر کړي (د ښي طرف هډوکي چپ او د چپ طرف هډوکي ښې طرف ته ورسوي) .

د خښولو حکم

د مړي خښول په اتفاق سره فرض کفایي دي که یو څو کسان را پاڅیږي او په علاقه کې شوی مړی خښ کړي نو د ټولو غاړه پرې خلاصه شوه او که پاتې شي نو ټول خلک ګناهکاران کیږي .[1]

خو کله به داسې حالت هم وي چې هلته انسان نشي کولی بل انسان ته قبر جوړ کړي او هغه د شریعت د قوانینو مطابق خښ کړي د مثال په ډول پداسې وخت کې مړشو چې په کښتۍ کې وو او تر ساحل پورې ډېره لاره وه نو غسل به ورکړي ، کفن به ورکړي ، مونځ به پرې وکوي او په بحر کې به یې ور خوشې کړي لکن که هوا ښه وه (یخه وه) د خرابېدو وېره یې نه وه او یا داسې اسباب وو لکه یخچالونه چې تر ساحل پورې یې پکې ساتلی شوای او یا ساحل نېږدې وو نو بیا یې د په اوبو کې نه خوشې کوي بلکه صبر د وکوي چې وچې ته ورسیږي هلته یې دې په مقبره کې خښ کړي .

که چېرته پداسې دښته کې په حق ورسیږي چې هلته نېږدې کورونه او ابادي نه وي نو د قبر ویستل خو اسباب غواړي او کار غواړي او د ژوندیو په وس کې نه وو چې قبر ورته و باسي نو غسل د ورکړي ، کفن د ورکړي او مونځ د پرې وکوي په ښي اړخ یې د څملوي مخ یې دې قبلې ته کړي او خاورې تیرې او نور شیان دې پرې ور ټول کړي چې

[1] رد محتار

د حیواناتو او ځناورو نه یې جسم پټ شي نو بیا د پریږدي .

او که چېرته حالات عادي وو او د مسلمانانو په مینځ کې په حق ورسیږي نو بیا به د اسلامي او شرعي اصولو مطابق ورته قبر جوړ کړي او دفن به یې کړي .

د قبر کیفیت

د قبر دوه طریقې دي :

شق : دېته وایي چې په زمکه کې ځای ژور کړل شي او بیا د ننه پکې د مړي د کېښودلو ځای جوړ کړل شي چې کله پکې مړی کېښودل شي بیا وربانديې لرلوړي تختې کېښودل شي او بیا وربانديې خاورې واړول شي .

او لحد بیا دېته وایي چې یو ځل یې مخامخ ژور کړي او بیا یې طرف ته پکې ګور جوړ کړي او مړی په هغه ګور کې کیږدي او مخې ته وروپسې د کانې تبۍ کیږدي او بیا یې د خاورو نه ډک کړي.

کوم قبر غوره دی؟

ترڅو پورې چې زمکه کلکه وي او لحد پکې کیږي نو د لحد قبر غوره دی حضرت عبد الله ابن عباس فرمایي رسول الله ﷺ فرمایي :

أَلْحِدُوا وَلا تَشُقُّوا ، فَإِنَّ اللَّحْدَ لَنَا وَالشَّقَّ لِغَيْرِنَا . [1]

[1] الترمذي، ابو الداود

ترجمة : لحد ورته جوړ کړئ شق ورته مه جوړئ بېشکه لحد زمونږ لپاره دی او شق زمونږ نه بغیر د نورو خلکو لپاره دی .

همدا حدیث په یو بل روایت باندي نقل شوی دی هلته ویل شوي دي چې و **الشق لاهل الكتاب** (شق د اهل کتابو لپاره دی) .

همدارنګه جلیل القدر صحابي حضرت سعد بن ابي وقاص چې کله بیمار وو نو یې وفرمایل : **الْحَدُوا لِي لَحْدًا ، وَانْصِبُوا عَلَيَّ اللَّبِنَ نَصْبًا ، كَمَا صُنِعَ بِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ .** [1]

ترجمة : ماته لحد جوړ کړئ او په ما پسې خښتې ودروئ لکه په رسول الله ﷺ پسې چې درول شوې وې .

حضرت انس ابن مالک فرمایي رسول الله ﷺ چې کله وفات شو نو په صحابه وو کې دوه رایې وې ځینو ویل چې لحد ورته جوړوو او ځینو ویل چې شق ورته جوړوو نو بیا ځینو د حل لپاره وویل چې پدې کې به له الله سره مشوره وکوو هغه داسې چې یو کس د شق جوړولو ماهر وو او یو کس د لحد جوړولو ماهر وو نو په دواړو پسې به کسان ور ولېږو چې هریو وختي را ورسېدو بس هغه به جوړ کړو بیا لحد واله وختي را ورسېدو او قبر یې شروع کړو لحد یې ورته جوړ کړو . [2]

همدارنګه حضرت عائشه فرمایي : کله چې رسول الله ﷺ وفات شو نو په صحابه وو کې اختلاف شو ځینو ویل چې شق ورته جوړوو او ځینو ورته ویل

---

[1] **صحيح مسلم**
[2] **ابن ماجة**

چې لحد ورته جوړوو د دوی اختلاف داسې حد ته ورسېدو چې د دوی اوازونه پورته شول بیا حضرت عمر ووېل : د رسول الله ﷺ په وړاندې خپل اوازونه مه پورته کوئ نه د هغه د ژوند په حالت کې نه د هغه د وفات په حالت کې او یا داسې نور الفاظ یې ورته ووېل نو بیا یې په شق جوړونکي او لحد جوړونکي دواړو پسې کسان په یو ځای ور ولېږل بیا لحد جوړونکی وختي را ورسېدو نو لحد یې ورته جوړ کړو او په هماغه کې رسول الله ﷺ دفن کړل شو.[1]

حضرت عبد الله بن عمر هم فرمایي :

لُحِدَ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلأَبِي بَكْرٍ وَلِعُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا .[2]

ترجمة : د رسول الله ﷺ او حضرت ابي بکر او حضرت عمر لپاره لحدونه جوړ کړل شول .

قبر به څومره ژور وي؟

قبر به دومره ژور وي چې د مینځني قد لرونکی انسان پکې ودریږي نو تر سینې پورې به یې کیږي او که ددېنه زیات یې ژور کړي نوره هم ښه خبره ده او اوږد والی به یې د مړي د اوږدوالي نه یو څه زیات وي چې هغه په اسانه سره پکې کېښودل شي او عرض (پلنوالی) به یې د عام تابوت د اوږدوالی د نیم په اندازه وي .

د قبر مسئلې

[1] ابن ماجة
[2] مصنف ابن ابي شيبة

که مړی د تابوت سره خښول کیږي نو خیر دی لکن که د وسپنې د تابوت سره یې خښوي په تابوت کې د ننه به شاوخوا ته ورسره خاوره اچوي .

په قبر کې د ننه به پخه خښته پداسې ځای نه استعمالوي چې د مړي سره ولګیږي دا مکروه ده.[1]

هغه کسان چې په قبر کې مړی ښکته کوي ښه خبره ده چې نیږدې خپلوان یې وي او ښځه به یې محرمین (محرم خلک) قبر ته ورښکته کوي او که محرم یې نه وو موجود نو که پردي سړي یې قبر ته ور ښکته کړي هم نا روا نه ده .

ترڅو پورې چې سړي وي نو ښځه به په هیڅ صورت قبر ته نه ور ښکته کیږي قبر ته د مړي ښکته کول د سړیوکار دی .

مړی به قبر ته د قبلې له لوري ور ښکته کوي یعنې د قبر نه بهر به د قبلې لوري ته کېښودل شي او له هغه ځای نه به د یو څو تکړه کسانو په وسیله قبر ته ور ښکته کړل شي .

چې کله په قبر کې کېښودل شي نو د سر او پښو نه به یې غوټې خلاصې کړي تختې به ښې سمې ورپسې کېږدي او کوښښ به کوي چې خاوره د ننه ور تویې نه شي .

د ټولو طرفونو څخه به وربانديې خاورې واړوي او څومره خاوره چې له قبر نه را ویستل شوې همدومره به وربانديې واړوي د لوړولو لپاره به اضافي خاوره وربانديې نه اړوي.

[1] عالمګیري

که د شپې یې خښوي ا و که د ورځې کراهیت پکې نشته .[1]

په قبر باندې به خاورې ښې برابرې کړي که په لاس سره وي او که په کوم شي سره وي .

که د خاورو د برابرولو نه وروسته په قبر باندې اوبه وشیندي کراهیت پکې نشته.[2]

په قبر باندې ابادي کول ، په قبر کېناستل، په قبر ور ویده کېدل په قبر باندې د پاسه ګرځېدل، په قبر باندې لیکل کول او د قبر په خوا کې قضاء حاجت کول مکروه دي.[3]

که د وخت په تېرېدلو سره قبر خراب شي او د ورکېدو وېره یې وي که بېرته خاورې پرې ورتولې کړي او یا خټه ورکړي نو مکروه نه ده .[4]

په کومه هدیره کې چې نیکان خلک ډېر دفن شوي وي هلته دفن کول غوره خبره ده .

د مړي د خښولو نه وروسته به یوه لحظه د قبر سره کیني دومره وخت تېرول مستحب دي لکه یو اوښ چې حلالیږي او دهغه غوښه تقسیم کیږي پدې وخت کې به تلاوت کوي د مړي په حق کې به دعا غواړي او بیا به ترینه روان شي.

د قبر په خوا کې درېدل او د قبر په خوا کې د الله نه د ځان لپاره او د صاحب القبر لپاره دعا غوښتل مکروه نه دي .

---

1 عالمګیري
2 عالمګیري
3 التبیین
4 التتارخانیة

ترڅو چې سخت ضرورت نه وي څو کسان به په یو قبر کې نه ښخول کیږي او که ضرورت وو نو پداسې ترتیب به کېښودل شي لکه د مانځه لپاره چې صفونه جوړیږي اول مشر نارینه بیا ماشومان بیا زنانه او د هر دوو کسانو په مینځ کې به د خاورې پوله ورکول کیږي.

هغه څوک چې د خپل ځای نه لرې په حق ورسیږي نو چې په کوم ځای کې په حق رسېدلی وي دهماغه ځای په هدېره کې یې خاورو ته سپارل مستحب دي.

مړی چې یو ځل ښخ کړل شي بېرته راویستل یې مکروه دي مګر که ښکاره شوه چې دا زمکه په زور نېول شوېده غصب شوېده نو بیا یې که وباسې مکروه نه ده .

که د چا په زمکه کې دده د اجازې نه بغیر څوک ښخ کړل شول اوس دده خوښه ده یا د د ورثه څخه وغواړي چې هغوی خپل مړی دده له زمکې څخه وباسي او که یې خوښه وه نو اجازه د ورکړي چې مړی دده په زمکه کې پاتې شي.

که په غلطي سره مړی د قبلې نه بل لوري ته کېښودل شوی وو او یا د سر طرف ته یې د مړي پښې کړې وې یا یې په قبر کې په چپ اړخ څملولی وو او خاورې وربانديې واړول شوې نو اوس یې دې بېرته نه را وباسي او که صرف د تېږو تختې وربانديې کېښودل شوې وې او خاورې وربانديې نه وې اړول شوې نو تختې به ورڅخه لرې کړې او د سنتو برابر یې دې کېږدي.

که د چا نه څه قیمتي سامان په قبر کې وغورځېدو او هغه وخت ور په یاد شو چې خاورې

وربانـدې اړول شوې وې نـو خېر دی را لـوڅ د کړل شي.[1]

پـه هدېـره کـې د مـوجوده بـوټـيـو او ونـو پـرې کـول مـکروه دي او کـه وچ وي نـو بـيـا يـې پـرې کـول او د خپـلـو ضرورتـونـو لـپـاره استعمالـول مکروه نـه دي .

کـه چېرتـه پـخـوانـی قـبـر وي پـه هغـه کـې د مـخکنـي مـړي څـه اثـر نـه وي پـاتـې هغـه خـاورې شـوی وي نـو نـوی مـړی پـکـې خښول روا دي او کـه د مخکنـي مـړي هډوکـي پـکـې پـاتـې وي نـو بـيـا پـکـې بـل مـړی خښول نـاروا دي کـه لـږ نـښې يـې پـاتـې وي نـو بـيـا د هغـه ټـولـې کـړي پـه بـل ځـای کـې د خښ کـړي او قـبـر د د نـوي مـړي لـپـاره پـاک کـړي پـروا يـې نـشتـه .

پـه خښولـو کـې قـبـر تـه بـايـد د مـړي خپـلـوان ور ښکـتـه شي تـر نـورو خلـکو غـوره دي .

د ښځې لـپـاره چې ضرورت وي نـو تـر ټـولـو نـه خـاونـد غـوره دی چې هغې تـه لاس وروړي او قـبـر تـه يـې ور ښکـتـه کـړي .

قـبـر تـه بـه څوکسـان ور ښکـتـه کـيـږي؟ هېڅ حد يـې نـشتـه نـه پـه تـاق او نـه پـه جفـت کـې چې د هرڅو کسـانـو ضرورت وو نـو ورښکـتـه د شي .

هغـه شی چې پـه اور پـاخـه شوي وي قـبـر تـه بـه نـه ورښکـتـه کـول کـيـږي لـکـه پـخـه خښتـه يـا کـودوړی او يـا داسې نـور شيـان .

تـرڅو چې سخت ضرورت نـه وي پـه قـبـر کـې بـه پـه هېڅ ځـای کـې لـرګـی نـه استـعـمـالـيـږي .

---

[1] **فتاوی قاضي خان**

د قبر زمکه او یا دېوالونه به تر خپلې وسې پورې په لاس باندې ښکلي کول کیږي او په لا س به هموار جوړیږي د هغې د فرش کولو لپاره به کانې یا بل شی نه استعمالول کیږي ترڅو د هغه فرش ورته ښکلی کړي لکه سنګ مرمر یا دېته ورته بل شی بلکه یوازې خاوره به هلته پریږدي چې مړی وربانډې کېښودل شي.

کله چې مړی قبر ته ور ښکته کول کیږي دا دعاء ویل سنت دي :

بسم الله وعلی سُنة رسول الله .[1]

د مړي تر سر لاندې لږ څه خاوره کېښودل علماوو مستحب ګڼلي دي همدارنګه د کفن غوټې یې خلاصول او پدې وخت کې ورته له الله نه د ټولو وروسته مرحلو د اساني غوښتل او نورې دعا ګانې کول مستحب دي .

ښځه چې کله قبر ته ور ښکته کول کیږي نو د ټولو فقهاوو په اتفاق قبر پټول مستحب دي داسې څادر او یا بله پرده څه شی به پرې ونیسي چې له بهر نه خلکو ته نه ښکاره کیږي که چېرته احیاناً له کفن څخه د مړي جسد را ښکاره شي چې ډېر خلک یې ونه ویني .

په قبر باندې به یوازې هغه خاورې بېرته ور اړوي چې له قبر نه را ویستل شوې وي او تر هغې به زیاته خاوره پرې نه ور اچوي .

په قبر باندې اوبه شیندل او بوټي پرې کېښودل مستحب دي او دا اوبه شیندل پرې تر یوې ورځې نه زیات هم روا دي خو ګلونه وربانډې کېښودل

[1] رواه ابو داود

بنګړې پرې ور ماتول او نور شيان اچول وربانديې نشته .

که له چا سره په کور کې د مړي د خښولو لپاره ځای هم وي بيا هم غوره داده چې مړی په هديره کې خښ کړل شي .

د جومات په ساحه او په جومات کې يې خښول ناروا دي .

د شهيد په برخه کې هم دا خبره تېره شوه چې د شهيد په حق کې غوره خبره داده چې په هغه ځای کې دفن کړل شي چېرته چې شهيد شوی وي .

ترڅو چې ممکنه وي او نقل کول يې اسان وي نو د مسلمان خښول د کفارو په هديره کې نه دي روا مګر که نقل کول يې سخت وو نو بيا د خښ کړي لکن د دوی په مقبره کې د نه خښوي بلکه چېرته بېل د ورته څه ځای وګوري .

هغه کافره ښځه چې خاوند يې مسلمان وي او له مسلمان څخه حامله شوې وي نو د هغې په ګېډه کې جنين ماشوم مسلمان ګڼل کيږي نو د هغې په حق کې هم غوره خبره داده چې د کفارو له هديرې نه د بېله خښه کړله شي .

هغه خلط مړي چې مسلمانان او کفار پکې وي نو هغه به د مسلمانانو په هديره کې هم نه خښول کيږي او دکفارو په هديره کې به هم نه خښول کيږي بلکه بېل څه ځای به ورته ګوري هلته به يې خښ کړي .

کافر ته به اجازه نه ورکول کيږي چې د مسلمانانو په هديره کې خښ کړل شي لکن که ذمي مړ شو نو د هغه د ذمې د حق د پوره کولو په خاطر به د مسلمانانو په هديره کې خښ کړل شي

لکن هغه شرعي احترام به نه ورکول کيږي کوم چې يو مسلمان مړي ته ورکول کيږي .

هغه مړی چې ښکاره نه وي چې مسلمان که کافر دی نو په کوم ځای کې چې مړ شوی وي د هغه ځای د اکثريت حکم به پرې وکول شي که مسلمانان اکثر وو نو مسلمان به وګڼل شي او که کافر زيات وو نو کافر به وګڼل شي او د کفارو په هديره کې به ښخ کړل شي .

که د مړي اجزاء پيدا کړل شي نو د هغې ښخول هم داسې ضروري دي لکه د پوره مړي چې ضروري دي .

هغه ضائع شوی ماشوم چې د بدن اجزاء يې ښکاره وي هغه به هم سنت مطابق او د اسلامي احترام سره دفن کړي .

که مړي وصيت کړی وو چې دی د په کومه خاصه هديره کې ښخ کړل شي نو که پدې وصيت کې څه ناروا خبره نه وه نو دده په وصيت د عمل وکول شي او په هماغه هديره کې د ښخ کړل شي چې ده يې وصيت کړی وو او که کوم ناروا پکې وو او يا څه مشکل وو پکې نو بيا د په هغه هديره کې ښخ کړل شي چې کومه مسلمانانو ته اسانه وه .

د قبرونو احترام کول سنت دي

په قبرونو باندې ګرځېدل او په قبرونو د پاسه ختل حرام دي او د قبرونو په مينځ کې چې په قبرونو نه خيږي هم ترڅو چې ضرورت نه وي له څپليو سره تلل مکروه دي .

قبر ته تکيه کول او دمه جوړول هم مکروه دي په قبر باندې ور څملاستل هم مکروه دي او له قبر سره نېږدې او يا قبر ته متيازې ورکول هم ناروا دي .

په قبر باندې کېناستل هم ناروا دي رسول الله ﷺ ورڅخه منع کړېده رسول الله ﷺ فرمايي :

لأَنْ يَجْلِسَ أَحَدُكُمْ عَلَى جَمْرَةٍ فَتُحْرِقَ ثِيَابَهُ، فَتَخْلُصَ إِلَى جِلْدِهِ، خَيْرٌ لَهُ مِنْ أنْ يَجْلِسَ عَلَى قَبْرٍ. [1]

ترجمة : دا چې لتاسې نه يو کس په اور باندې کيني او جامې يې وسوزيږي بيا هغه اور دده څرمن ته ورسيږي دا دده لپاره لدې څخه غوره ده چې په قبر باندې کيني .

په مقبره کې د دنيا خبرې کول مکروه دي او د قبرونو په مينځ کې اواز پورته کول او خندا ګانې کول هم مکروه دي .

د حفاظت لپاره تر هديره دېوال تاوول نه دي مکروه خو دا دېوال به دومره نه لوړوي چې په لاره تېرېدونکي کس ته قبرونه نه ښکاره کيږي او که ضرورت وي نو يو څه د ديوال پورته کړي بيا د ورباندې اغزي يا بل داسې شی ولګوي چې د خلکو سترګې نه بندوي او هلته د حيواناتو د ورتلو مخه ونيول شي .

د هديرې لپاره داسې ځای انتخاب کول مستحب دي چې له ښار نه وتلی وي او د ژورولو لپاره اسان وي او ټوله ساحه يې داسې وي چې انسان وغواړي ژورولی يې شي .

که ضرورت وي نو په هديره باندې پهره دار درول هم ناروا نه دي .

د قبر را لوځول

---

[1] رواه مسلم

ترخو چې سخت ضرورت نه وي نو د قبر بېرته را كينيستل او را لوځول نه دي روا .

لكن په لاندې صورتونو كې يې لوځول ضروري او واجب دي :

كله چې مړى د غسل نه بغير خښ كړل شوى وي .

مړي ته كفن نه وي وركړل شوى او خښ كړل شوى وي .

مسلمان د كفارو په هديره كې خښ كړل شوي وي .

مړى د قبلې نه بل طرف ته خښ كړل شوى وي پدې اړه يوه رايه مخكې تېره شوه او ځينې علماء فرمايي خو دا په هغه صورتونو كې چې ډېر وخت نه وي تېر او ددې يقين وي چې مړى به اوس خراب شوى نه وي او كه دومره وخت تېر شوى وي چې ددې يقين وي چې مړى به اوس متغير شوى او خراب شوى وي بيا به يې نه را لوځوي .

او كه كافر د مسلمانانو په هديره كې خښ كړل شوى وو نو هغه به په هر صورت را لوځول كيږي او لدې ځاى نه به وړل كيږي بل چېرته به خښول كيږي ځكه چې د خرابېدو نه وروسته يې نه رالوځوو دا مونږ د مسلمان مړي يو ډول احترام كوو او د كافر لپاره فقهاء دا احترام نه مني .

كه كوم مړى په مسجد كې دفن كړل شو نو هغه به ويستل كيږي اگر كه ددې يقين وي چې اوس به خراب شوى وي .

كه د مړي د خښولو په وخت كې په قبر كې څه قيمتي شى وغورځېدل او وروسته خلكو ته ور په

یاد شول چې هغه په قبر کې پاتې شول نو قبر د پسې را لوښ کړي .

که کوم مړی د مانځه نه بغیر خښ کړل شوی وو نو د را ویستلو ضرورت یې نشته په قبر یې هم مونځ کېدلی شي .

همدارنګه مړی چې یو ځل خښ کړل شي نو بیا یې بل ځای ته نقل کول ترڅو چې ضرورت نه وي نو نه دي روا او چې ضرورت شي لکه په هغه ځای باندې اوبه راشي ، یا دا زمکه د بل چا وي ، یا د کفارو په مقبره کې په غلطي سره خښ کړل شوي وي او داسې نور نو بیا روا ده چې وویستل شي او په بل ځای کې دفن کړل شي .

ډېر کسان په یو قبر کې خښول

که چېرته حالات برابر نه وو او ډېر مړي شوي وو او هر یو ته قبر ویستل اسان نه وو نو اجتماعي قبر به ورته جوړ کړي او متعدد کسان به پکې خښ کړي او په دوی کې چې څوک ډېر نیک وو ، ډېر په اسلام او قرآن پوه وو او غوره کس وو هغه به تر نورو قبلې ته ور مخې ته کړي او په همدې ترتیب به ټول کیږدي او ترڅو چې ممکنه وي نو د مسلمان او کافر به نر او ښځه به په یو ځای کې نه سره خښوي او که چېرته ډېر سخت ضرورت وو نو بیا به د قبلې لوري ته سړی کیږدي او بیا به په مینځ کې څه خاورې واچوي او بیا به ور پسې ښځه کیږدي په یو قبر کې د متعددو کسانو د خښولو په اړه د حضرت عبد الله بن جابر حدیث دی چې د اُحد د شهیدانو د خښولو د وخت واقعه بیانوي اوفرمایي : **كَانَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم يَجْمَعُ بَيْنَ الرَّجُلَيْنِ مِنْ قَتْلَى أُحُدٍ فِي ثَوْبٍ وَاحِدٍ، ثُمَّ يَقُولُ» :أَيُّهُمْ أَكْثَرُ أَخْذاً**

لِلْقُرْآنِ .«فَإِذَا أُشِيرَ لَهُ إِلَى أَحَدِهِمَا قَدَّمَهُ فِي اللَّحْدِ، وَقَالَ» :أَنَا شَهِيدٌ عَلَى هَؤُلاَءِ يَوْمَ القِيَامَةِ .«وَأَمَرَ بِدَفْنِهِمْ فِي دِمَائِهِمْ، وَلَمْ يُغَسَّلُوا . [1]

ترجمة : رسول الله ﷺ به دوه دوه كسان د احد له شهيدانو سره يو ځاى كول په يوه جامه كې او بيا به يې ويل د چا قرآن ډېر زده دى؟ او چې كوم يو به ورته ياد كړل شو نو هغه به يې مخكې كړو او بيا يې فرمايل : زه د قيامت په ورځ پدې ټولو باندې ګواه يم او رسول الله ﷺ امر وكولو چې دا شهيدان د د دوى له وينو سره دفن كړل شي غسل د ورنه كړل شي .

قبر به له زمكې نه لږ پورته كوي

لكه چې رواج دى چې قبرونه له زمكې نه ډېر زيات پورته كيږي او يا ورباندې ابادي كيږي يا وربادنې د سيمټو كارونه كيږي او يا وربادنې نورې قيمتي تيږې لګول كيږي همدارنګه د قبر رنګول ، ګلونه پرې غوړول ، چراغونه پرې بلول ، ليكل وربادنې كول ، مونځ ورته كول ، ګرد ترينه تاوېدل (طواف ترينه كول) دا ټول ناروا دي او سنت طريقه د قبر د زمكې نه صرف دومره پورته كول دي چې په زمكه باندې ښكاره شي تقريباً يوه لوېشت حضرت جابر بن عبد الله فرمايي : أن النبي صلى الله عليه وسلم ألحد ونصب عليه اللبن نصبا ورفع قبره من الأرض نحوا من شبر . [2]

ترجمة : رسول الله ﷺ ته لحد قبر جوړ كړل شو او په هغه باندې خښتې ودرول شوې ولاړې او قبر يې

---

[1] صحيح البخاري
[2] رواه ابن حبان في صحيحه

د زمکې نه د یوې لوېشتې په اندازه باندې پورته کړل شو .

همدارنګه حضرت جابر فرمایي :

نَهَى رَسُولُ أَنْ يُجَصَّصَ الْقَبْرُ، وَأَنْ يُقْعَدَ عَلَيْهِ، وَأَنْ يُبْنَى عَلَيْهِ . [1]

ترجمة : رسو ل الله ﷺ لدې نه منع کړېده چې قبر ګچ کړل شي او یا په قبر باندې څوک کیني او یا وربانديې ابادي وکول شي .

په رسول الله ﷺ هم چې کوم قبر جوړ کړل شوی وو د یوې لوېشتې په اندازه باندې له زمکې نه لوړ وو حضرت صالح بن اخضر فرمایي : ما د رسول الله ﷺ قبر ولیدو چې د یوې لویشتې او یا دېته ورته اندازه باندې له زمکې نه لوړ وو . [2]

په قبر باندې نښه کول

که څوک په هدیره کې د خپل دوست او یا خپلوان قبر په نښه کول غواړي نو روا ده ددې لپاره چې دا قبر له ده څخه ورک نشي او که دده له اهل نه بل څوک وفات شي نو لده سره به یې نېږدې ښخ کړي او یا د بل مطلب لپاره .

حضرت عثمان بن مظعون له هغه غوره صحابه وو څخه وو چې د ۱۳ کسانو مسلمانانو څخه وروسته په اسلام مشرف شوی وو د حبشې هجرت یې هم کړی وو او دا مبارک هغه کس وو چې په جاهلیت کې یې هم نه شراب څښل او نه یې خوښول او ویل به یې زه داسې شی نه څښم چې لما څخه کم عقل جوړ کړي

---

[1] رواه مسلم
[2] مراسیل ابي داود

په بدر کې هم شريک شوی وو او په ميړانه جنګېدلی وو او دا مبارک هغه اول مهاجر دی چې په مدينه منوره کې وفات شوی دی د هجرت په دريم کال په شعبان کې وفات شو او اول صحابي دی چې د مدينې منورې په هديره البقيع کې خاورو ته سپارل شوی دی .

حضرت انس بن مالک فرمايي : کله چې حضرت عثمان بن مظعون دفن کړل شو رسول الله ﷺ يوه لويه تيږه را واخيسته او د قبر سره يې ورته کېښوده ترڅو پدې باندې دده قبر معلوم شي او دا دده د قبر لپاره يوه نښه شي .[1]

حضرت المطلب بن عبد الله فرمايي : **لَمَّا دَفَنَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- عُثْمَانَ بنَ مَظْعُوْنٍ، قَالَ لِرَجُلٍ: هَلُمَّ تِلْكَ الصَّخْرَةَ، فَاجْعَلْهَا عِنْدَ قَبْرِ أَخِي، أَعْرِفْهُ بِهَا، أَدْفُنُ إِلَيْهِ مَنْ دَفَنْتُ مِنْ أَهْلِي فَقَامَ الرَّجُلُ، فَلَمْ يُطِقْهَا، فَقَالَ - يَعْنِي الَّذِي حَدَّثَهُ فَلَكَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَى بَيَاضِ سَاعِدَيْ رَسُوْلِ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- حِيْنَ احْتَمَلَهَا، حَتَّى وَضَعَهَا عِنْدَ قَبْرِهِ.**[2]

ترجمة : کله چې رسول الله ﷺ عثمان بن مظعون دفن کړو يو سړي ته يې وويل : ورشه هغه تيږه ماته راوړه زه ددې ورور قبر مې وربانديې په نښه کوم بيا چې زما له اهل نه بل څوک وفات شي هغه به دلته ورسره ښخوم هغه سړی ور پاڅېدو خو وس يې پرې ونه رسېدو دی وايي لکه زه چې اوس د رسول الله ﷺ مبارکو سپينو څنګلو ته ګورم (چې هغه تر لاس نه خپله جامه ورته پورته کړه) او هغه تيږه يې له هغه کس سره په شريکه راوړه او د قبر سره يې ورته کېښوده .

[1] **ابن ماجة**
[2] **ابو داود**

په نېږدې مقبره (هديره کې خښول)

ترڅو پورې چې کېداى شي په نېږدې مقبره کې خښول مستحب دي او څو پورې چې کېدلى شي د مړي له يو ځاى نه بل ځاى ته وړل غوره خبره نه ده لکن که په علاقه کې لږ لرې بله غوره هديره وه چې هلته ډېر نيکان خلک دفن شوي وو او يا لويه وه خلک ورته دعاء ته ډېر ورتلل نو که له خپلې نېږدې هديرې نه هلته لږ لرې يوړل شي نو خير دى .

د قبرونو زيارت

د قبرونو د زيارت په اړه زمونږ علماء کرام فرمايي :

وَلَا بَأْسَ بِزِيَارَةِ الْقُبُورِ وَالدُّعَاءِ لِلْأَمْوَاتِ إنْ كَانُوا مُؤْمِنِينَ مِنْ غَيْرِ وَطْءِ الْقُبُورِ لِقَوْلِهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ { إنِّي كُنْت نَهَيْتُكُمْ عَنْ زِيَارَةِ الْقُبُورِ ، أَلَا فَزُورُوهَا وَلِعَمَلِ الْأُمَّةِ مِنْ لَدُنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إلَى يَوْمِنَا هَذَا وَصَرَّحَ فِي الْمُجْتَبَى بِأَنَّهَا - زيارة القبور للنساء مَنْدُوبَةٌ وَقِيلَ تَحْرُمُ وَالْأَصَحُّ أَنَّ الرُّخْصَةَ ثَابِتَةٌ لَهُمَا { وَكَانَ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُعَلِّمُ السَّلَامَ عَلَى الْمَوْتَى السَّلَامُ عَلَيْكُمْ أَيُّهَا الدَّارُ مِنْ الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُسْلِمِينَ وَإِنَّا - إنْ شَاءَ اللَّهُ - بِكُمْ لَاحِقُونَ أَنْتُمْ لَنَا فَرَطٌ وَنَحْنُ لَكُمْ تَبَعٌ فَنَسْأَلُ اللَّهَ الْعَافِيَةَ.[1]

ترجمة : د قبرونو په زيارت کولو څه پروا نشته او که هغه مړي مسلمانان وي هغوى ته په دعاء کولو هم څه پروا نشته خو چې د قبرونو زيارت پداسې ډول وي چې په قبرونو باندې ختل پکې نه وي لکه رسول الله ﷺ چې (د قبرونو د زيارت په اړه) فرمايي :ما تاسې مخکې د

[1] البحر الرائق شرح كنز الدقائق 382/5– 383

قبرونو له زيارت څخه منع کړي وئ نو زيارت يې کوئ او بل د رسول الله ﷺ نه تر اوسه پورې امت پدې باندې عمل کړی دی (او چا اهل علم وربانديې څه ډول انکار هم نه دی کړی) او په المجتبی کې پدې باندې تصريح شوې چې د ښځې لپاره هم مستحب ده چې هديرې ته لاړه شي او دا هم ويل شوي چې د ښځې لپاره هديرې ته تلل حرام دي خو صحيح خبره داده چې د تللو اجازه نر او ښځې دواړو ته شته او رسول الله ﷺ به صحابه وو ته په مړيو باندې د سلام اچولو طريقه ور ښودله ورته ويل به يې چې داسې وواياست : په تاسې د سلام وي ای ځايه د مؤمنانو او مسلمانانو مونږ هم پتاسې پسې پيوست کېدونکي يو (وفات کيدونکي يو) تاسې زمونږ نه مخکې تللي ياست او مونږ پتاسې پسې يو د الله نه د عفوې سوال کوو .

د ښځې لپاره د قبر زيارت کول

لکه مخکې چې تېر شول که په شرعي توګه باندې ښځې د کوم قبر زيارت ته ځي نو ناروا نه ده په اضافي تفصيل سره وايي :

قَالَ الرَّمْلِيُّ أَمَّا النِّسَاءُ إذَا أَرَدْنَ زِيَارَةَ الْقُبُورِ إنْ كَانَ ذَلِكَ لِتَجْدِيدِ الْحُزْنِ وَالْبُكَاءِ وَالنَّدْبِ عَلَى مَا جَرَتْ بِهِ عَادَتُهُنَّ فَلَا تَجُوزُ لَهُنَّ الزِّيَارَةُ ، وَعَلَيْهِ حُمِلَ الْحَدِيثُ لَعَنَ اللَّهُ زَائِرَاتِ الْقُبُورِ ، وَإِنْ كَانَ لِلِاعْتِبَارِ وَالتَّرَحُّمِ وَالتَّبَرُّكِ بِزِيَارَةِ قُبُورِ الصَّالِحِينَ فَلَا بَأْسَ إذَا كُنَّ عَجَائِزَ وَيُكْرَهُ إذَا كُنَّ شَوَابَّ كَحُضُورِ الْجَمَاعَةِ فِي الْمَسَاجِدِ وقالوا أيضا أَمَّا عَلَى الْأَصَحِّ مِنْ مَذْهَبِنَا وَهُوَ قَوْلُ الْكَرْخِيِّ وَغَيْرِهِ مِنْ أَنَّ الرُّخْصَةَ فِي زِيَارَةِ الْقُبُورِ ثَابِتَةٌ لِلرِّجَالِ وَالنِّسَاءِ جَمِيعًا فَلَا إشْكَالَ .[1]

[1] **رد المحتار**

ترجمة : رملي فرمايي كه چېرته ښځې غواړي چې د قبرونو زيارت ته لاړې شي كه هغه ددې لپاره وي چې ځان ته غم ور تازه كړي او په قبر باندې وژاړي او هلته فرياد وكوي لكه دا چې د دوی عادت دی نو بيا د دوی لپاره د قبرونو زيارت نه دی روا او بيا هغه حديث پرې حمل كيږي چې رسول الله ﷺ فرمايي الله په هغه ښځو باندې لعنت وايي چې د قبرونو زيارتونو ته ځي او كه چېرته د عبرت اخيستلو د پاره وي (چې انسان قبر ويني نو ور په ياد شي چې دلته پراته خلك يو وخت ټول د زمكې په سر ګرځېدل لكه زما په شان تر خاورو لاندې وم) او يا د صالحينو د قبرونو زيارت د تبرك لپاره كوي نو بيا پروواه نشته خو چې زړې ښځې وي (نو دا اجازه ورته شته) او د ځوانانو ښځو ورتلل داسې مكروه دي لكه جومات ته چې د دوی تلل مكروه دي او همدارنګه علماوو فرمايلي دي زمونږ د صحيح مذهب له مخې دا د امام كرخي او نورو علماوو وينا هم ده چې قبرونو ته د زيارت لپاره د تللو اجازه د سړيو او ښځو دواړو لپاره ثابته ده نو هېڅ اشكال پكې نشته .

سره ددې چې ځينې علماء ښځو ته قبرونو ته د تلو اجازه نه وركوي دليل به يې راشي لكن ځينې علماء بيا وايي چې ښځې ته روا دي چې قبرونو ته لاړې شي لكه لږ وړاندې چې تېر شول همدارنګه دوی لاندې دلائل هم وايي .

الف : كله چې حكم شوی د ی چې تاسې د قبرونو زيارت ته لاړ شئ هغه حكم عام دی نارينه او ښځو دواړو ته دی رسول الله ﷺ فرمايلي دي **ألاَ فزُورُوها** (خبردار زيارت يې كوئ) او د نر او ښځې فرق يې پكې نه دی كړی.

ب : د کوم حکمت له مخې چې سړیو ته حکم شوی دی چې دوی د قبرونو زیارت ته لاړ شي چې مرګ ور په زړه کېدل او پند اخیستل دي د هغه حکمت له مخې باید ښځې هم لاړې شي د هغوی هم دیته ضرورت دی چې باید مرګ ور په زړه شي او پند واخلي لکه رسول الله ﷺ چې فرمایلي دي : **فإنها تُذكِّركم الآخرة** (بېشکه دا د قبرونو زیارت تاسې ته آخرت در په زړه کوي) .

ج : حضرت عائشه فرمايي ما رسول الله ﷺ ته وویل : زه چې د قبر زیارت ته ځم نو هلته به څنګه وایم؟ رسول الله ﷺ راته وویل : **قولي: السلام على أهل الديار من المؤمنين والمسلمين، ويَرحم الله المُستقدمين منَّا والمُستأخرين، وإنَّا - إن شاء الله - بكم للاحقون.** [1]

ترجمة : داسې وایه سلام دي وي په خاوندانو ددې ځایونو باندې چې مؤمنان او مسلمانان دي او الله دې په هغه کسانو رحم وکوي چې له موږ نه مخکې تللي او یا له موږ نه وروسته به راځي او موږ هم ان شاء الله په تاسې پسې پیوست کېدونکي یو .

د : رسول الله ﷺ داسې یوه هستي وه چې څوک به یې هم د شریعت خلاف ولیدل نو هغه ته به یې په سمه توګه نصیحت کاوه او په هیڅ ناروا کار یې سترګې نه پټولې خو هغه مبارک ﷺ په هدیره کې ښځه ولیده چې ژړل یې هغې ته یې یوازې په صبر باندې نصیحت وکولو او دا یې ورته ونه ویل چې ته هدیرې ته ولې راغلې یې حضرت انس فرمايي : **مرَّ النبي - صلَّى الله عليه وسلَّم - بامرأة تبكي عند قبرٍ، فقال:**

---

[1] **رواه مسلم**

(اتَّقي اللَّه واصبري)، قالت: إليك عني، فإنك لَم تُصَب بمصيبتي - ولَم تَعرفْه - فقيل لها: إنه النبي - صلَّى الله عليه وسلَّم - فأتَت النبي - صلَّى الله عليه وسلَّم - فلم تَجد عنده بوَّابين، فقالت: لَم أعْرِفك! فقال: إنما الصبر عند الصدمة الأولى.

ترجمة : رسول الله ﷺ په هديره كې د يوې ښځې په خوا كې تېرېدلو چې د يوه قبر په خوا كې يې ژړل رسول الله ﷺ ورته وويل : د الله نه وډاره شه او صبر وكوه هغې ورته وويل : ما پرېږده كوم مصيبت چې ماته رسېدلى دى هغه تاته نه دى رسېدلى دې رسول الله ﷺ نه پېژندلو چا ورته وويل : دا كس چې تا ورته خبره وكوله رسول الله ﷺ وو هغه راغله په رسول الله ﷺ پسې او د رسول الله ﷺ سره پهره داران نه وو ورته يې وويل : (د عذر په ډول) ما ته ونه پېژندلې رسول الله ﷺ ورته وويل : صبر د مصيبت په اول وخت كې وي .

هــ : ام المؤمنين حضرت عائشه چې خپل تول ژوند يې سل په سلو كې د شريعت برابر وو هغه هم هديرې ته تله حضرت عبد الله بن ابي مليكة يې قصه كوي او فرمايي : أنَّ عائشة أقبَلت ذات يوم من المقابر، فقلتُ لها: يا أمَّ المؤمنين، من أين أقبَلتِ؟ قالت: من قبْر عبدالرحمن بن أبي بكر، فقلتُ لها: أليس كان رسول اللَّه - صلَّى الله عليه وسلَّم - نَهى عن زيارة القبور؟ قالت: نعم، ثم أمَر بزيارتها. [1]

ترجمة : بېشكه عائشه يوه ورځ د هديرې له خوا را روانه وه ما ورته وويل: ام المؤمنين له كومه ځايه راغلې؟ ويل د عبدالرحمن بن ابي

[1] رواه ابن ماجة

بکر (ددې مبارکې وروړ) قبر نه ما ورته وویل : ولې رسول الله ﷺ د قبرونو د زیارت څخه منع نه وه کړې؟ دې مبارکې وفرمایل هو منع یې کړې وه بیا یې په زیارت باندې امر وکولو .

لدې خبرو سره د حضرت ابي هریره حدیث ټکر دی چې په هغه کې رسول الله ﷺ فرمایلي **دي لَعَن اللَّه زوَّارات القبور** .[1]

ترجمة : الله په هغه ښځو لعنت وایي چې هغوی د قبر ډیرې زیارت کونکې وي .

لکن علماء وایي چې دا په هغه صورت کې چې ښځې هلته ژاړي او فریادونه کوي او یا په حدث کې زوارات د مبالغې لفظ راغلی الله په هغه ښځو لعنت وایي چې هغوی ډیرې ځي او بیا بیا له کور نه راوزي چې هدیرې ته ځي.

ځکه خو امام قرطبي هم فرمایي :

هذا اللعن إنما هو للمُكثرات من الزيارة؛ لِما تَقتضيه الصيغة من المبالغة .[2]

ترجمة : دا لعنت چې د حضرت ابي هریره په حدیث کې دی د هغه ښځو لپاره دی چې هغوی ډیرې ځي ځکه د مبالغې صیغه یاده کړل شویده .

د مشرک د قبر زیارت

---

[1] **رواه الترمذي و ابن ماجة**
[2] **فتح الباري**

جمهور علماء پدې نظر دي كه څوک د كوم مشرک قبر ته ورځي هم روا دي لكن د هغه لپاره زمونږ په شريعت كې دعاء نشته او رسول الله ﷺ چې كله د قبرونو د زيارت اجازه كړېده په هغه كې يې تخصيص نه دی كړی نو كه انسان د نارينه قبر ته ورځي او كه د زنانه قبر ته ورځي او كه د مسلمان او مشرک قبر ته ورځي ټول صورتونه يې روا دي امام ابن حجر عسقلاني په فتح الباري كې وربانډې تصريح كړېده او دا يې د ځينې اهل العلم نظريه ګڼلې ده .

او امام نووي خو پدې اړه فرمايي :

وبالجواز قطَع الجمهور، وقال صاحب "الحاوي": لا تَجوز زيارة قبر الكافر، وهو غلطٌ . [1]

ترجمة : د مشرک قبر ته د ورتلو په جواز باندې جمهورو فيصله كړېده او د الحاوي مصنف وايي د كافر قبر ته ورتلل نه دي روا او دا قول غلط دی .

امام مرداوي لوی عالم دی هغه فرمايي : **يجوز زيارة قبر الكافر؛ قاله المجد وغيره، وقال الشيخ تقي الدين: يجوز زيارته للاعتبار .** [2]

ترجمة : د كافر قبر ته ورتلل روا دي امام مجد او نورو ويلي دي او شيخ تقی الدين فرمايي د عبرت لپاره ورتلل روا دي .

---

[1] **نقلا من فتح الباري**
[2] **كتاب الانصاف للمرداوي**

په يو بل كتاب مغنى المحتاج كې ليكلي دي : **ولا بأسَ باتِّباع المسلم جنازةَ قريبه الكافر، ويجوز للمسلم زيارة قريبه الكافر.** [1]

ترجمة : څه پروا نشته كه مسلمان د كوم خپلوان كافر له جنازې سره ځي او مسلمان ته روا دي چې د خپلوان كافر قبر ته ورشي .

خو لكه مخكې چې تېر شول كه د كافر قبر ته څوك ورځي صرف ددې پند لپاره چې انسان پدې اړه فكر وكوي چې دا په زمكه څومره د كبر سره ګرځېدو څومره يې ددنيا مصنوعي مزې وكولې او څومره خپل ژوند ته خوشحال وو اوس دادی تر تورو خاورو لاندې پروت دی نه يې دنيا په ګټه شوه او نه يې خپلوان په كار شول او نه يې اوس دوستان شته او نه ورسره هغه څوك څه كولی شي چې چا د كفر په لاره سيده كړی وو او دی چې د چا لپاره كافر وو اوس هغه هم ورته نه راځي او نه ورسره څه كولی شي نو لدې تصور نه به انسان پند واخلي نه به ورته دعاء كوي او نه به وربانديې سلام اچوي .

د قبرونو زيارت په درى قسمه دى

علماء چې د قبرونو په زيارت باندې خبرې كوي نو د قبر زيارت په دريو قسمونو باندې تقسيم كوي

لمړى قسم شرعي زيارت

[1] مغنى المحتاج

دا هغه ډول زيارت دی چې رسول الله ﷺ پخپله هم کړی دی او امر يې هم وربانديې کړی دی رسول الله ﷺ فرمايل :

إنِّي كُنْت نَهَيْتُكُمْ عَنْ زِيَارَةِ الْقُبُورِ ، أَلَا فَزُورُوهَا فإنها تذكر بالآخرة[1] .

ترجمة : ما تاسې د قبرونو له زيارت څخه منع کړي وئ نو زيارت يې کوئ دا انسان ته آخرت ور په زړه کوي.

او حضرت عبد الله بن عمر به هم د رسول الله ﷺ د قبر زيارت ته راتلو او ويل به يې : **السلام عليك يا رسول الله، السلام عليك يا أبا بكر، السلام عليك يا أبي** او بيا به بېرته ترينه تلو همدارنګه صحابه کرام به هم راتلل د رسول الله ﷺ د قبر زيارت به يې کولو او پدې زيارت کې مقصد دری کارونه دي :

الف : د مرګ او آخرت په ياد کېدل ترڅو انسان کوښښ وکوي چې د آخرت لپاره څه نېک اعمال وکوي او د آخرت لپاره ځان تيار کړي او پدې يې يو ځل بيا ذهن تازه شي چې لکه دلته په قبرونو کې پراته کسان داسې به زه هم مړ کېږم .

ب : مړي ته دعاء کول

په قبر کې پروت مړی د ژونديو خلکو دعاء ته اړتيا لري نو کله چې انسان هلته ورشي نو هغه ورته بيا په ياد شي نو هغه ته دعاء وکوي که لږ تر لږه لږ دعاء هم وي دوه جُملې هم وي دا د هغه لپاره په کار کيږي صحابه کرام به چې کله

[1] **رواه مسلم**

د رسول الله ﷺ د قبر زيارت ته راغلل نو دلته به يې درود ابراهمي (هغه درود چې مونږ يې په مانځه کې وايو) ووېل او د الله نه به يې وغوښتل چې رسو ل الله ﷺ ته د د صحابه وو له لوري او د ټول امت له لوري د خير جزاء ورکړي او کوم کسان چې مړه دي هغوی ته دعاء ډېره ضروري ده مړی ورته ډېر اړ وي رسول الله ﷺ هم په يو حديث کې دېته اشاره کړېده او فرمايلي يې دي :

إِذَا مَاتَ ابْنُ آدَمَ انْقَطَعَ عَمَلُهُ إِلا مِنْ ثَلاثٍ : مِنْ صَدَقَةٍ جَارِيَةٍ ، أَوْ عِلْمٍ يُنْتَفَعُ بِهِ ، أَوْ وَلَدٍ صَالِحٍ يَدْعُو لَه . [1]

ترجمه : کله چې انسان مړ شي له ده څخه دده عمل قطع شي مګر له دريو شيانو دده عمل نه قطع کيږي (د هغې ثواب په ده پسې له مرګ نه وروسته هم رسيږي) له صدقه جاريه نه ، له هغه علم نه چې ده پريښی وي او خلک ورڅخه فايده اخلي او يا يې داسې اولاد پريښی وي چې په ده پسې دعاء کوي .

ج : زيارت کونکي ته ثواب ورکول کيږي

د قبر زيارت او هلته د مړي په حق کې دعاء کول او د هغه لپاره د هغه د ګناهونو د بښنې او د هغه د مرتبو د لوړېدلو سوال کول د زيارت کونکي لپاره د اجر او ثواب سبب کيږي .

دوهم قسم ناروا زيارت

دا هغه ډول د قبرونو زيارت دی چې په هغه طريقه نه وي په کومه طريقه چې رسول الله ﷺ کړی

[1] **رواه مسلم**

دی او صحابه وو ته یې پرې امر کړی دی نو دا ډول د قبرونو زیارت د ګناه سبب کیږي او هیڅ ډول ثواب پکې نشته او نه پکې کوم ښه لوری شته دا هغه ډول زیارت چی د شریعت خلاف کارونه پکې وشي ، ښځې لاړې شي هلته په چیغو چیغو ژاړي ، د قبر په سر فریاد کیږي ، ښځې قبر ته له ورتلو سره د حجاب ساتنه نه کوي او په لاره باندې په ورتلو کې نور هم ډیر ګناهونه کیږي او هلته چې ورشي د قبر کاڼي ور ټکوي چې هغه را ویښ کړي او یا تر قبر را تاویږي او یا نور دېته ورته ناروا کارونه کوي نو دا کارونه هم ناروا او او ددې کارونو لپاره قبرونو ته ورتلل هم ناروا دي .

دریم قسم شرکي زیارت

دا هغه زیارت دی چې بالکل شرک پکې کیږي دا په سختي سره ناروا دی دا هغه زیارت دی چې انسان زیارت ته ددې په خاطر ورشي چې دده په ګمان دا په قبر کې پروت کس نېک انسان دی له هغه نه غواړي چې دده مشکل حل کړي ، بیمار یې جوړ کړي ، اولاد ورکړي ، واده ورکړي ، تجارت یې روان کړي ، روزي یې فراخه کړي او یا داسې نور سوالونه ورڅخه کوي حال دا چې په قبر کې پروت یو مړ انسان دی چې له خپل ځان سره او له خپل زیارت کونکي سره هیڅ ډول مرسته نشي کولی ددې عقیده لرل هم ناروا دي چې زیارت به څه کمک وکوي او له هغه نه غوښتل هم ناروا دي .

مړي د ژوندیو په زیارت خبریږي

دا چې څوک د کوم مړي د قبر زیارت ته ورشي آیا هغه پدې خبریږي او کنه او آیا هغه دا پیژني او کنه ؟

اصل خبره داده چې دا خبره ثابته ده چې څوک په قبر کې کېښودل شي نو هغه ته عذاب ورکول کیږي (پدې کتاب کې به ورباندې خبرې کوو لږ وروسته به راشي) همدارنګه ملائک ورته راځي او له هغه سره خبرې کوي له هغه څخه پوښتنه کوي او دی ورته ځوابونه وايي ددې ټولو خبرو نه ښکاره کیږي چې ده ته په قبر کې یو ډول ژوند ورکول کیږي لکن هغه ژوند داسې ژوند نه دی لکه زمونږ چې دی اوس هغه څرنګه ژوند دی؟ دا کس هلته څنګه ژوندی پاتې کیږي؟ هلته څرنګه ژوندی وي پدې مونږ نه پوهیږو او زمونږ عقلونه لدې احساس نه قاصر دي پدې اړه مونږ ټولې هغه خبرې منو کومې چې مونږ ته زمونږ رسول الله ﷺ کړې وي او په هماغه خبرو زمونږ یقین دی او چې کله زمونږ پیغمبر مونږ ته ویلي وي چې هغوی ژوندي کیږي زمونږ ورباندې یقین دی چې هغوی ژوندي کیږي اګر که هغوی مونږ ته ژوندي نه ښکاره کیږي اګر که هغوی حرکت نه کوي لکه د بدر تر غزوا وروسته چې د بدر مړي را ټول کړل شول او په یوه کوهي کې ور وغورځول شول نو رسول الله ﷺ هغوی ته هم خبرې کولې پدې اړه حدیث دی : **أنّه أمر بقتلى بدر، فألقوا في قليب، ثمّ جاء حتّى وقف عليهم وناداهم بأسمائهم: يا فلان ابن فلان، ويا فلان ابن فلان، هل وجدتم ما وعدكم ربكم حقاً، فإنّي وجدت ما وعدني ربّي حقاً، فقال له عمر رضي الله تعالى عنه: يا رسول الله، ما تخاطب من أقوام قد جيّفوا، فقال عليه الصلاة والسلام: والّذي بعثني بالحقّ، ما أنتم بأسمع لما أقول منهم، ولكنّهم لا يستطيعون جواباً .** [1]

ترجمة : رسول الله ﷺ د بدر د مړیو په اړه حکم وکولو چې په کوهي کې د واچول شي بیا راغلو ورته ودرېدو او د دوی په نومونو یې ورته اواز

---

[1] **رواه احمد**

وکولو اې فلانیه .. اې فلانیه اې فلانیه د فلاني
زویه هغه چې لتاسې سره ستاسې رب وعده کړې وه
هغه مو پیدا کړه ما خو هغه څه پیدا کړل چې
زما رب یې لما سره وعده کړې وه حضرت عمر
پدې وخت کې ورته وویل : یا رسول اللهﷺ ته هغه
قوم ته څه وایې چې هغوی مردار شوي دي رسول
الله ﷺ ورته وویل : زما د په هغه ذات قسم وي چې
زه یې په حقه را لیږلی یم زه چې څه وایم تاسې
یې تر هغوی نه ښه نه شئ آوریدلی لکن دا ده چې
هغوی ځواب نشي ورکولی.

او پدې اړه د حضرت عبد الله بن عباس یو حدیث
دی هغه فرمایي رسول الله ﷺ فرمایل : **مَا من مُسلم يمر على قبر أَخِيه كَانَ يعرفهُ فِي الدُّنْيَا فَيسلم عَلَيْهِ إِلَّا رد الله عَلَيْهِ روحه حَتَّى يرد عَلَيْهِ السَّلَام**.[1]

ترجمة : هر مسلمان چې د خپل کوم (مسلمان)
ورور په قبر تیریږي چې ده هغه په دنیا کې
پیژندلو په هغه باندې سلام واچوي الله هغه ته د
هغه روح ور وګرځوي ترڅو د سلام ځواب ووایي

نو دا حدیث پدې دلیل دی چې دا کس پیژني او
دده د سلام ځواب هم ورکوي.

او رسول الله ﷺ هم خپل امت ته داسې درس ورکړی
دی چې په مړیو باندې داسې سلام اچوئ لکه تاسې
چې هغوی ته خطاب کوئ او هغوی ستاسې خبرې آوري
او ورباندې پوهیږي او مخکې د سلام الفاظ او
طریقه تیره شوه .

[1] أخرجه الخطيب وابن عساكر وابن النجار

داسې لـه سلفـو څخه نـور روايـات هم راغلـي دي چې لـه هغې نـه مـعـلـومـيـږي چې مـړی پـدې پـوهـيـږي چې څوک دده زيـارت تـه راځـي .

او لـويـه خبـره خـو داده چې هغـه کس چې ورځـي مـونـږ هغـه تـه زيـارت کـونـکی وايـو او کـه چېرتـه هغـه دده پـه ورتـلـو نـه خبـرېـدلـی او يـا پـدې ورتـلـو کې څه فـايـده نـه وای نـو دې ورتـلـونـکي تـه بـه مـونـږ زيـارت کـونـکی نـه ويـل ځـکـه دا عربـي لـفـظ دی کـه څوک د چا ځـای تـه ورشي او هغـه کس دده پـه ورتـلـو خبـر نـشي نـو پـه عربـي کې نـه ويـل کـيـږي چې دې کس د هغـه زيـارت وکـولـو او همدارنـګـه پـه هغـوی بـانـدې سلام اچـول دي هغـه څوک چې د سلام اچـونـکي پـه سلام نـه پـوهـيـږي نـو هغـه تـه سلام اچـول يـو ډول بـې فـايـدې کـار دی لـکـن رسـول الله ﷺ چې پـه سلام بـانـدې امـر کـړی دی خـامـخـا هغـه مـړی پـدې پـوهـيـږي چې پـه ده بـانـدې سلام اچـول کـيـږي ځـکـه رسـول الله ﷺ پـه بـې فـايـدې شيـانـو کـلـه هم امـر نـه دی کـړی او همدارنـګـه پـه احـاديـثـو کې ډيـر ځـايـه راغلـي دي چې هغـه کـسـان چې لـه جـنـازې سره ولاړ شي هغـه د تـر دومـره سـاعـتـه پـورې د قـبـر سره پـاتـې شي لـکـه چې يـو اوښ حـلالـيـږي او د هغـه غـوښـه ټـوټـې کـيـږي او هغـه تـقـسـيـم کـيـږي ددې املـه چې هغـه کس چې پـه قـبـر کې کـېښـودل شي هغـه پـه دې خـلـکـو بـانـدې ډاډه وي او پـه ښه تـوګـه کـولـی شي چې هغـه مـلا ئـکـو تـه ځـواب ورکـړي چې ده تـه د پـوښـتـنـې لـپـاره راځـي .[1]

د مـړيـو ارواح خبـرې سره کـوي

دا چې خلـک مـړه شي د دوی ارواح بيـا لـه يـو بـل سره خبـرې کـوي؟ دوی لـه يـو بـل سره مـلاويـږي ؟

[1] کتاب الروح لابن قيم

کله چې انسانان مړ کیږي نو د دوی روحونه په دوه ډوله دي یو ډول هغه روحونه دي چې هغوی په نعمتونو کې وي له عذاب نه خلاص وي او په هغوی باندې تکلیف نه وي او بل ډول هغه ارواح وي چې هغوی په تکلیف کې وي او په هغوی باندې عذابونه وي.

هغه ارواح چې په هغوی باندې عذابونه وي (الله د مونږ له هغه حالت نه وساتي) هغه پداسې حالت کې نه وي چې هغوی د خبرې وکولی شي ، یا د هغوی د یو بل ملاقات وکوي او یا د هلته داسې وخت پیدا کړي چې هغوی پکې خبرې وکوي بلکه هغوی په ځان آخته وي او په تکلیف کې وي ، هغوی ته راحت نه ورځي ، د هغوی ارام نه کیږي .

او هغه ارواح چې هغوی په نعمتونو کې وي هغوی ازاد وي یو له بل سره خبرې کولی شي او چې په دنیا کې یې سره پېژندل نو ارواح یې هم سره پېژني او ثابته ده چې د رسول الله ﷺ روح مبارک په الرفیق الاعلی کې دی او قرآن کریم فیصله کړېده چې څوک اطاعت وکوي او نېک وي هغه به د نیکانو سره وي او انبیاوو سره به وي الله فرمایي : **وَمَنْ يُطِعِ اللَّهَ وَالرَّسُولَ فَأُولَئِكَ مَعَ الَّذِينَ أَنْعَمَ اللَّهُ عَلَيْهِمْ مِنَ النَّبِيِّينَ وَالصِّدِّيقِينَ وَالشُّهَدَاءِ وَالصَّالِحِينَ ۚ وَحَسُنَ أُولَئِكَ رَفِيقًا.** [1]

ترجمة : او هرڅوک چې حکم ومني د الله او د رسول (د الله) نو دغه کسان به له هغو سره وي (په جنت کې) چې انعام کړی دی الله پر دوی باندې چې انبیاء دي او صدیقان دي او شهیدان دي او

[1] **سورة النساء آية ٦٩**

صالحان دي او ښه دي دغه کسان له جهته د رفاقته (چې ښه ملګري دي) .

همدارنګه الله د شهیدانو په اړه فرمایلي دي چې هغوی د الله سره ژوندي دي او هغوی ته رزق ورکول کیږي او هغه کسان چې په دوی پسې وروسته ورځي هغوی ته خوشحالیږي الله فرمایي : **وَلاَ تَحْسَبَنَّ الَّذِينَ قُتِلُوا فِي سَبِيلِ اللهِ أَمْوَاتاً بَلْ أَحْيَاءٌ عِندَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُونَ * فَرِحِينَ بِمَا آتَاهُمُ اللهُ مِن فَضْلِهِ وَيَسْتَبْشِرُونَ بِالَّذِينَ لَمْ يَلْحَقُوا بِهِم مِّنْ خَلْفِهِمْ أَلاَّ خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلاَ هُمْ يَحْزَنُونَ** .[1]

ترجمه : او له سره ګمان مه کوئ ! (ای محمده یا ای سامعه !) پر هغو کسانو چې وژل شوي دي دوی په لاره د الله (جهاد او طاعت) کې د مړو (مړه نه دي)، بلکه ژوندي دي په نزد د رب خپل رزق ورته ورکولی شي (له جنتي ماکولاتو او مشروباتو څخه) په دې حال کې چې خوشاله دي دوی په هغه شي باندې چې ور کړي دي دوی ته الله له فضله خپله او خوشالیږی دوی (په راتلو د) هغو کسانو باندې چې لا نه دي رسیدلی دوی تر هغو پورې وروسته د دوی نه په دې شان سره چې نه وي (هیڅ قسم) ویره په دوی باندې او نه به دوی (هیچرې) غمجن کیږي (د ثواب په نقصان سره).

نو امام ابن قیم فرمایي چې دا له دریو وجهو نه پدې دلالت کوي چې دوی سره ملاقات کوي .

الف : دوی ژوندي دي او ژوندي خو ملاقات کوي .

ب : په آیت کې ښکاره شویده چې دوی هغه کسانو ته خوشحالیږي چې په دوی پسې ورځي .

[1] **سورة آل عمران آية ١٦٩ او ١٧٠**

ج : د يستبشرون لفظ په معنی کې دا دي چې دوی يو بل ته زيری ورکوي او دا خو هلته کيږي چې له يو بل سره ملاقات وکوي .

د مړيو روحونه چېرته وي؟

کله چې انسان مړشي او هغه په قبر کې دفن کړل شي اوس پوښتنه داده چې دده روح څه شو؟ هغه اوس چېرته دی؟

ددې پوښتنې د ځواب د وضاحت لپاره علماء روح په مختلفو ډولونو باندې تقسيم کوي دوی فرمايي :

ارواح په مختلفو ډولونو سره دي يو د انبياوو ارواح دي هغه په عليين کې د رب العالمين سره دي رسول الله ﷺ چې کله وفات کېدو نو د شهادت ګوته يې پورته نيولې وه او ويل يې **اللهم الرفيق الأعلى** او همدا آخره هغه کلمه وه چې رسول الله ﷺ وربانديې تلفظ کاوه او يوه ورځ چې د حضرت عبد الله بن مسعود څخه هم پوښتنه وشوه : رسو ل الله ﷺ وفات شو هغه اوس چېرته دی؟ ده مبارک ورته وفرمايل : هغه اوس په جنت کې دی .

پاتې شوه بغير د انبياوو څخه د نورو خلکو د روحونو خبره نو هغه مختلفې مرتبې لري او د دوو مرتبو په مينځ کې زيات فرق موجود وي لکه د شهيدانو ارواح په لوړه مرتبه کې دي (الله د زمونږ ارواح هم له همدې جُملې څخه کړي) د جنتي مارغانوي په شکل په جنت کې آلوزي.

ځينې تردې بيا په ښکته مرتبه کې دي لکن په نفس الامر کې هغه هم په لوړه مرتبه کې دي د

جنت په ونو کې را آویزان شوي وي او د جنت له هوا ګانو او له ښکلې فضاء نه مزه اخلي دا د ځینې خاصو نېکو بندګانو ارواح دي.

ځینې داسې ارواح دي چې په قبر کې وي لکن قبر ته د جنت تازه هوا ګانې او ښه بویونه ورته راځي او د جنت او قبر په مینځ کې هغوی ته یوه دروازه را خلاصه شوې وي دا هم د نیکانو بندګانو ارواح دي او دا هم ډېره ښکلې مرتبه ده او تر دې ښکته بیا نور ارواح دي چې په قبر کې وي او تر عذاب لاندې وي لکه په همدې کتاب کې په یو ځای کې به تاسې ولولئ چې په تنور کې تخته کړل شوي دي ، د وینو په سیند کې لامبي او داسې نور دا ګناهکاران مؤمنان دي.

ځینې یې داسې دي چې په قبر کې په سختو عذابونو کې دي او په سحر او ماښام کې دوزخ ته ور وړاندې کول کیږي لکه د فرعونیانو د ارواحو په اړه چې راغلي دي نو په دنیا کې چې د کوم انسان هرځنګه اعمال وي د هماغه مرتبو له مخې او د هماغه مرتبو مطابق ورته د قبر ژوند ورکول کیږي هغه روح چې څه نا څه او یا زیات تعلق یې له الله سره وو نو په هماغه اندازه نعمتونه ورکول کیږي او هغه روح چې په دنیا کې په شهواتو باندې آخته وو چې څومره وربان‌دې آخته وي په هماغه اندازه ورته عذابونه ورکول کیږي .

لکن یوه خبره ده چې ټول ارواح حصار کړل شوي دي او که دوی وغواړي نو بېرته دنیا ته نشي راتلی د دوی په اړه قرآني فیصله شوې ده الله فرمایي : **حَتَّى إِذَا جَاء أَحَدَهُمُ الْمَوْتُ قَالَ رَبِّ ارْجِعُونِ***

لَعَلِّي أَعْمَلُ صَالِحاً فِيمَا تَرَكْتُ كَلَّا إِنَّهَا كَلِمَةٌ هُوَ قَائِلُهَا وَمِن وَرَائِهِم بَرْزَخٌ إِلَى يَوْمِ يُبْعَثُونَ . [1]

ترجمة : تر هغه پورې کله چې راشی يو د دوی ته (اسباب د) مرگ نو وبه وائی ای ربه ځما بيرته وگرځوه ته ما (دنيا ته) ښائي چې زه عمل و کړم نېک په هغه ځيز کې چې بېرته پريښي دي ما (په دنيا کې نو فرمائی الله چې) نه دي داسې (چې ته بېرته دنيا ته وگرځېدی شې ايمان او صالح عمل ته) بېشکه دغه د رجعت خبره داسې چټي (بېکاره) خبره ده چې دی ويونکی د هغې دی او په مخ کې د دوی دی برزخ (پرده د قبر ده چې ئې نه پرېږدي رجوع ته) تر هغې ورځې پوری چې بيا ژوندي راپاڅولی کيږي .

لکن څرنگه چې دا مسئله داسې يوه مسئله ده چې زمونږ عقلونه د هغې له درک کولو څخه عاجز دي او هلته پداسې ځای کې انسان ته يو ژوند ورکول کيږي چې زمونږ عقلونه هلته د ژوند د څرنگوالي د حس کولو څخه قاصر دي ، پداسې ځای کې يو انسان ته د سترگو د نظر تر اندازې پورې ځای ورکول کيږي چې هلته انسان په تکليف مونږ ځای کړی وي او تختې مو پسې بندې کړې وي نو پداسې ځای کې دومره فراخه ځای زمونږ عقلونه نشي متصور کولی ددې امله پدې مسئله کې مختلف اقوال دي او ډيرو علماوو وربانديې بحثونه کړي دي او ډيرې نظريې پکې وړاندې کړل شوي دي لکن پدې اړه چې امام ابن قيم په الروح کتاب کې کوم تفصيل کړی دی هغه ډېر په زړه پورې دی د هغه د کتاب نه تاسې ته څه اقتباسات کوم هغه مبارک فرمايي :

[1] سورة المؤمنون آية ٩٩-١٠٠

پنځلسمه مسئله داده چې ارواح د مرګ او د قيامت په مينځ کې چېرته وي ؟

آيا په اسمان کې وي که په زمکه کې وي او که په جنت کې وي آيا په جسدونو کې د عذاب لپاره اچول کيږي او کنه دوی ته بغير له جسدونو څخه عذاب ورکول کيږي ..

پدې مسئله کې مختلفې رايې دي:

ځينې وايي :

د مؤمنانو ارواح په جنت کې وي له الله سره که هغوی شهيدان وي او که غير د شهيدانو وي ترڅو يې چې لوی ګناهونه نه وي کړي او چې کړي ئې وي هغه الله ورته بښلي وي او يا وربانديې قرض نه وي نو دا ټول ارواح جنت ته ځي دا رايه د حضرت ابي هريره او عبد الله بن عمر ده .

ځينې وايي :

دوی د جنت له ديوال سره وي لکن د جنت تازه هواګانې او نعمتونه دوی ته را رسيږي .

ځينې وايي :

روحونه په قبرونو کې وي .

امام مالک فرمايي : ماته دا را رسيدلي دي چې ارواح په جنت کې ازاد پرېښودل شوي دي چېرته يې چې خوښه وي ځي .

حضرت عبد الله بن منده او د صحابه وو او د تابعينو يوې ډلې ويلي دي چې مونږ دومره

ویلی شو چې د مؤمنانو ارواح له الله سره وي او تردې زیات څه نشو ویلی .

حضرت کعب فرمایي : د مؤمنانو ارواح په اوم اسمان کې دي په علیین کې او دکفارو ارواح په سجین کې دي تر اومه زمکه لاندې د ابلیس تر لښکر لاندې .

یوه ډله داسې هم فرمایي : چې د مؤمنانو ارواح په بیر زم زم کې وي او د کفارو ارواح بیر برهوت ته ځي .

حضرت سلمان فارسي فرمایي : د مؤمنانو ارواح په برزخ کې دي د زمکې نه چېرته چې یې خوښه شي ځي او د کفارو په سجین کې دي .

یوه ډله علماء وایي چې د مسلمانانو ارواح د حضرت آدم په ښي اړخ کې دي او دکفارو ارواح یې په چپ (کیڼ) اړخ کې دي .

او مونږ د ارواحو په اړه هغه څه وایو چې الله او د هغه نبي ﷺ فرمایلي دي او زمونږ لپاره همدا ښکاره او ښکلی دلیل دی الله مونږ ته د ارواحو د پیدائښت قصه کړیده او مونږ ته یې فرمایلي دي چې دا ټول ارواح په یو ځای پیدا شول پدې اړه فرمایي : **وَإِذْ أَخَذَ رَبُّكَ مِن بَنِي آدَمَ مِن ظُهُورِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمْ وَأَشْهَدَهُمْ عَلَى أَنفُسِهِمْ أَلَسْتَ بِرَبِّكُمْ قَالُواْ بَلَى شَهِدْنَا أَن تَقُولُواْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِنَّا كُنَّا عَنْ هَذَا غَافِلِينَ (172)** .[1]

ترجمة : او (یاد کړه اې محمده!) هغه وخت چې واخیست رب ستا له بنې آدمو څنې له شاګانو د دوی څخه اولادې د دوی او شاهدان یې کړل دوی پر

[1] **سورة الاعراف**

ځانونو خپلو باندې (او وفرمایل الله دوی ته) آیا نه یم زه رب ستاسې! وویل دوی (او اقرار ئې وکړ) هو! (ته رب زمونږ ئې په ربوبیت د الله) ګواه کړل مونږ خپل نفسونه (ددې جهته) چې و (نه) وایئ تاسې په ورځ د قیامت کې چې بېشکه مونږ وو له دغه توحیده غافلان (نا خبران) .

په بل ځای کې الله فرمایي : **وَلَقَدْ خَلَقْنَاكُمْ ثُمَّ صَوَّرْنَاكُمْ ثُمَّ قُلْنَا لِلْمَلَائِكَةِ اسْجُدُوا لِآدَمَ فَسَجَدُوا إِلَّا إِبْلِيسَ لَمْ يَكُن مِّنَ السَّاجِدِينَ (11)** .[1]

ترجمة : او خامخا په تحقیق پیدا کړ مونږ (پلار) ستاسې بیا صورت جوړ کړ مونږ د (پلار) ستاسې بیا وویل مونږ فرښتو ته چې سجده (د تحیت) وکړئ تاسې آدم ته نو سجده وکړه دوی (ټولو) مګر ابلیس ((سجده ونه کړه او)) نه ؤ دی له سجده کوونکو ځنې.

نو دا خبره صحیح ده چې الله ارواح په یو ځای ټول پیدا کړي دي او همدارنګه الله خبر ورکړی دی چې دا ارواح لښکرې دي هغه چې له یو بل سره پېژني یو له بل سره الفت کوي او هغه چې نه سره پېژني یو له بل څخه کرکه کوي او الله هغوی ټول په خپل ربوبیت باندې ګواه کړي دي هغوی مخلوق دي او صورت ورکړل شوی دی مخکې له هغه وخت چې الله ملائکو ته امر وکولو چې حضرت آدم ته سجده وکوي او مخکې لدې چې دا ارواح جسدونو ته ننوزي او په جسدونو کې واچول شي او جسدونه پدې وخت کې اوبه او خاورې وې بیا چېرته چې د الله خوښه وه هغوی یې هلته وساتل کوم ځای ته چې برزخ ویل کیږي او له همدې ځای نه یې په هغه جسدونو کې اچوي چې له مني څخه پیدا کیږي او

---

[1] سورة الاعراف

کله چې انسان مړ کیږي نو روح یې بېرته همدې برزخ ته ځي او دا همغه ځای دی چې کله رسول الله ﷺ معراج ته تللی وو هلته یې لیدلي وو چې نېکان خلک د حضرت آدم ښي اړخ ته وو او نور خلک د حضرت آدم چپ لور ته وو او هغه کسان چې ډېر نېکبخت وي چې هغوی انبیاء او شهیدان دي د هغوی ارواح جنت ته ځي .

امام ابن قیم فرمایي محمد بن نصر المروزي له حضرت اسحاق بن راهویه څخه همدا خبره ذکر کړېده چې کومه مونږ ذکر کړه او بیا یې ویلي دي چې پدې باندې د اهل العلم اجماع ده .

ابن حزم پدې ځای کې فرمایي ټول اهل الاسلام همدا وایي او همدا د الله ددې قول مطلب دی چې فرمایي : **فَأَصْحَابُ الْمَيْمَنَةِ مَا أَصْحَابُ الْمَيْمَنَةِ (8) وَأَصْحَابُ الْمَشْأَمَةِ مَا أَصْحَابُ الْمَشْأَمَةِ (9)** .[1]

ترجمة : پس یاران ملګري د ښي لاس څومره ښه دي یاران ملګري د ښي لاس . او یاران ملګري د کیڼ لاس څومره بد سپک دي یاران ملګری د کیڼ لاس .

او بیا دا ارواح همغلته وي ترڅو خپلو خپلو جسدونو ته بېرته ور وګرځي او دا دوهم ځل پیدا کېدل او ژوندي کېدل دي او هلته به له خلکو سره حساب وشي یوه ډله به جنت ته او الله د مونږ ټول وساتي یوه ډله به دوزخ ته ولېږل شي .

ابن مبارک د ابن جریج نه نقل کړي دي هغه فرمایي مونږ ته امام مجاهد وویل چې د مؤمنانو ارواح په جنت کې نه وي لکن د جنت له

---

[1] **سورة الواقعة**

مېوو خوراک کوي او د هغه تازه هوا ګاني او ښه بويونه ورته راځي .

معاوية بن صالح له سعيد بن سويد نه نقل کړي دي چې ده له ابن شهاب نه پوښتنه وکوله چې د مؤمنانو ارواح چېرته دي هغه وفرمايل : ماته را رسېدلي دي چې د شهيدانو ارواح لکه شنه مارغان داسې دي په عرش پورې ځړېدلي وي د جنت باغچو ته ځي را ځي او هره ورځ خپل رب ته پيش کيږي او سلام پرې اچوي .

ابو عمر بن عبد البر د حضرت ابن عمر د حديث په شرح کې فرمايي چې په تاسې کې څوک په حق ورسيږي نو هغه ته په سحر او بيګاه کې دده ځاى ور ښکاره کيږي که جنتي وي جنتي او که دوزخي وي دوزخي ورته ويل کيږي دا ستا ځاى دى تر هغه وخته چې الله د د قيامت په ورځ پاڅوي او دا معنى د هغه چا د خبرې ده چې فرمايي ارواح په قبرونو کې وي او پدې اړه ډېر احاديث راغلي دي او دا صحيح مذهب دى **والله اعلم** .

او ددې قول معنى داده چې په قبرونو کې وي دا معنى يې نه ده چې په قبرونو کې حصار وي او ترې وتلى نه شي (د مؤمنانو د ارواح په اړه خبره کوو) نو بيا د حضرت امام مالک خبره هم صحيح شوه چې هغه فرمايل (مخکې تېر شول) چې ارواح خلاص وي چېرته چې وغواړي ځي .

امام مجاهد فرمايي کله چې مړى خښ کړل شي نو تر اوو ورځو پورې روح په قبر کې له مړي سره وي نه ترې جدا کيږي .

او د غير مسلمو يوه ډله چې هغوى قرآني آيت او احاديث نه مني هغوى وايي چې روح د بدن له اعراضو څخه يو عرض دى چې کله بدن مړ شي نو

روح ورسره غیب شي نو هغوی وایي ارواح بالکل موجود نه وي او له مرگ سره معدوم شي امام ابن قیم فرمایي ددې خبره مونږ وروسته کوو او دا د کفارو قول دی .

او په کفارو کې یوه بله ډله خلک دي چې هغوی وایي انسان مختلف ډول طبیعتونه لري د چا طبیعت ځناوري وي ، د چا د سپي په ډول طبیعت وي ، د چا د نورو چارپایانو په ډول طبیعتونه وي نو کله چې انسان مړ شي نو چې په هر ډول طبیعت یې وي نو د روح نه یې هغه ډول یو حیوان پیدا کیږي حتی چې د ځینې له ارواحو څخه حشرات پیدا کیږي دا د کم عقلو کفارو او د هغه کسانو قول دی چې له بیا ژوندي کېدلو څخه منکر دي پدې خپل قول کې هم هغوی ډېر مشکلات لري ځکه هغه حیوان چې مړ شي بیا ترې څه جوړیږي ... پدې توگه هغوی له ډېرو خبرو بې ځوابه دي .

ما دلته صرف د کتاب د موضوع د پوره کولو په خاطر ذکر کړو امام ابن قیم فرمایي او دا ټول د خلکو اقوال دي چې هرچا پدې اړه خپله رایه وړاندې کړې وه د ځینو رایو په اړه به زه تاسې ته ووایم چې دا خبره دوی ولې کوي او د دوی دا رایه ولې ده او د ځینو رایو خاوندان د خپلې رایې لپاره دلیل د قرآن کریم کوم آیت او یا د رسول الله ﷺ کوم حدیث دلیل مني د هغه یادونه به وکوم ان شاء الله.

هغه کسان چې وایي د نیکانو مؤمنانو ارواح په جنت کې او د کافرانو او فاجرانو په اور کې وي د هغوی دلیل د قرآن کریم آیت دی چې الله فرمایي

: فَأَمَّا إِن كَانَ مِنَ الْمُقَرَّبِينَ (88) فَرَوْحٌ وَرَيْحَانٌ وَجَنَّةُ نَعِيمٍ (89) .[1]

ترجمة : نو كه چېرې وي (دغه مړی) له مقربينو څخه (الله ته) نو (شته ده لره) راحت هوسائي (آرام) او ښه رزق او جنت ډک له نعمتونو څخه.

د همدې سورت په آخر کې الله ارواح وروسته لدې چې له بدن څخه ووزي نو په درې ډوله کړي دي لکه په پورتنيو دوو آيتونو کې چې الله وويل هغه چې مقربين وي هغوی به په جنت کې وي بل اصحاب اليمين دي الله د هغوی لپاره سلامتيا ياده کړيده الله فرمايي : وَأَمَّا إِن كَانَ مِنَ أَصْحَابِ الْيَمِينِ (90) فَسَلَامٌ لَّكَ مِنْ أَصْحَابِ الْيَمِينِ (91) .[2]

ترجمة : او که چېرې وي (دا مړی) له يارانو ملګريو د ښي لاس نو سلامتيا ده تا لره له يارانو د ملګريو د ښي لاس څخه .

بل ډول يې هغه ارواح ياد کړي دي چې هغوی تکذيب کونکي او ګمراه وو د هغوی لپاره يې جهنم ياد کړی دی الله فرمايي : وَأَمَّا إِن كَانَ مِنَ الْمُكَذِّبِينَ الضَّالِّينَ (92) فَنُزُلٌ مِّنْ حَمِيمٍ (93) وَتَصْلِيَةُ جَحِيمٍ (94) .[3]

ترجمة : او که چېرې وي (دغه مړی) له دروغ ويونکيو ګمراهانو څخه نو مېلمستيا ده (ده ته) له سوزوونکيو اوبو څخه او ننه ايستل دي په اور (د دوزخ) کې .

[1] سورة الواقعة
[2] سورة الواقعة
[3] سورة الواقعة

او متعددو صحابه وو پدې اړه فرمایلي دي چې کله دا روح له بدن څخه وزي نو ملک ددې زېرى دوى ته ورکوي چې له دوى سره به څه کیږي او دوى به چېرته ځي همدارنګه دوى ته په آخرت کې هم ویل کیږي او کله چې له قبرونو څخه پورته کیږي هم دوى ته به دا ویل کیږي او د همدې زیري په اړه الله فرمایي : **إِنَّ الَّذِينَ قَالُوا رَبُّنَا اللَّهُ ثُمَّ اسْتَقَامُوا تَتَنَزَّلُ عَلَيْهِمُ الْمَلَائِكَةُ أَلَّا تَخَافُوا وَلَا تَحْزَنُوا وَأَبْشِرُوا بِالْجَنَّةِ الَّتِي كُنتُمْ تُوعَدُونَ (30)** . [1]

ترجمة : بېشکه هغه کسان چې ویلي ئې دي صدقاً له زړه چې رب زمونږ الله دى بیا ټینګ ولاړ دي (په دغه توحید او نورو اعمالو د دین) را نازلیږي به پر دوى پرښتې (عند النزع و البعث یا فى القبر چې داسې به وایي) مه وېرېږئ او مه خفه کېږئ او خوشاله اوسئ تاسې په جنت هغه چې وئ تاسې چې وعده یې درسره کړل شویده (په ژبو د انبیاؤ د الله سره) .

او دا د ملائکو ورته راتلل د مرګ په وخت کې هم وي ، په قبر کې هم وي او کله چې له قبرونو څخه را پورته کیږي په هغه وخت کې هم وي او کله چې له انسان څخه روح وزي نو اول زیرى همدا وي .

هغه کسان چې وایي دوى په جنت کې نه دي لکن د جنت له میوو څخه دوى ته ورکول کیږي د هغوى دلیل یو حدیث دى چې حضرت عبد الله بن عباس فرمایي رسول الله ﷺ فرمایل : **الشهداء على بارق نهر**

---

[1] **سورة الصافات**

بباب الجنة في قبة خضراء يخرج عليهم رزقهم من الجنة بكرة وعشية .[1]

ترجمة : شهيدان د جنت په دروازه کې د نهر په غاړه دي په شنه ګنبده کې دوی ته په سحر او ماښام کې د جنت روزي راوزي .

معنی دا چې دوی به تر قیامت پورې پدې ځای کې وي او هغه خپل خاص ځای ته به نه ورځي چې د دوی لپاره تیار کړل شوی دی په جنت کې .

هغه کسان چې وایي ارواح په قبرونو کې دي که د هغوی مطلب دا وي چې دوی له قبرونو څخه نه جدا کیږي او همدلته وي نو ابن قیم فرمایي دا مذهب خطاء دی او د قرآني آیتونو او احادیثو سره له ډیرو لارو ټکر دی چې اکثر یې مونږ مخکې تیرې کړي دي او که چیرته یې مطلب دا وي چې دوی قبرونو ته راځي نو دا خبره صحیح ده خو داسې به نه ویل کیږي چې ارواح په قبرونو کې وي .

دا مذهب ډیرو علماوو خوښ کړی دی ابو عمر بن عبد البر هم همدا رایه اخیستې ده هغه په خپل کتاب کې د ابن عمر د حدیث په تشریح کې لیکلي دي **إن أحدكم إذا مات عرض عليه مقعده بالغداة والعشى وقد استبدل به من ذهب إلى ان الأرواح على أفنية القبور وهو أصح ما ذهب إليه في ذلك من طريق الأثر ألا ترى أن الأحاديث الدالة على ذلك ثابتة متواترة وكذلك أحاديث السلام على القبور .**

ترجمة : بېشکه یو د ستاسې چې کله مړ شي هغه ته د هغه هستوګنځی په سحر او بیګاه کې ورښکاره کول کیږي او دا مذهب د هغه مذهب ځای

---

[1] **رواه الامام احمد**

نيسي چې ځينې خلک وايي ارواح په قبرونو کې دي او هغه د آثارو له مخې غوره مذهب دی ته دېته نه ګورې چې پدې باندې دلالت کونکي احاديث زيات دي (د مثال په ډول د حضرت براء بن عازب اوږد حديث مخکې تېر شو ، د حضرت انس بن مالک يو حديث دی چې په هغه کې راغلي دي چې مړی له قبر نه په جنت کې او يا په دوزخ کې خپل ځای ويني، بل حديث دی چې د مؤمن لپاره قبر تر اويا مترونو پورې ازادول کيږي او په کافر باندې تنګيږي، د حضرت جابر حديث دی چې دا امت په قبر کې امتحان کيږي او داسې نور) همدارنګه په قبرونو باندې د سلام اچولو حديث هم پدې دلالت کوي .

هغه کسان چې وايي له مرګ نه وروسته ارواح له الله سره دي او تردې زيات مونږ نور څه نه وايو هغوی د قرآن کريم د آيت سره چې الله فرمايي دا شهيدان له الله سره دي او ژوندي دي دوی ته رزق ورکول کيږي ادب کوي او پدې اړه تفصيل نه کول غواړي او دوی د حضرت ابې هريره يو حديث خپل دليل ګڼي حضرت ابو هريره فرمايي رسول الله ﷺ فرمايل : **إن الميت إذا خرجت نفسه يعرج بها إلى السماء حتى ينتهي بها إلى السماء التي فيها الله عز وجل وإذا كان الرجل السوء يعرج بها إلى السماء فانه لا يفتح لها أبواب السماء فترسل من السماء فتصير إلى القبر .**

ترجمة : کله چې له مړي نه د هغه ساه وزي نو اسمان ته خېژول کيږي تردې چې اسمان ته ورسول شي په کوم اسمان کې چې الله وي نو کله چې سړی بد وي اسمان ته وخېژول شي نو د اسمان دروازې ورته نه خلاصيږي نو له اسمان څخه بېرته را وګرځول شي نو قبر ته راشي .

هغه کسان چې وايي د مؤمنانو ارواح په عليين کې دي په اووم اسمان کې او د کفارو ارواح په سجين کې دي په اوومه زمکه کې دا رايه داسې يوه رايه ده چې مخکنيو او وروستنيو علماوو خوښه کړېده او د رسول الله ﷺ آخري الفاظ **اللهم الرفيق الأعلى** هم په همدې باندې دلالت کوي او پدې اړه د حضرت ابي هريره يو حديث دی چې فرمايي کله چې د مړي نه روح واخيستل شي هغه اسمان ته خېژول کيږي تردې چې اوم اسمان ته ورسيږي او د حضرت ابي موسی حديث هم دی چې فرمايي هغه خېژول کيږي تردې چې عرش ته ورسيږي په يو بل حديث کې رسول الله ﷺ فرمايي د شهيدانو ارواح تر عرش لاندې په چراغونو کې دي او د حضرت براء بن عازب اوږد حديث مخکې تېر شوی دی په هغه کې رسول الله ﷺ فرمايي چې اسمان ته خېژول کيږي او هر اسمان ته چې رسيږي تر بل اسمان پورې ملائکې ورسره په بدرګه ځي تردې چې اوم اسمان ته ورسيږي او په يو روايت کې ويل شوي دي ترڅو چې هغه اسمان ته ورسيږي چې په هغه کې الله دی .

ابن قيم فرمايي خو بيا هم دا دلائل پدې دلالت نه کوي چې دا ارواح به بيا هماغلته پاتې کيږي بلکه هلته به وړل کيږي چې الله ته پېش کړل شي الله به د هغوی په اړه فيصله کوي او د هغه عملنامه به په عليين کې او يا په سجين کې ليکل کيږي بيا به بېرته قبر ته را ګرځول کيږي چې دلته ورڅخه پوښتنه وشي او بيا که مؤمن وي هغه ځای ته لېږل کيږي چې په کوم ځای کې د مؤمنانو ارواح دي او هلته هرڅوک د خپلې مرتبې مطابق ساتل کيږي .

هغه کسان چې وايي د مؤمنانو ارواح د زم زم کوهي ته وړل کيږي پدې مذهب باندې د قرآن کريم

او احادیثو نه هېڅ دلیل نشته او دا مذهب صحیح هم نه دی او داسې څوک وربانديې قائل هم نه دي چې په خبره یې اعتماد وشي .

هغه کسان چې وايي د مړیو ارواح په برزخ کې دي او چېرته یې چې خوښه شي دوی تلی شي دا د حضرت سلمان فارسي قول دی او دا ډېر قوي قول دی معنی یې داده چې له دنیا څخه تللي او آخرت ته تر اوسه پورې نه دي رسېدلي د قیامت نه وروسته به آخرت ته یا جنت او یا دوزخ ته ځي نو د مؤمنانو ارواح هم په برزخ کې دي خو هغه فراخ برزخ دی داسې برزخ چې هلته نعمتونه او باغونه او سهولتونه دي او د کفارو ارواح په داسې برزخ کې چې هلته عذابونه تکلیفونه او مشکلات دي .

هغه کسان چې وايي د مؤمنانو ارواح د حضرت آدم ښي اړخ ته او د کفارو ارواح د هغه چپ اړخ ته وي امام ابن قیم فرمايي دا داسې یو قول دی چې صحیح حدیث یې تائید کوي چې هغه د معراج د شپې حدیث دی په هغه شپه کې رسول الله ﷺ ارواح همداسې لیدلي وو ابن قیم فرمايي لکن دا پدې دلالت نه کوي چې دوی به دواړه برابر وي دا په ښي او دا په چپ اړخ کې بلکه کېدای شي معنی یې دا وي چې د مؤمنانو ارواح یې په ښي اړخ کې وو یعني په لوړه مرتبه کې وو چې علیین دي او د کفارو ارواح یې په چپ اړخ یعني ښکته مرتبه کې وو چې سجین دی .

ارواح یو له بل سره ملاقات کوي

امام ابن قیم په الروح کتاب کې فرمايي د مړیو ارواح د نورو مړیو له ارواح سره ملاقات کوي همدارنګه د مړیو او ژوندیو خلکو ارواح هم

يو له بل سره ملاقاتونه كوي لكه الله چې فرمايي : اللَّهُ يَتَوَفَّى الْأَنفُسَ حِينَ مَوْتِهَا وَالَّتِي لَمْ تَمُتْ فِي مَنَامِهَا فَيُمْسِكُ الَّتِي قَضَى عَلَيْهَا الْمَوْتَ وَيُرْسِلُ الْأُخْرَى إِلَى أَجَلٍ مُسَمًّى إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَاتٍ لِّقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ (42) .[1]

ترجمة : الله را كاږي (قبضوي) نفسونه په وخت د مرگ د دوى او هغه نفس چې نه وي مړ (هغه را كاږي) په خوب د هغه كې پس وساتي هغه (نفس) چې حكم كړى پر هغه د مرگ او بېرته را لېږي (بدن ته) هغه بل (نفس) تر نيټې په نامه كړل شوې پورې بېشكه په دغه (قبض، امساك، ارسال) كې خامخا ډېر دلائل د قدرت دي د پاره د هغه قوم چې فكر كوي (او عبرت ترې اخلي لكن نه كوي فكر پكې كفار) .

حضرت ابن عباس ددې آيت په تفسير كې فرمايي : ما ته دا را رسېدلې دي چې ارواح د ژونديو او د مړيو په خوب كې سره ملاقات كوي نو په خپل مينځ كې له يو بل نه پوښتنې كوي نو الله د مړيو ارواح حصار كړي او د ژونديو ارواح بېرته د هغوى جسدونو ته را وليږي او پدې باندې چې د ژوندي سړي روح د مړي له روح سره ملاقات كوي دا هم دلالت كوي چې يو ژوندى سړى يو مړى په خوب كېويني او د هغه نه د څه خبرې پوښتنه كوي او مړى ورته څه خبره كوي چې په هغه خبره باندې ژوندى نه وو خبر او بيا هغه خبره رښتيا شي .

پدې اړه زياتې واقعې شته او ابن قيم فرمايي لدې خبرې نه به داسې څوك انكار كوي چې هغه د روح په اړه جاهل وي او په څه نه پوهيږي .

روح نه مړ كيږي

[1] سورة الزمر

پوښتنه داده چې کله مرګ راځي نو روح هم مړ کيږي که يوازې بدن مړ کيږي؟

امام ابن قيم ددې پوښتنې ځواب کړی دی هغه مبارک په خپل کتاب الروح کې فرمايي : مرګ دېته وايي چې روح له بدن څخه بېل شي نو که چرته مرګ همدا مطلب وي نو دا د مرګ ذائقه ده هېڅ شک پکې نشته او که چېرته مرګ دېته وايي چې بالکل ورک شي او معدوم شي او عدم وګرځي نو پدې اعتبار بيا روح نه مړ کيږي بلکه له بدن څخه وزي او بيا هم پاتې وي خو يا په راحت کې وي او يا په تکليف کې وي ، يا په نعمتونو کې وي او يا په عذاب کې وي او ددې خبرې بنياد پدې باندې وي چې کله دا روح په بدن کې وو اعمال يې څنګه وو .

ارواح بغير له بدن پېژندل کيږي

پوښتنه داده چې کله روح له بدن څخه وزي نو بيا سره پېژندل کيږي؟ بيا يو بل سره پېژني؟ څکه چې اوس په ژوند کې انسانان يو بل په بدن سره پېژني په مخ ، په سترګو، په وېښتانو ، په جامه ، په رنګ و غيره ددې پوښتنې ځواب هم حضرت ابن قيم کړی دی هغه مبارک فرمايي وروسته لدې چې روح له بدن څخه ووزي نو يو خاص شکل واخلي چې په هغه سره له نورو بدل او بېل وي او په هغه شکل سره پېژندل کيږي

قبر واله زيارت کونکي پيژني

څوک چې د چا قبر ته ورځي او په هغه باندې سلام اچوي آيا دا قبر واله دا زيارت کونکی پېژني؟

پـدې اړه یـو حدیـث دی چې لــه مـختـصر سـنـد سـره سـتـاسې پـه خدمـت کې دی : **وروي الربيع بن سليمان المؤذن حدثنا بشر بن بكر عن الأوزاعي عن عطاء عن عبيد الله ابن عباس قال : قال رسول - الله صلى الله عليه و سلم - ما من أحد يمر على قبر أخيه المؤمن كان يعرفه في الدنيا يسلم عليه إلا عرفه ورد عليه السلام .**

تـرجـمـة : حضرت عبـد الله بـن عبـاس روایـت کـړی دی هغـه فـرمـایـي هرڅوک چې د خپـل وروړ پـه قـبـر تـیـریـږي چې پـه دنـیـا کې یـې پـېژنـدلـو اوس وربـانـدې سلام واچـوي هغـه یـې پـېژنـي او دده سلام تـه ځـواب وایـي .

ابـن ابـي الـدنـیـا یـوه قـصه نـقـل کـړیـده لـه ابـراهـیم بـن سـیـار الـکـوفـي هغـه فـرمـایـي مـاتـه الـفـضل بـن الـمـوفـق قـصه کـولـه ویـل یـې زه بـه د خپـل پـلار زیـارت تـه ډیـر ورتـلـم یـوه ورځ پـه یـوه جـنـازه کې حـاضر شـوم کـلـه مـو چې هغـه مـړی دفـن کـړو نـو څه کـار مې وو زر بـېـرتـه را سـتـون شـوم او پـدې ورځ د خپـل پـلار زیـارت تـه ورنـغـلـم کـلـه چې د شپې ویـده شـوم پـه خوب کې مې ولـیـدو چې راتـه ویـل یـې بـچیـه تـه نـن رانـغـلې؟ مـا ورتـه ویـل پـلاره زه چې درځـم تـه پـرې پـوهـېږې؟ ده ویـل هـو والله تـا مـاتـه راځې چې لـه الـقـنـطرة څخه را واوړې زه تـاتـه ګـورم بـیـا چې راشې زمـا پـه خوا کې کېـنې تـر هغـه وخـتـه چې بـېـرتـه روان شې او بـېـرتـه تـر الـقـنـطرة څخه تـېـر شې .

مـړی تـر خښېـدلـو وړانـدې پـه ډیـر څه پـوهـیـږي

مـخکې لـدې چې مـړی خښ کـړل شي هغـه کسان پـېژنـي چې ده تـه غسل ورکـوي دده تـجـهـیـز او تـکـفـیـن کـوي او

دی قبر ته ور ښکته کوي پدې اړه یو روایت شوی دی حضرت سعید بن عمرو بن سلیم فرمایي : زمونږ په مجلس کې یو کس وو چې معاویة بن فلان او که ابن معاویة نوم یې وو هغه وویل **سمعت أبا سعيد الخدري يحدث عن النبي - صلى الله عليه و سلم - قال : إن الميت يعرف من يغسله ومن يكفنه ومن يحمله ومن يدليه في قبره فقال ابن عمر وهو في المجلس : ممن سمعت هذا ؟ قال : من أبي سعيد الخدري فقام ابن عمر إلى أبي سعيد الخدري فقال : ممن سمعت هذا ؟ قال : من رسول الله - صلى الله عليه و سلم .** [1]

ترجمة : ما له حضرت ابي سعيد الخدري څخه واوریدل هغه له رسول اللهﷺ څخه روایت کاوه هغه ویل مړی هغه کس پیژني چې ده ته غسل ورکوي او هغه چې ده ته کفن ورکوي او هغه چې دی په اوږو اخلي او هغه چې دی قبر ته ور ښکته کوي پدې وخت کې حضرت ابن عمر په مجلس کې ناست وو هغه ورته وویل: دا تا له چا آوریدلي دي؟ هغه کس وویل دا مې له حضرت ابي سعيد الخدري څخه آوریدلي دي حضرت ابن عمر راغلو حضرت ابي سعيد الخدري ته یې وویل : دا تا له چا څخه آوریدلي دي؟ هغه ورته وویل : له رسول الله ﷺ څخه .

ابن ابي الدنيا په خپل کتاب المنامات کې په خپل اسناد سره له سالم بن ابي الجعد څخه نقل کړي دي هغه له حضرت حذیفه څخه نقل کړي دي چې هغه فرمایل : **الروح بيد ملك وإن الجسد ليغسل وإن الملك ليمشي معه إلى القبر.**

[1] **أخرجه الإمام أحمد**

ترجمة : روح د ملک په لاس کې وي او جسد وینځل کیږي او ملک د هغه سره تر قبر پورې ځي .

همدارنګه ابن ابي الدنیا له عبد الرحمن بن ابي لیلی څخه بل روایت کړی دی فرمايي : **الروح بيد ملك يمشي مع الجنازة يقال له : اسمع ما يقال لك فإذا بلغ حفرته دفنه معه .**

ترجمة : روح د ملک په لاس کې وي او هغه له جنازې سره ځي او روح ته وايي واوره هغه څه چې تاته ويل کيږي کله چې دده قبر ته ورسیږي هلته يې ورسره خښ کړي .

حضرت بکر المزني فرمايي : **بلغني أنه ما من ميت إلا روحه بيد ملك الموت فهم يغسلونه ويكفنونه وهو يرى ما يصنع أهله فلو أنه يقدر على الكلام لنهاهم عن الرنة والعويل .**[1]

ترجمة : ماته دا خبره را رسېدلې ده چې هرڅوک مړ شي روح يې د ملک الموت په لاس کې وي خلک د هغه جسد وينځي او هغه ته کفن ورکوي او دی ټول هغه څه ويني چې دده اهل يې کوي که چېرته ده خبرې کولی شوای نو خپل اهل به يې له ژړا او فرياد څخه منع کړی وو .

امام سماک فرمايي ماته حضرت ابو سفيان الثوري وفرمايل : **إنه ليعرف كل شيء - يعني الميت - وإنه ليناشد غاسله بالله إلا خففت غسلي .**

ترجمة : دی هر شی پېژني يعني مړی او هغه غسل ورکونکي ته زاري کوي چې له ده سره اساني وکوي .

[1] **رواه ابن ابي الدنيا**

مړي خبرې هم کوي

په مختلفو رواياتو کې دا خبره هم راغلې ده چې مړی چيغې وهي ، مړی فرياد کوې ، مړی د کور خلکو ته وايي چې دا تاسې لما سره څه کوئ ، مړی چې نېک عمل وي نو خلکو ته وايي چې دی زر زر هدېرې ته ورسوئ حضرت ابو سعيد الخدري فرمايي رسول الله ﷺ فرمايل : **إذا وضعت الجنازة فاحتملها الرجال على أعناقهم فإن كانت صالحة قالت : قدموني وإن كانت غير صالحة قالت (لأهلها) : يا ويلها أين تذهبون بها يسمع صوتها كل شيء إلا الإنسان ولو سمع الإنسان لصعق.** [1]

ترجمة : کله چې جنازه تياره شي او خلک يې په اوږو واخلي نو که نېک انسان وي نو وايي ما زر زر ولئ او که نېک انسان نه وي نو خپل اهل ته وايي عذاب د وې ده لره (خپل ځان يادوي) تاسې ما چېرته بيايئ ؟ د هغه ددې چيغو اواز هرشی آوري بغير د انسان څخه او که انسان يې واوري نو بې هوښه به شي .

همدارنګه د حضرت انس په يو حديث کې تېر شو چې رسول الله ﷺ فرمايل : **أن الميت إذا ضرب في قبره بمطراقين من حديد يصيح صيحة يسمعها من يليه غير الثقلين.**

ترجمه : کله چې مړی د وسپنې په کمچينه او يا په مارتول ووهي نو هغه يوه داسې چيغه وکوي چې هلته په خوا کې يې هرشی آوري بغير د انسانانو او پېريانو څخه .

يو بل روايت دی چې محمد بن المنکدر د حضرت جابر څخه روايت کړی دی هغه فرمايي رسول الله

[1] **صحيح البخاري**

ﷺ وفرمايل : **من مات من غير وصية لا يؤذن له في الكلام إلى يوم القيام قالوا : يا رسول الله ! ويتكلمون قبل يوم القيامة ؟ قال : نعم ويزور بعضهم بعضا.**

ترجمة : هغه څوک چې د وصيت نه بغير مړ شي (په دنيا کې تر مرګ وړاندې وصيت ونه کوي) هغه ته به تر قيامت پورې د خبرو اجازه نه ورکوله کيږي دوی ورته وويل : يا رسول الله ! دوی تر قيامت وړاندې خبرې کوي؟ رسول الله ﷺ وويل : هو دوی خبرې کوي يو د بل زيارتونه کوي .

ابن ابي الدنيا پدې اړه يوه واقعه نقل کړيده په بصره کې يو قبر ويستونکی وو او زيات نېک انسان وو هغه وايي ما يو قبر وويستلو او ستړی شوم د قبر په خوا کې مې سر کېښود او ويده شوم دوه ښځې مې په خوب کې وليدلې راته ودريدلې او يوې خبرې کولې بله چُپ وه راته يې وويل : خير دی د الله لپاره دا ښځه زمونږ په ګاونډ کې مه خښوه مونږ ترې خلاص کړه ... دا خوب مې وليدو په ويره کې را ويښ شوم ... لږ وروسته د يوې ښځې جنازه راغله او په همدې قبر کې يې خښول غوښتل ما ورته وويل نه دا قبر د بل چا دی ستاسې لپاره ما هغلته قبر تيار کړی دی او يو بل قبر مې و رته وښود کله چې د شپې ويده شوم بيا مې هغه دواړه ښځې وليدې ويل شکريه چې مونږ د لدې شر څخه خلاص کړو او له ډير اوږده شر څخه د په امن کړو.. ما ورته وويل : ستا دا ملګرې ولې خبرې نه کوې لکه ته يې چې کوې؟ هغې راته وويل : دا د وصيت نه بغير مړه شويده او څوک چې د وصيت نه بغير مړه شي هغه به تر قيامت پورې خبرې نشي کولی .

په مړيو باندې د سلام ځواب ملائکې وايي

حضرت محمد بن الاشعث د ابي سلمة نه روايت کړی دی چې حضرت ابوهريره فرمايل : قال : أبو رزين : يا رسول الله : إن طريقي على الموتى فهل من كلام أتكلم به إذا مررت عليهم ؟ قال : قل : السلام عليكم يا أهل القبور من المسلمين والمؤمنين أنتم لنا سلف ونحن لكم تبع وإنا إن شاء الله بكم لاحقون : قال أبو رزين : يا رسول الله صلى الله عليه و سلم يسمعون ؟ قال : يسمعون ولكن لا يستطعون أن يجيبوا قال : يا أبا رزين ألا ترضى أن يرد عليك من الملائكة.

ترجمة : ابو زرين رسول الله ﷺ ته وويل يا رسول الله ﷺ زما لاره په مړيو باندې دي کله چې زه په هغوی باندې تېرېږم داسې څه خبره شته چې زه يې هلته وکوم؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل هلته وايه چې ای د قبرونو خاوندانو مسلمانانو او مؤمنانو په تاسې د سلام وي تاسې له مونږ نه مخکي تللي ياست او مونږ په تاسې پسې يو او ان شاء الله مونږ په تاسې پسې پيوست کېدونکي يو حضرت ابو زرين وفرمايل : يا رسول الله ﷺ آيا دوی زما اواز آوري؟ رسول الله ﷺ ورته وويل : هغوی آوري لکن ځواب نشي ورکولی بيا يې وويل : ابازرين ته پدې نه يې خوشحال چې ستا د سلام ځواب ملائک درکړي؟

د قبر عذابونه او نعمتونه

د قبر حالت يو خطرناک حالت دی .. ځومره ښکلي بدنونه .. ښائسته مخونه ... ښکلې ژبې اوس په

قبرونو کې تر تورو خاورو لاندې پراته دي ... په خپلو کړو وړو پښېمانه دي ... الله ته یې مخه کړېده او هېڅ د حل لاره نه ویني چې څه وکوي ... د عملونو دروازې ورته بندې شوې دي ... پښېماني ورته هېڅ فایده نه کوي .. هغه کسان چې ګناهکاران دي ارمان کوي کاش چې نیکان وی ... هغه کسان چې نیکان وي ارمان کوي کاش تردې هم لا زیات نېکان شوي وای او نېک عملونه یې کړي واي ... او هغه کسان چې ډېر نېک عملونه یې کړي دي ارمان کوي کاش دوی یوه لحظه هم بغیر د الله له عبادت څخه نه وای تېره کړې ...

د حضرت عمر بن عبد العزیز خطبه

حضرت عمر بن عبد العزیز د کوم خپلوان له جنازې سره لاړو کله یې چې هغه دفن کړو خلکو ته یې مخ را واړولو ورته یې وویل :

ای خلکو !

قبر په ما پسې له شا نه اواز وکولو زه تاسې ته ووایم چې هغه ماته څه وویل؟ دوی ورته وویل : هو مونږ ته ووایه

ده مبارک وفرمایل : قبر راته وویل ای عمر بن عبد العزیزه تا له مونږ نه پوښتنه ونه کوله چې له دوستانو سره څه وشول؟

ما ورته وویل : هو (دا پوښتنه مې په زړه کې ده) ...

اواز راته راغلو چې کفنونه یې وشلېدل ، بدنونه یې خراب شول .. وینه یې وزبېښل شوه ... او غوښه یې وخوړل شوه ..

ته لما څخه پوښتنه نه کوې چې په بدنونو باندې څه وشول؟

ما ورته وویل : هو ...

ويې ويل : مړوندونه له څنګلو څخه بېل شول ... څنګلې له مټو څخه بېلې شوې ... او مټې له اوږو څخه جدا کړل شوې .. پنډۍ له ګونډو څخه بېلې شوې ... او ګونډې له زنګنونو څخه جدا شوې او پنډۍ له لنګيو او لنګي له قدمونو څخه بېلې شول ..

بيا حضرت عمر بن عبد العزيز په ژړا شو او ويې ويل :: خبر دار چې دنيا د ډېر لږ وخت لپاره پاتې کيږي او د د نيا معزز شی هم ذليل شی دي ..

د دنيا ځوانان زړيږي ... د دنيا ژوندي شيان تول مړه کيږي ... په اصل دوکه کې هغه کس دی چې پدې باندې دوکه شي ...

هغه کسان چېرته دي چې دا ښارونه يې جوړ کړل؟

تاسې ته معلومه ده چې خاورو د هغوی په بدنونو باندې څه وکول؟

تاسې ته معلومه ده چې چينجيو د هغوی په غوښو او هډوکو باندې څه وکول؟

په دنيا کې به دوی په قيمتو فرشونو او لوړو تختونو کېناستل ...

چې خادمانو به يې خدمت کاوه او د کورنۍ خلکو به ورته عزت ورکاوه ..

خو کله چې مړه شول اوس يې حالت په قبرونو کې څنګه دی؟ ...

د دوی مالداري دوی ته په قبرونو کې څه فایده وکوله؟

تاسې کله دا فکر کړی دی چې فقیر ته وروسته له مرګ نه د هغه له فقر نه څه پاتې دي؟

نه بلکه غني د دوی اوس غني نه دی او د دوی فقیر اوس فقیر نه دی ټول یو شان دي او په دوی کې اوس په راحت کې یوازې هغه کسان دي چې نېک عملونه یې کړي دي ...

ته ورشه اوس له دوی نه پوښتنه وکوه چې هغه ژبې د دوی څه شوې چې دوی به وربانديې خبرې کولې ...

د هغه سترګو په اړه ورڅخه پوښتنه وکوه چې دوی به کوم شي ته کتل او خوند به یې ورڅخه اخیستلو ...

له دوی نه پوښتنه وکوه چې د دوی په هغه نرمو څرمنو باندې څه وشول ..

د دوی په ښائسته مخونو باندې څه وشول ..

د هغوی له نرمو بدنونو سره څه رویه وشوه ؟

چینجیو وربانديې څه وکول؟

رنګونه یې خراب شول ... غوښې یې وخوړل شوې ... مخونه یې له غوښو لوڅ شول ... او د ښائست ټول شیان یې ترې ختم شول ... د دوی ملاګانې ماتې شوې ... اندامونه یې سره بېل شول .. او بدنونه یې ټوټې ټوټې شول ...

اوس د دوی خادمان چېرته دي؟ ... اوس د دوی خزانې او پیسې چېرته دي؟

و الله نه خو ورته په قبر کې فرش اچول شوی دی او نه ورته څنګ ته تکیه کېښودل شویده ...

هغوی اوس په خاورو باندې نه دي پراته ...؟

هغوی اوس تر ډېری ډېری خاورو لاندې نه اوسیږي؟

اوس په هغوی باندې شپه او ورځ یو شان تیاره نه ده؟

اوس د دوی او د عمل کولو په مینځ کې مانع پیدا شوی دی ... اوس دوی ته د عمل کولو وخت په لاس کې نشته او دوی ارمان کوي چې وی ... اوس له دوی څخه اهل او خپلوان جدا شوي دي ...

اوس د دوی ښځې نورو خلکو ته په نکاح شوې دي ... اوس د دوی زامن د دوی نه بغیر له ژوند کولو سره عادت شوي دي ...

اوس د دوی نه پاتې مالونه تقسیم شوي دي او نور خلک یې مالکان شوي دي ...

یو ځل بیا حضرت عمر بن عبد العزیز د تقریر په مینځ کې سخت وژړل او بیا یې وفرمایل ...

ای هغه کسه چې سبا به په قبر کې اوسیږي ...

په دنیا کې په څه شي دوکه شوی یې؟

سبا چې ته په قبر کې کېښودل شې دا نرمې جامې به تاته څه فایده وکوي؟ ... ستا عطرونه به تاته څه بوی درکړي ...؟ ستا ښه خوراکونه به

تاته څه ګټه درکړي...؟ ته به په سخته تياره کې کېښودل شې ... کاش چې ماته معلوم واى چې چينجى به اول ستا په کوم غامبوري شروع کوي ...؟ کاش زه پدې خبر واى چې سبا زه مړ شم ماته به ملائکه هغه وخت کې څه زيرى راکوي کله چې زه له دنيا نه د وتلو په حالت کې وم چې ما به چېرته بيايي ... آيا ماته به زيرى راکوي چې الله درڅخه راضي دى او که به راته وايي چې الله درڅخه ناراض دى ....؟

حضرت عمر بن عبد العزيز تقرير پداسې حالت کې ختم کړو چې ژړل يې او ددې تقرير نه يوه هفته وروسته وفات شو (الله يې د په جنتونو کې لوړې مرتبې نصيب کړي) .

د قبر عذاب

حضرت هاني د حضرت عثمان غلام وو هغه فرمايي : کله به چې حضرت عثمان د قبر په خوا کې تېرېدلو نو سخت به يې وژړل تردې چې ږيره مبارکه به يې لنده شوه .. يوه ورځ ورته وويل شول: کله چې جنت او دوزخ ياديږي نو ته نه ژاړې او کله چې درته قبر دريا د شي نو ته ژاړې؟ ده مبارک وويل هو ځکه ما له رسول الله ﷺ څخه آوريدلي دي چې فرمايل يې : **القبر أول منازل الآخرة، فإن ينج منه فما بعده أيسر منه، وإن لم ينج منه فما بعده أشد منه.**

ترجمة : دا قبر د آخرت له منزلونو څخه اول منزل دى که چېرته انسان پدې کې نجات پيدا کړي نو ددېنه وروسته چې کوم حالات راځي هغه لدې نه اسان دي او که چېرته انسان پدې کې نجات پيدا

نه کړي نو لدې نه وروسته چې کوم حالتونه را
ځي تړول لدې نه سخت دي .

حضرت عمر بن عبد العزيز يوه ورځ په مجلس کې ناستو کسانو ته ويل : بيګاه شپه ما پدې کې فکر کاوه چې قبر به څنګه وي او هلته چې څوک پراته وي د هغوی به څه حال وي که ته چېرته يو مړی له دريو شپو وروسته وګورې وروسته لدې چې له هغه مړي سره په ژوند کې ستا ډېره مينه وه ته به ترېنه وډار شې چې د هغه کفن خراب شوی وي او د هغه بدن بوی کړي وي او د هغه په بدن کې چينجي د ننه او بهر کيږي ته وينې چې له هغه نه زوې او وينې را وتلې وي ... چې ته وينې د هغه حالت بدل شوی وي وروسته لدې چې هغه تازه کفن اوس زوړ شکاره کيږي او هغه پاک کفن اوس د چينجيو د وتلو او ننوتلو له امله ګنده شوی او خيرن شوی وي ... پدې خبرو کې حضرت عمر بن عبد العزيز بې هوښه شو ..[1]

حضرت عمر بن عبد العزيز رښتيا ويلي دي که انسان يو داسې بدن ته وګوري چې د هغه نه غوښې خورې ورې پرتې وي او چينجي پکې وزي ننوزي خامخا به يو بد حالت ويني ... خامخا به له هغه بدن څخه د لرې تلو کوښښ وکوي ... د دريو ورځو خو نه بلکه ما په يوه حادثه کې د لسو شپو زوړ جسد کتلی دی که زه د قسم سره ووايم نو زما په ژوند کې تر هغه بد شی ما نه دي ليدلي د هغه په بدن کې يو ډول سپين رنګه چينجي آخته وو او لکه په خاوره کې داسې وتل او ننوتل د هغه د بدن د پړسېدلو له امله د هغه تړولې جامې شلېدلې وې او هغه لوڅ پروت وو او دومره غټ شوی وو چې انسان ترې ډارېدلو د بوی يې دا حال وو چې په ټول تعمير کې ورسره ګذاره نه کېده ... سره ددې چې هغه جسد لا د

---

[1] رواه ابن أبي الدنيا

زمکې په بیخ کې هم نه وو په کوټه کې د زمکې لپاسه ایښی وو ..

رسول الله ﷺ هم ځکه فرمایي : **ما رأيتُ مَنظرًا قطُّ إلاَّ والقبرُ أفظعُ منه.** [1]

ترجمة : ما هېڅ منظر نه دی لیدلی مګر قبر له هغه څخه سخت وي معني دا چې له قبر نه سخت او ډاروونکی حالت او منظر نشته خو داده چې هغه د انسان له سترګو نه الله پټ کړی دی او انسانان یې نه ویني چې هلته په قبر کې څه حالت دی .

یو کس حضرت عمر بن عبد العزیز ته راغلو ورته یې وویل : ته ډېر زیات بدل شوی یې (پدې وخت کې حضرت عمر بن عبد العزیز ډېر زیات عبادت کاوه او ځان به یې په عبادت کې ډېر ستړی کاوه او خپل ځان ته به یې د خوب او خوراک لپاره هم پوره وخت نه ورکاوه نو ده مبارک ورته وویل :

اې دا ته چې درې ورځې وروسته له هغه راشې چې زه په قبر کې کېښودل شوی وم زما سترګې را وتلې وي او زما په غامبوریو باندې را بهېدلې وي شونډې مې په غاښونو باندې ور خوړینې شوې وي ، خوله مې خلاصه شوې وي ، ګېډه مې پړسېدلې وي او تر سینه لوړه شوې وې ، او له پوزو مې چینجي وزي ننوزي نو هلته چې ته ما وینې نو زه به ډېر زیات بدل درته ښکاره شم .

حسن بصري به فرمایل : دوه شپې دي او دوه ورځې دي چې انسان بیا داسې دوه شپې او دوه ورځې مخکې نه وي آورېدلې او نه یې انسان اوس تصور کولی شي .

---

[1] **صحيح الجامع: 5623**

یوه هغه شپه چې په قبر کې د مړیو سره ستا اوله شپه وي او ددېنه وړاندې تا په داسې تیاره او تنګ ځای کې شپه نه وي کړې .

بله هغه شپه چې صباء یې د قیامت ورځ وي .

هغه ورځ چې تاته خبر راشي د الله له لوري چې درته ویل کیږي به چې ته دوزخي یې او یا جنتي یې .

او بله هغه ورځ چې ستا عملنامه تاته درکول کیږي یا په ښي او یا په چپ لاس کې .

د قبر عذاب په قرآن کې

د فرعونیانو په اړه الله فرمایي : **فَوَقَاهُ اللَّهُ سَيِّئَاتِ مَا مَكَرُوا وَحَاقَ بِآلِ فِرْعَوْنَ سُوءُ الْعَذَابِ (45) النَّارُ يُعْرَضُونَ عَلَيْهَا غُدُوًّا وَعَشِيًّا وَيَوْمَ تَقُومُ السَّاعَةُ أَدْخِلُوا آلَ فِرْعَوْنَ أَشَدَّ الْعَذَابِ (46)** [1] .

ترجمة : پس وساته دغه (موسی یا مؤمن سړی) لره الله له سختو (عذابونو) د هغو چې مکر کړی وو دوی او (بالعکس) چاپېر شو په آل د فرعون (سره د فرعون) بد عذاب (دغرق په دنیا او بد عذاب په عقبی کې) اور (د دوزخ) وړاندې کاوه شي (دا کفار) پر دې (اور) هر صبا او هر بېګا او په هغه ورځ کې چې قائم شي قیامت (نو وبه ویلی شي له جانبه د الله ملائکو ته) ننباسئ تاسې آل د فرعون (سره له فرعون) په ډېر سخت عذاب کې (له عذابه د برزخ) .

علماء کرام فرمایي : دا آیت پدې دلیل دی چې په قبرکې د قیامت تر راتلو وړاندې عذاب شته .

---

[1] **سورة الغافر (المؤمن)**

په بل ځای کې الله فرمايي : **وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرَى عَلَى اللّهِ كَذِبًا أَوْ قَالَ أُوْحِيَ إِلَيَّ وَلَمْ يُوحَ إِلَيْهِ شَيْءٌ وَمَن قَالَ سَأُنزِلُ مِثْلَ مَا أَنَزلَ اللّهُ وَلَوْ تَرَى إِذِ الظَّالِمُونَ فِي غَمَرَاتِ الْمَوْتِ وَالْمَلآئِكَةُ بَاسِطُواْ أَيْدِيهِمْ أَخْرِجُواْ أَنفُسَكُمُ الْيَوْمَ تُجْزَوْنَ عَذَابَ الْهُونِ بِمَا كُنتُمْ تَقُولُونَ عَلَى اللّهِ غَيْرَ الْحَقِّ وَكُنتُمْ عَنْ آيَاتِهِ تَسْتَكْبِرُونَ .** [1]

ترجمة : او څوک دی ډېر ظالم؟ (يعني هېڅوک نشته!) له هغه چانه چې تړي پر الله دروغ يا وائي چې وحی کړې شوېده ماته حال دا چې وحی نه وي کړل شوې ده ته د هېڅ شي او (بل څوک دی ډېر ظالم يعني نشته له) هغه چې وايي ژر به (زه هم) نازل کړم (وبه ليکم له ځانه) په مثل د هغه کتاب چې نازل کړی دی الله (تاته اې محمده! چې قرآن دی) او که ووينې ته (اې محمده!) ظالمان يعني کافران په هغه وخت کې چې ظالمان په (باطني او روحاني) سختيو د مرګ کې وي حال دا چې پرښتې (د عذاب) غزوونکې وي د لاسونو خپلو (د روح د قبض د پاره نو وائي دوی ته چې) را وباسئ تاسې ارواح خپل(چې ئې قبض کړو مونږ که ئې ايستی شئ يا ئې له عذابه وباسئ!) نن ورځ به جزا درکړه شي تاسې ته عذاب سپکوونکی (يعني چې له سخت تکليف سره ذلت او رسوائي هم وي) په سبب د هغه چې وئ تاسې چې ويل به مو پر الله (وينا) ناحقه او وئ تاسې چې له آيتونو دده څخه به مو تکبر کاوه (او نه به مو منل نو وبه ګورئ يوه قبيحه منظره) .

پدې آيت کې دليل موجود دی چې هغه کسان چې بد بخت دي د هغوی عذاب له هغه وخت نه شروع کيږي له کوم وخت نه چې د دوی روح په وتلو شي .

---

[1] **سورة الانعام آية ٩٣**

په بل ځای کې الله فرمايي : **وَمِمَّنْ حَوْلَكُمْ مِنَ الْأَعْرَابِ مُنَافِقُونَ وَمِنْ أَهْلِ الْمَدِينَةِ مَرَدُوا عَلَى النِّفَاقِ لَا تَعْلَمُهُمْ نَحْنُ نَعْلَمُهُمْ سَنُعَذِّبُهُمْ مَرَّتَيْنِ ثُمَّ يُرَدُّونَ إِلَى عَذَابٍ عَظِيمٍ .** [1]

ترجمة : او ځينې له هغو کسانو چې په شاو خوا د تاسې (اهل المدينې) کې دي له (صحرائي) اعرابو ځنې منافقان دي او ځينې له خلقو د مدينې نه (يو قوم دى چې) عادت ئې نيولى دى پر منافقت نه پېژنې ته دوى ، مونږ عالمان يو پر (نفاق د) دوى ژر به په عذاب کړو مونږ دوى دوه کرته بيا به بوتلل شي دوى عذاب ډېر لوى ته.

په بل ځای کې الله فرمايي : **وَإِنَّ لِلَّذِينَ ظَلَمُوا عَذَابًا دُونَ ذَٰلِكَ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ .** [2]

ترجمة : او بېشکه هغو کسانو لره چې ظلم ئې کړى (کافران شوي) دى (اخروي) عذاب دى بې له دې (دنيوي) عذابه و ليکن زياتره د دوى نه پوهېږي (نو ځکه مخ ګرځوي له ايمانه) .

الله فرمايي : **يُثَبِّتُ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا بِالْقَوْلِ الثَّابِتِ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَفِي الْآخِرَةِ ۖ وَيُضِلُّ اللَّهُ الظَّالِمِينَ ۚ وَيَفْعَلُ اللَّهُ مَا يَشَاءُ .** [3]

ترجمة : مضبوطوي الله هغه کسان چې ايمان ئې راوړى دى په خبره ثابته سره په ژوندون د دنيا (په وقت د فتنې او مرګ) کې او په آخرت کې (يعني په قبر کې) او بېويوي الله ظالمان (له دغې ثابتې خبرې او هيروي ئې ترې په دنيا او عقبى کې) او کوي الله هر هغه څه چې اراده وفرمايي (د

1 سورة التوبة آية ١٠١
2 سورة الطور آية ٤٧
3 سورة آبراهيم آية ٢٧

کولو ئې له اهداء د مؤمنانو او اضلال د مشرکانو) .

په صحيح بخاري او مسلم کې د حضرت براء بن عاذب څخه روايت شوی دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ فرمايل : دا پورتنی آيت د قبر د عذاب په حق کې نازل شوی دی په بخاري کې وړاندې فرمايي : **إذا أقعد العبد المؤمن في قبره أتي ثم شهد أن لا إله إلا الله وأن محمدا رسول الله فذلك قوله { يثبت الله الذين آمنوا بالقول الثابت في الحياة الدنيا وفي الآخرة.** [1]

ترجمة : کله چې مؤمن په قبر کې را بيدار کړل شي او ملائکې ورته راشي نو هغه ددې ګواهي ورکړي چې الله يو دی د هغه نه بغير بل په حقه سره لائق د عبادت نشته نو دا د پورتني آيت معنی ده .

د قبر عذاب په احاديثو کې

په بخاري شريف کې په يو روايت کې دا هم ورسره راغلي دي چې حضرت براء بن عازب فرمايي رسول الله ﷺ فرمايل : **قال يقال للكافر من ربك فيقول لا أدري فهو تلك الساعة أصم أعمى أبكم فيضرب بمرزبة لو ضرب بها جبل صار ترابا فيسمعها كل شيء غير الثقلين .** [2]

ترجمة : کافر ته ويل کيږي چې ستا رب څوک دی هغه وايي زه نه پوهېږم هغه پدې وخت کې کوڼ ړوند او ګونګی وي په يوه ګرز ووهل شي که په هغې باندې غر ووهل شي نو د غره نه به خاورې

---

[1] **صحيح البخاري**
[2] **صحيح البخاري**

جوړې شي د هغه د وهلو اواز د انسانانو او پېریانو نه بغیر نور ټول شیان آوري .

بل حدیث دی چې په هغې کې فرمایي : **ویأتیه ملکان فیجلسانه فیقولان له من ربك فیقول ربي الله فیقولان : ما دینك فیقول دیني الإسلام فیقولان له ما هذا الرجل الذي بعث فیکم فیقول هو رسول الله صلی الله علیه و سلم فیقولان : له وما یدریك فیقول قرأت کتاب الله فآمنت به وصدقت .** [1]

ترجمة : کله چې انسان په قبر کې کېښودل شي دوه ملائکې ورته راشي دی را کینوي ورته وایي ستا رب څوک دی؟ هغه (چې نیک او مسلمان وي) ورته وایي رب مې الله دی .

بیا هغوی ورته وایي : ستا دین څه شی دی؟

دی وایي : زما دین اسلام دی.

بیا ورته وایي : دا کس څوک دی چې تاسې ته در لېږل شوی وو؟

دی ورته وایي : هغه د الله رسول دی .

دوی ورته وایي : تاته څه معلوم دی؟

دی ورته وایي : ما د الله کتاب لوستلی وو او په هغه مې یقین کړی وو .

نو په بخاري شریف کې ددې خبرې نه وروسته بیا فرمایي چې الله فرمایي ځینې خلک په هغه وخت کې په سمه خبره ټینګ پاتې کیږي دا یې معنی ده چې

---

[1] **صحیح البخاري**

انسان ته د داسې ځوابونو ورکولو توفيق ورکول کيږي .

بيا مخکې پسې فرمايي : قال : **فينادي مناد من السماء أن صدق عبدي فافرشوه من الجنة وافتحوا له بابا إلى الجنة وألبسوه من الجنة قال فيأتيه من روحها وطيبها ويفسح له في قبره مد بصره .**

ترجمة : بيا د اسمان له لوري نه اواز وشي چې زما بنده رښتيا وويل د جنت نه فرش ورکړئ او له جنت نه دروازه ورته ورخلاصه کړئ او د جنت لباس ورواغوندئ بيا د جنت ښکلې بوی ورته راشي او د جنت تازه هوا راتلل ورته شروع شي او قبر ورته دومره فراخه کړل شي ځومره چې دده نظر کار کوي .

بيا مخکې فرمايي : **وذكر الكافر قال : وتعاد روحه إلى جسده ويأتيه ملكان فيجلسانه فيقولان : له من ربك فيقول : هاه هاه لا أدري فيقولان له : ما دينك ؟ فيقول : هاه هاه لا أدري فينادي مناد من السماء أن كذب عبدي فافرشوه من النار وافتحوا له بابا إلى النار قال فيأتيه من حرها وسمومها قال ويضيق عليه قبره حتى تختلف أضلاعه**

وفي رواية له ثم يقيض له أعمى أبكم معه مرزبة من حديد لو ضرب بها جبل لصار ترابا قال فيضربه ضربه يسمعها ما بين المشرق والمغرب إلا الثقلين فيصير ترابا قال ثم تعاد فيه الروح . [1]

ترجمة : بيا رسول الله ﷺ کافر هم ياد کړو کله چې د هغه روح بېرته د هغه جسد ته را وګرځول شي دوه ملکې ورته راشي دی را کينوي ورته ووايي رب د ځوک دی؟

دی ورته وايي : هاه هاه زه خو نه يم خبر

[1] **صحيح البخاري**

هغوی ورته وايي : دين د څه دی؟

دی ورته وايي : هاه هاه زه خو نه يم خبر

بيا له اسمان نه اواز وشي چې زما دې بنده دروغ وويل (صحيح ځواب يې ورنه کړو) د اور نه ورته فرش جوړ کړئ او د دوزخ خوا ته ورته دروازه ور خلاصه کړئ بيا دهغه ګرمي او زهريله هوا ورته راتلل شروع شي قبر وربانډې دومره تنګ کړل شي چې دده اندامونه سره يو تر بل تېر کړي او په يو روايت کې دا هم راغلي چې بيا ورته يوه ړنده او کڼه فرښته مقرره کړي هغه يې د وسپنې په ګرز بانډې وهي که هغه وار په غره وکول شي نو خاورې به شي د هغې اواز د انسانانو او پېريانو څخه بغير نور هرشی آوري نو د هغه وار سره به دی خاورې شي بيا به بېرته پکې روح را وګرځي او همدا به يې حال وي .

د حضرت قتادة نه روايت دی هغه له حضرت انس بن مالک څخه روايت کوي هغه فرمايي رسول الله ﷺ فرمايل :

إن العبد إذا وضع في قبره وتولى أصحابه إنه ليسمع قرع نعالهم إذا انصرفوا أتاه الملكان فيقعدانه فيقولان ما كنت تقول في هذا الرجل محمد صلى الله عليه و سلم فأما المؤمن فيقول أشهد أنه عبد الله ورسوله صلى الله عليه و سلم فيقال له أنظر إلى مقعدك من النار قد أبدلك الله به مقعدا من الجنة قال فيراهما جميعا . [1]

ترجمة : کله چې بنده په قبرکې کېښودل شي او ملګري يې ورڅخه را وګرځي دی لا د هغوی د پښو اواز آوري پدې وخت کې ورته دوه فرښتې راشي دی

[1] **صحيح بخاري و مسلم**

را کینوي ورته وایي : ته پدې کس محمد ﷺ کې څه وایې؟ هغه چې مسلمان وي هغه وایي دا د الله بنده او د هغه رسول دی بیا ورته وایي : وګوره خپل ځای ته د په جهنم کې دا ستا ځای وو اوس الله درته ددې په ځای په جنت کې ځای درکړو او دواړه ځایونه ورته ښکاره کړي .

په یو بل حدیث کې حضرت قتادة د حضرت انس بن مالک څخه روایت کوي هغه فرمایي رسول الله ﷺ یو د کجورو باغ د بني النجار ته ننوتلو نو څه بل شان اواز یې واورېدو او وډار شو نو یې پوښتنه وکوله دا قبرونه د چا دي؟ دوی ورته وویل : اې د الله نبي دا څه کسان دي د جاهلیت په زمانه کې مړه شوي دي رسول الله ﷺ زر وویل : مونږ پناه غواړو د قبر له عذاب څخه د اور له عذاب څخه د دجال له فتنې څخه دوی ورته وویل: دا څه شی دي یا رسول الله ﷺ! رسول الله ﷺ وویل : دا خلک په قبرونو کې په عذاب کیږي او کله چې یو مؤمن په قبر کې کېښودل شي نو ملک ورته راشي ورته وایي : تا د څه عبادت کاوه (پدې وخت کې بنده چې مسلمان وي نو الله په هغه وخت کې هم ورته هدایت وکوي) او ورته وواېي: ما د الله عبادت کاوه بیا ورته رسول الله ﷺ یاد کړي ورته وایي : ته پدې بنده کې څه وایې؟ مسلمان بنده ورته وواېي : دا د الله بنده او د هغه رسول دی له ده څخه بله پوښتنه نه کوي بیا یو کور ورته ښکاره کړي چې په اور کې وي ورته وایي : دا په اور کې ستا کور وو لکن الله په تا باندې رحم وکولو او تاته یې لدې ځای څخه نجات درکړو او ددې په بدل کې یې درته په جنت کې کور درکړو دی به ورته وواېي : اوس ما پرېږدئ چې زه خپلوانو او د کور خلکو ته پدې زیری

ورکړم ... دوی به ورته ووايي : ته همدلته ويده شه ..

کافر چې کله په قبر کې کېښودل شي نو دوه ملکې به ورته راشي ورته به ووايي د څه عبادت د کاوه؟ دی به ورته وايي : زه خو نه یم خبر دوی به ورته وايي ته خبر هم نه وې او تا لوستي هم نه وو .. بيا به محمد ﷺ ورته ياد کړي ورته به ووايي ته پدې کس کې څه وايې؟ دی به ووايي ما ددې کس په اړه هغه څه ويل چې خلکو ويل ... لدې خبرې سره به يې په يوه د وسپنې په کمچينه باندې په سر ووهي داسې چيغه به وکوي چې ټول مخلوق يې آوري بغير د انسانانو او پېريانو څخه .[1]

عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ قَالَ : خَرَجْنَا مَعَ النَّبِيِّ محمد صلى الله عليه وسلم فِي جِنَازَةِ رَجُلٍ مِنَ الانْصَارِ فَانْتَهَيْنَا إِلَى الْقَبْرِ ، وَلَمَّا يُلْحَدْ ، فَجَلَسَ رَسُولُ اللَّهِ محمد صلى الله عليه وسلم وَجَلَسْنَا حَوْلَهُ ، وَكَأَنَّ عَلَى رُءُوسِنَا الطَّيْرَ ، وَفِي يَدِهِ عُودٌ يَنْكُتُ فِي الارْضِ ، فَرَفَعَ رَأْسَهُ ، فَقَالَ : "اسْتَعِيذُوا بِاللَّهِ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ "، مَرَّتَيْنِ أَوْ ثَلاثًا ، ثُمَّ قَالَ : نَّ الْعَبْدَ الْمُؤْمِنَ ، إِذَا كَانَ فِي انْقِطَاعٍ مِنَ الدُّنْيَا ، وَإِقْبَالٍ مِنَ الاخِرَةِ ، نَزَلَ إِلَيْهِ مَلائِكَةٌ مِنَ السَّمَاءِ ، بِيضُ الْوُجُوهِ كَأَنَّ وُجُوهَهُمُ الشَّمْسُ ، مَعَهُمْ كَفَنٌ مِنْ أَكْفَانِ الْجَنَّةِ ، وَحَنُوطٌ مِنْ حَنُوطِ الْجَنَّةِ حَتَّى يَجْلِسُوا مِنْهُ مَدَّ الْبَصَرِ ، ثُمَّ يَجِيءُ مَلَكُ الْمَوْتِ عَلَيْهِ السَّلام حَتَّى يَجْلِسَ عِنْدَ رَأْسِهِ ، فَيَقُولُ : أَيَّتُهَا النَّفْسُ الطَّيِّبَةُ ، اخْرُجِي إِلَى مَغْفِرَةٍ مِنَ اللَّهِ وَرِضْوَانٍ ، قَالَ : فَتَخْرُجُ تَسِيلُ كَمَا تَسِيلُ الْقَطْرَةُ مِنْ فِي السِّقَاءِ فَيَأْخُذُهَا ، فَإِذَا أَخَذَهَا لَمْ يَدَعُوهَا فِي يَدِهِ طَرْفَةَ عَيْنٍ ، حَتَّى يَأْخُذُوهَا فَيَجْعَلُوهَا فِي ذَلِكَ الْكَفَنِ ، وَفِي ذَلِكَ الْحَنُوطِ ، وَيَخْرُجُ مِنْهَا كَأَطْيَبِ نَفْحَةِ مِسْكٍ ، وُجِدَتْ عَلَى وَجْهِ الارْضِ ، قَالَ فَيَصْعَدُونَ بِهَا ، فَلا يَمُرُّونَ - يَعْنِي بِهَا - عَلَى مَلا مِنَ مَلائِكَةٍ، إِلا قَالُوا : مَا هَذَا الرُّوحُ الطَّيِّبُ فَيَقُولُونَ : فُلانُ

[1] رواه امام حمد ابن حنبل

بْنُ فُلانٍ ، بِأَحْسَنِ أَسْمَائِهِ الَّتِي كَانُوا يُسَمُّونَهُ بِهَا فِي الدُّنْيَا حَتَّى يَنْتَهُوا بِهَا إِلَى السَّمَاءِ الدُّنْيَا ، فَيَسْتَفْتِحُونَ لَهُ ، فَيُفْتَحُ لَهُمْ ، فَيُشَيِّعُهُ مِنْ كُلِّ سَمَاءٍ مُقَرَّبُوهَا إِلَى السَّمَاءِ الَّتِي تَلِيهَا ، حَتَّى يُنْتَهَى بِهِ إِلَى السَّمَاءِ السَّابِعَةِ ، فَيَقُولُ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ : اكْتُبُوا كِتَابَ عَبْدِي فِي عِلِّيِّينَ وَأَعِيدُوهُ إِلَى الارْضِ ، فَإِنِّي مِنْهَا خَلَقْتُهُمْ وَفِيهَا أُعِيدُهُمْ وَمِنْهَا أُخْرِجُهُمْ تَارَةً أُخْرَى قَالَ فَتُعَادُ رُوحُهُ فِي جَسَدِهِ ، فَيَأْتِيهِ مَلَكَانِ فَيُجْلِسَانِهِ ، فَيَقُولانِ لَهُ : مَنْ رَبُّكَ ، فَيَقُولُ : رَبِّيَ اللَّهُ ، فَيَقُولانِ لَهُ : مَا دِينُكَ ، فَيَقُولُ : دِينِيَ الاسْلامُ فَيَقُولانِ لَهُ : مَا هَذَا الرَّجُلُ الَّذِي بُعِثَ فِيكُمْ ، فَيَقُولُ : هُوَ رَسُولُ اللَّهِ محمد صلى الله عليه وسلم ، فَيَقُولانِ لَهُ : وَمَا عِلْمُكَ ، فَيَقُولُ ، قَرَأْتُ كِتَابَ اللَّهِ فَآمَنْتُ بِهِ وَصَدَّقْتُ ، فَيُنَادِي مُنَادٍ فِي السَّمَاءِ ، أَنْ صَدَقَ عَبْدِي فَأَفْرِشُوهُ مِنَ الْجَنَّةِ ، وَأَلْبِسُوهُ مِنَ الْجَنَّةِ ، وَافْتَحُوا لَهُ بَابًا إِلَى الْجَنَّةِ ، قَالَ : فَيَأْتِيهِ مِنْ رَوْحِهَا ، وَطِيبِهَا ، وَيُفْسَحُ لَهُ فِي قَبْرِهِ مَدَّ بَصَرِهِ ، قَالَ : وَيَأْتِيهِ رَجُلٌ حَسَنُ الْوَجْهِ ، حَسَنُ الثِّيَابِ ، طَيِّبُ الرِّيحِ ، فَيَقُولُ : أَبْشِرْ بِالَّذِي يَسُرُّكَ ، هَذَا يَوْمُكَ الَّذِي كُنْتَ تُوعَدُ ، فَيَقُولُ لَهُ : مَنْ أَنْتَ فَوَجْهُكَ الْوَجْهُ يَجِيءُ بِالْخَيْرِ ، فَيَقُولُ : أَنَا عَمَلُكَ الصَّالِحُ ، فَيَقُولُ : رَبِّ أَقِمِ السَّاعَةَ ، حَتَّى أَرْجِعَ إِلَى أَهْلِي وَمَالِي .

قَالَ : وَإِنَّ الْعَبْدَ الْكَافِرَ ، إِذَا كَانَ فِي إِقْبَالٍ مِنَ الدُّنْيَا ، وَانْقِطَاعٍ مِنَ الاخِرَةِ ، نَزَلَ إِلَيْهِ مِنَ السَّمَاءِ مَلائِكَةٌ سُودُ الْوُجُوهِ ، مَعَهُمُ الْمُسُوحُ ، فَيَجْلِسُونَ مِنْهُ مَدَّ الْبَصَرِ ، ثُمَّ يَجِيءُ مَلَكُ الْمَوْتِ ، حَتَّى يَجْلِسَ عِنْدَ رَأْسِهِ ، فَيَقُولُ : أَيَّتُهَا النَّفْسُ الْخَبِيثَةُ اخْرُجِي إِلَى سَخَطٍ مِنَ اللَّهِ وَغَضَبٍ ، قَالَ : فَتُفَرَّقُ فِي جَسَدِهِ ، فَيَنْتَزِعُهَا كَمَا يُنْتَزَعُ السَّفُّودُ مِنَ الصُّوفِ الْمَبْلُولِ ، فَيَأْخُذُهَا ، فَإِذَا أَخَذَهَا لَمْ يَدَعُوهَا فِي يَدِهِ طَرْفَةَ عَيْنٍ ، حَتَّى يَجْعَلُوهَا فِي تِلْكَ الْمُسُوحِ ، وَيَخْرُجُ مِنْهَا كَأَنْتَنِ رِيحِ جِيفَةٍ ، وُجِدَتْ عَلَى وَجْهِ الارْضِ ، فَيَصْعَدُونَ بِهَا ، فَلا يَمُرُّونَ بِهَا عَلَى مَلا مِنَ الْمَلائِكَةِ ، إِلا قَالُوا مَا هَذَا الرُّوحُ الْخَبِيثُ ، فَيَقُولُونَ : فُلانُ بْنُ فُلانٍ ، بِأَقْبَحِ أَسْمَائِهِ ، الَّتِي كَانَ يُسَمَّى بِهَا فِي الدُّنْيَا ، حَتَّى يُنْتَهَى بِهِ إِلَى السَّمَاءِ الدُّنْيَا ، فَيُسْتَفْتَحُ لَهُ ، فَلا يُفْتَحُ لَهُ ... فَيَقُولُ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ : اكْتُبُوا كِتَابَهُ فِي سِجِّينٍ فِي الارْضِ السُّفْلَى فَتُطْرَحُ رُوحُهُ طَرْحًا .. فَتُعَادُ رُوحُهُ فِي جَسَدِهِ ، وَيَأْتِيهِ مَلَكَانِ ، فَيُجْلِسَانِهِ ، فَيَقُولانِ لَهُ : مَنْ

رَبُّكَ فَيَقُولُ : هَاهْ هَاهْ لا أَدْرِي ، فَيَقُولانِ لَهُ : مَا دِينُكَ ، فَيَقُولُ هَاهْ هَاهْ لا أَدْرِي فَيَقُولانِ لَهُ : مَا هَذَا الرَّجُلُ الَّذِي بُعِثَ فِيكُمْ ، فَيَقُولُ : هَاهْ هَاهْ لا أَدْرِي فَيُنَادِي مُنَادٍ مِنَ السَّمَاءِ ، أَنْ كَذَبَ ، فَافْرِشُوا لَهُ مِنَ النَّارِ ، وَافْتَحُوا لَهُ بَابًا إِلَى النَّارِ ، فَيَأْتِيهِ مِنْ حَرِّهَا وَسَمُومِهَا ، وَيُضَيَّقُ عَلَيْهِ قَبْرُهُ ، حَتَّى تَخْتَلِفَ فِيهِ أَضْلاعُهُ ، وَيَأْتِيهِ رَجُلٌ قَبِيحُ الْوَجْهِ ، قَبِيحُ الثِّيَابِ ، مُنْتِنُ الرِّيحِ ، فَيَقُولُ : أَبْشِرْ بِالَّذِي يَسُوءُكَ ، هَذَا يَوْمُكَ الَّذِي كُنْتَ تُوعَدُ ، فَيَقُولُ : مَنْ أَنْتَ فَوَجْهُكَ الْوَجْهُ يَجِيءُ بِالشَّرِّ ، فَيَقُولُ : أَنَا عَمَلُكَ الْخَبِيثُ ، فَيَقُولُ : رَبِّ لا تُقِمِ السَّاعَةَ[1] .

ترجمة : د حضرت براء بن عاذب نه روايت دى هغه فرمايي مونږ له رسول الله ﷺ سره د يو سړي چې له انصارو څخه وو په جنازه کې را ووتلو تردې چې قبر ته ورسېدو قبر لا تيار شوى نه وو رسول الله ﷺ کېناستلو مونږ شاوخوا ترېنه کېناستلو داسې چُپ لکه زمونږ په سرونو باندې چې مارغان وي د رسول الله ﷺ په لاس مبارک کې يو لرگى وو زمکه يې پرې ګروله (لکه څوک چې فکر کوي او په زمکه کې لرگى وهي) بيا يې وفرمايل : په الله باندې د قبر له عذاب څخه پناه وغواړئ دوه ځله يې وفرمايل که درى ځله بيا يې وويل : کله چې مؤمن له دنيا نه د تللو او آخرت ته د ورتلو په حالت کې وي له اسمان څخه فرښتې ورته راښکته شي داسې سپين مخونه يې وي لکه لمر د جنت کفنونه ورسره وي او د جنت خوشبويي حنوط ورسره وي د سترگو د نظر د لګېدو په اندازه ورڅخه کيني بيا ملک الموت ورته راشي د سر سره ورته کيني ورته ووايي : اى مطمئنه نفسه د الله مغفرت او د هغه رضا ته را بهر شه هغه داسې په اسانه ورته را ووزي لکه څاڅکى چې د ابو د لوښي څخه و څاځي بيا يې ملک الموت

---

[1] صحيح البخاري

راواخلي په لاس کې يې د سترګو د رپ په اندازه هم نه پرېږدي ترڅو وايې اخلي او په هغه کفن کې (چې دوی له جنت نه په همدې روح پسې راوړی وي) کيږدي او په هغه حنوط کې يې کيږدي او داسې بوی ترې ځي لکه د ښو مسکو بيا هغه پورته اسمان خوا ته روان کړي د کومو ملائکو په خوا کې چې تيريږي هغوی پوښتنه کوي : دا پاک روح د چا دی؟ دوی ورته وايي دا فلانی د فلاني زوی دی هغه نومونه ورته يادوي چې په دنيا کې دده غوره او ښه نومونه وي ترڅو چې د دنيا اسمان ته يې ورسوي ملائکې د څوکيدارانو ملائکو څخه وغواړي چې دروازه خلاصه کړي بيا هغه دروازه ورته خلاصه کړل شي او پدې اسمان کې چې څومره مقربې او غوره فرښتې دي هغه هم له دوی سره د بدرګې او احترام په توګه روانې شي تر دوهم اسمان پورې بيا د دوهم اسمان فرښتې ورسره ملګرې شي تر دريم پورې پدې توګه تر اوم اسمان پورې ورسيږي هلته الله وربانده حکم وکوي چې زما ددې بنده عملنامه په عليينو کې جمع کړئ او دی بېرته دنيا ته ولېږئ ځکه دی مې له همدې نه پيدا کړئ دی او همدې ته يې ور ګرځوم او له همدې نه به يې بيا را پورته کوم نو روح يې بېرته جسد ته را وګرځي بيا دوه فرښتې ورته راشي ورته ووايي : ستا رب څوک دی ؟ دی ورته ووايي : زما رب الله دی هغوی ورته ووايي : ستا دين څه دی؟ دی ورته ووايي : زما دين اسلام دی هغوی ورته ووايي : ددې کس په اړه څه وايي چې په تاسې کې لېږل شوی وو؟ دی به ورته ووايي : هغه د الله رسول حضرت محمد ﷺ دی دوی به ورته ووايي : ته څه خبر يې؟ دی به ورته ووايي : ما د الله کتاب لوستلی دی دی ايمان مې وربانديې راوړی دی او په هغه مې يقين کړی دی بيا به د اسمان څخه يو اواز کونکی اواز وکوي : زما بنده رښتيا وويل : د جنت نه ورته فرش ورکړئ او د جنت له لباس څخه ده ته لباس ورکړئ

او د جنت څخه ورته يوه دروازه ور خلاصه کړئ رسول الله ﷺ بيا فرمايل : بيا د جنت نه ورته تازه هوا ګانې او د جنت ښه بويونه را تلل شروع شي او دده قبر ده ته د سترګو د نظر په اندازه باندې ازاد کړل شي بيا ورته يو ښکلی شکل لرونکی کس راشي ، ښکلې جامې يې وي ، ښه بوی ورڅخه ځي ده ته به ووايي : هغه زيری مې دربانديږي چې تا خوشحاله کوي دا هغه ورځ ده چې لتا سره يې وعده کېده دی به ورته ووايي : ته څوک يې ستا مخ خو داسې مخ دی چې خير راوړي هغه به ورته ووايي زه ستا نېک عمل يم دی به وايي ای الله زر قيامت کړه چې زه خپل اهل او خپل مال ته ورشم ...

رسول الله ﷺ فرمايل کله چې کافر له دنيا نه د تللو او آخرت ته د ورتللو په حالت کې وي له اسمان څخه ورته تور مخونه لرونکې فرښتې راشي د دوزخ ټوټه ورسره وي د سترګو د نظر په اندازه به لده څخه لرې کيني ملک الموت به راشي ورته به ووايي : اې مرداره نفسه د الله قهر او د هغه غصې ته را ووزه روح به دده په بدن کې له ويرې نه خپور شي بيا يې فرښته په زور داسې را وباسي لکه اغزي چې له لندو وړيو څخه را ويستل کيږي (چې داسې ويستل يې بالکل نا ممکن وي چې وړی ورسره ونه نښلي) ترديې چې دا روح واخلي چې وايې خلي نو بيا يې د سترګو د رپ په اندازه هم په لاس کې نه ساتي بيا يې په هغه د دوزخ په ټوټه کې ونغاړي او داسې بوی ورڅخه ځي لکه په دنيا کې د زمکې په مخ باندې د مردارې بد ترين بوی نو بيا يې پورته روان کړي نو بيا چې د کومو ملائکو په خوا کې تيريږي هغوی يې پوښتنه کوي دا مردار روح د چا دی؟ دوی ورته وايي دا فلانی د فلاني زوی دی هغه نومونه ورته يادوي چې په دنيا کې دده تر ټولو

بد نومونه وي تردې چې د دنيا اسمان ته ورسيږي د اسمان د دروازې له څوکيدار څخه به وغواړي چې دروازه ورته خلاصه کړي خو هغه به دروازه ورته نه خلاصوي الله به ووايي دده عملنامه په سجين کې وليکئ په شکتنۍ زمکه کې بيا به د هغه روح له هغه ځايه را وغورځول شي نو روح به يې جسد ته را ورسيږي دوه فرښتې به ورته راشي دی به را کينوي ورته به ووايي : رب د څوک دی؟ دی به ورته ووايي : هاه هاه زه خو نه يم خبر فرښتې به ورته ووايي : دين د څه دی؟ دی به ورته بيا وايي : هاه هاه زه خو نه يم خبر بيا به ورته ووايي : ددې کس په اړه ته څه وايې چې په تاسې کې در ليږل شوی وو؟ دی به ورته بيا وايي : هاه هاه زه خو نه يم خبر بيا به له اسمان څخه اواز وشي چې ده درواغ وويل (صحيح ځواب يې ورنه کړو) د اور نه ورته فرش جوړ کړئ او اور ته ورته دروازه ور خلاصه کړئ بيا به ورته د هغه نه ورته ګرمې هواګانې او بد بويونه راتلل شروع شي او قبر به وربانديې دومره را تنګ شي چې دده اندامونه به يو تر بل تېر کړي او يو بد مخ لرونکی انسان به ورته راشي بدې جامې به يې وي بد بوی به ورڅخه ځي ورته به ووايي : داسې زيری مې دربانديې چې تا خفه کوي دا هغه ورځ ده چې ته به ورڅخه ډارول کېدلې دی به ورته وايي : ته څوک يې چې ستا دا مخ د شر د راوړلو دی دی به ورته ووايي : زه هغه ستا بد عمل يم دی به وايي : ای الله قيامت مه راوله ...

حضرت ابو هريره فرمايي رسول الله ﷺ فرمايل :

إِذَا قُبِرَ الْمَيِّتُ -أَوْ قَالَ أَحَدُكُمْ- أَتَاهُ مَلَكَانِ أَسْوَدَانِ أَزْرَقَانِ، يُقَالُ لِأَحَدِهِمَا الْمُنْكَرُ وَالْآخَرُ النَّكِيرُ، فَيَقُولَانِ :مَا كُنْتَ تَقُولُ فِي هَذَا الرَّجُلِ؟ فَيَقُولُ مَا كَانَ يَقُولُ: هُوَ عَبْدُ اللَّهِ وَرَسُولُهُ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ. فَيَقُولَانِ :قَدْ كُنَّا نَعْلَمُ أَنَّكَ تَقُولُ هَذَا، ثُمَّ

يُفْسَحُ لَهُ فِي قَبْرِهِ سَبْعُونَ ذِرَاعًا فِي سَبْعِينَ، ثُمَّ يُنَوَّرُ لَهُ فِيهِ، ثُمَّ يُقَالُ لَهُ: نَمْ . فَيَقُولُ : أَرْجِعُ إِلَى أَهْلِي فَأُخْبِرُهُمْ .فَيَقُولاَنِ: نَمْ كَنَوْمَةِ الْعَرُوسِ الَّذِي لاَ يُوقِظُهُ إِلاَّ أَحَبُّ أَهْلِهِ إِلَيْهِ حَتَّى يَبْعَثَهُ اللَّهُ مِنْ مَضْجَعِهِ ذَلِكَ. وَإِنْ كَانَ مُنَافِقًا قَالَ: سَمِعْتُ النَّاسَ يَقُولُونَ فَقُلْتُ مِثْلَهُ لاَ أَدْرِي. فَيَقُولاَنِ: قَدْ كُنَّا نَعْلَمُ أَنَّكَ تَقُولُ ذَلِكَ، فَيُقَالُ لِلأَرْضِ: الْتَئِمِي عَلَيْهِ . فَتَلْتَئِمُ عَلَيْهِ فَتَخْتَلِفُ فِيهَا أَضْلاَعُهُ، فَلاَ يَزَالُ فِيهَا مُعَذَّبًا حَتَّى يَبْعَثَهُ اللَّهُ مِنْ مَضْجَعِهِ ذَلِكَ. [1]

ترجمة : كله چې مړی په قبر كې كېښودل شي او يا يې وويل كله چې په تاسې كې كوم يو په قبر كې كېښودل شي دوه ملائكې ورته راشي تور رنګونه يې وي شنې سترګې يې وي يوې ته منكر او بلې ته نكير ويل كيږي ورته وايي : ددې سړي په حق كې څه وايې؟ دی وايي دا د الله بنده او د هغه رسول دی زه ددې ګواهي وركوم چې نشته په حقه معبود مګر يوازې الله دی محمد د هغه بنده او د هغه رسول دی دوی ورته وايي : مونږ پوهېدو چې ته به همداسې وايې بيا ورته قبر اويا په اويا متره كې فراخه كړې بيا قبر ورته رڼا كړي بيا ورته وايي اوس ويده شه دی ورته وايي زه به ورشم خپل كور واله ته به زيری وركړم دوی به ورته وايي نه اوس داسې ويده شه لكه ناوې چې ويده كيږي او بيا ددې په اهل كې چې دېته څوك ګران وي هغه يې را ويښوي تردې چې الله يې له قبر نه پورته كړي او كه منافق وي نو هغه په ځواب كې وايي : ما له خلكو آورېدل چې دده په اړه يې څه ويل ما هم وويل نور زه نه پوهېږم دوی به ورته ووايي : مونږ پوهېدو چې ته به همداسې ځواب وايې بيا زمكې ته ووايې وربانديې را ټوله شه هغه پرې را ټوله شي او دده اندامونه يو له بل سره تېر كړي بيا به تر هغه وخته پدې عذاب كې وي چې الله يې را پورته كړي .

[1] صحيح الترمذي

حضرت عثمان فرمايي : كَانَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم إِذَا فَرَغَ مِنْ دَفْنِ الْمَيِّتِ وَقَفَ عَلَيْهِ فَقَالَ :(اسْتَغْفِرُوا لِأَخِيكُمْ، وَسَلُوا لَهُ بِالتَّثْبِيتِ؛ فَإِنَّهُ الْآنَ يُسْأَلُ) .[1]

ترجمة : كله به چې رسول الله ﷺ د مړي له خښولو څخه فارغ شو وبه دريدو او وبه يې فرمايل : د خپل ورور لپاره مو بښنه وغواړئ او د هغه لپاره د ثبات سوال وکوئ ځکه له ده څخه اوس سوال كيږي .

حضرت عائشه فرمايي : دَخَلَتْ عَلَيَّ عَجُوزَانِ مِنْ عُجُزِ يَهُودِ الْمَدِينَةِ فَقَالَتَا لِي : إِنَّ أَهْلَ الْقُبُورِ يُعَذَّبُونَ فِي قُبُورِهِمْ. فَكَذَّبْتُهُمَا وَلَمْ أُنْعِمْ أَنْ أُصَدِّقَهُمَا، فَخَرَجَتَا وَدَخَلَ عَلَيَّ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم فَقُلْتُ لَهُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّ عَجُوزَيْنِ وَذَكَرْتُ لَهُ فَقَالَ :((صَدَقَتَا، إِنَّهُمْ يُعَذَّبُونَ عَذَابًا تَسْمَعُهُ الْبَهَائِمُ كُلُّهَا)). فَمَا رَأَيْتُهُ بَعْدُ فِي صَلَاةٍ إِلَّا تَعَوَّذَ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ .[2]

ترجمة : ماته د مديني منورې له يهودو نه دوه زړې ښځې راغلې دوی ماته وويل : په قبرونو كې چې كوم خلك دي هغوی ته په قبرونو كې عذاب وركول كيږي په هغې وخت كې زه نه وم خبره ما يې خبره ونه منله دوی ووتلې رسول الله ﷺ راغلو ما ورته وويل : يا رسول الله ﷺ دوه زړې ښځې راغلې وې ما ورته د هغوی خبره وكوله چې كومه يې ماته كوله رسول الله ﷺ وفرمايل : دوی رښتيا ويلي دي دوی په قبر كې عذاب كيږي او د هغوی د عذاب اواز ټول چارپايان آوري بيا ما د هغې نه وروسته رسول الله ﷺ د هر مانځه نه وروسته

[1] سنن ابي داود
[2] صحيح البخاري و مسلم

ليدو چې د قبر له عذاب څخه به يې پناه غوښته .

حضرت عبد الله بن عباس فرمايي رسول الله ﷺ د دوو قبرونو په خوا کې تېرېدلو وېې فرمايل : **إِنَّهُمَا لَيُعَذَّبَانِ وَمَا يُعَذَّبَانِ فِي كَبِيرٍ، أَمَّا أَحَدُهُمَا فَكَانَ لَا يَسْتَتِرُ مِنَ الْبَوْلِ، وَأَمَّا الْآخَرُ فَكَانَ يَمْشِي بِالنَّمِيمَةِ . ثُمَّ أَخَذَ جَرِيدَةً رَطْبَةً فَشَقَّهَا نِصْفَيْنِ، فَغَرَزَ فِي كُلِّ قَبْرٍ وَاحِدَةً . قَالُوا : يَا رَسُولَ اللَّهِ لِمَ فَعَلْتَ هَذَا ؟ قَالَ : لَعَلَّهُ يُخَفِّفُ عَنْهُمَا مَا لَمْ يَيْبَسَا .** [1]

ترجمة : دوی دواړه په عذاب کيږي او په کومه لويه خبره کې (چې دوی ته لويه ښکارېده او يا تاسې ته لويه ښکاره کيږي) کې نه په عذاب کيږي د يو به يې له متيازو نه ځان نه ساتلو او دا بل به د دوو کسانو په مينځ کې شيطانت کاوه بيا يې يو تازه نيالګی را واخيستلو او په مينځ کې دوه کړو د هر يوه په قبر يې يوه برخه کېښوده صحابه وو ورته وويل : يا رسول الله ﷺ دا د ولې داسې وکول؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : ترڅو چې دا وچې شوې نه وي کېدای شي له دوی څخه عذاب سپک کړي .

په يو حديث کې رسول الله ﷺ امر کړی دی چې په مانځه کې د قبر له عذاب څخه پناه غواړئ رسول الله ﷺ فرمايي : **إِذَا تَشَهَّدَ أَحَدُكُمْ فَلْيَسْتَعِذْ بِاللَّهِ مِنْ أَرْبَعٍ، يَقُولُ : اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ جَهَنَّمَ، وَمِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ، وَمِنْ فِتْنَةِ الْمَحْيَا وَالْمَمَاتِ، وَمِنْ شَرِّ فِتْنَةِ الْمَسِيحِ الدَّجَّالِ.** [2]

---

[1] **صحيح البخاري و مسلم**
[2] **صحيح مسلم**

ترجمة : کله چې تاسې چا التحيات ويل نو بيا د په الله باندې له څلورو شيانو څخه پناه غواړي او وايي دي ای الله زه په تا باندې پناه غواړم د عذاب د دوزخ نه او د عذاب د قبر نه او د ژوند او مرگ له فتنې څخه او د فتنې د دجال څخه .

د قبر عذابونه

دا چې په قبر کې مړيو ته څه ډول عذابونه ورکول کيږي پدې اړه مختلف اقوال دي او مختلف روايات دي د مثال په توگه :

١. په کمچينو سره وهل

په قبرونو کې مړي په کمچينو سره وهل کيږي يا په گرزونو سره وهل کيږي چې د وسپنې نه جوړ وي يا له بل شي نه جوړ وي پدې اړه يو حديث د حضرت امامة الباهلي څخه روايت شوی دی هغه فرمايي : **أتى النبي صلى الله عليه و سلم بقيع الغرقد فوقف على قبرين فقال أدفنتم ها هنا فلان وفلانة ؟ أو قال فلانا وفلانا ؟ قالوا نعم فقال : قد أقعد فلان الآن يضرب ثم قال والذي نفسي بيده لقد ضرب ضربة ما بقي منه عرق إلا انقطع ولقد تطاير قبره نارا ولقد صرخ صرخة يسمعها الخلائق إلا الثقلين الجن والأنس ولولا تمريج في صدوركم وتزييدكم في الحديث لسمعتم ما أسمع قالوا يا رسول الله ما ذنبهما قال أما فلان فكان لا يستبرئ من البول وأما فلان أوفلانة فكان يأكل لحوم الناس.**

رسول الله ﷺ بقيع ته راغلو له دوو قبرونو سره ودريدو پوښتنه يې وکوله دلته مو فلانی او فلانۍ خښ کړل او يا يې وويل چې دلته مو فلانی او فلانی خښ کړل (دواړه يې نارينه ياد کړل) دوی

ورته وویل : هو بیا رسول الله ﷺ وفرمایل : فلانی را کینول شو اوس وهل کیږي بیا یې وویل زما د په هغه ذات قسم وي چې زما نفس د هغه په لاس کې دی هغه په یو داسې وار سره ووهل شو چې د هغه هېڅ رګ پاتې نشو مګر پرې شو او له قبر نه یې اور باد شو او داسې یوه چیغه یې وکوله چې ټولو مخلوقاتو واورېده بغیر د پیریانو او انسانانو نه او که ستاسې په سینو کې کمزوري نه وای او ستاسې خبرې نه زیاتېدلی نو تاسې به هغه څه آورېدلي وو چې زه یې آورم صحابه وو پوښتنه وکوله یا رسول الله ﷺ د دوی ګناه څه ده؟ رسول الله ﷺ وفرمایل : دا فلانی چې دی ده به له متیازو نه ځان پاک نه ساتلو او دا بل به د خلکو غوښې خوړلې (د خلکو غیبت به یې کاوه) .

همدارنګه امام ابن جریر په خپل تفسیر کې د اسباط له لارې یو روایت نقل کړی دی هغه فرمایي حضرت براء بن عازب فرمایل : **إن الكافر إذا وضع في قبره أتته دابة كأن عينيهما قدران من نحاس معها عمود من حديد فتضربه ضربة بين كتفيه فيصيح فلا يسمع صوته أحد إلا لعنه ولا يبقى شيء إلا سمع صوته إلا الثقلين الجن والأنس.**

ترجمة : کافر چې کله په قبر کې کېښودل شي نو یوه دابة ورته راشي دواړه سترګې یې لکه د میسو کټوې داسې وي د وسپنې عمودونه (پایې) ورسره وي په هغه باندې یو وار وکوي د دواړو اوږو په مینځ کې هغه لدې وار سره یوه چیغه وکوي چې هرشی یې اواز واوري وربانډې لعنت وایي او بغیر د انسانانو او پېریانو څخه یې نور هرشی اواز آوري .

همدارنګه یو بل عالم اللالکائي له محمد بن المنکدر څخه نقل کړي دي هغه فرمايي : **قال بلغني أن الله عز و جل يسلط على الكافر في قبره دابة عمياء بيدها سوط من حديد رأسها مثل غرب الجمل تضربه إلى يوم القيامة لا تراه ولا تسمع صوته فترحمه .**

ترجمة : ماته دا را رسيدلې دي چې الله په کافر باندې د هغه په قبر کې يوه دابة مسلطه کوي چې په سترګو ړنده وي په لاس کې يې د وسپنې دره وي سر يې لکه د اوښ دومره وي تر قيامت پورې يې وربانديې وهي نه يې ويني او نه يې اواز آوري چې رحم يې وربانديې راشي .

۲. ماران او لړمان وربانديې مسلط کيدل

په قبر کې بل عذاب دادی چې په انسان باندې ماران او لړمان مسلط کړي هغه يې چيچي او دا هم په قبر کې ډير سخت عذاب دی په رښتيا سره چې د الله هر عذاب ډير سخت دی حضرت ابو هريرة د رسول الله ﷺ نه روايت کوي او فرمايي : **أنه قال أتدرون فيما أنزلت هذه الآية { فإن له معيشة ضنكا } أتدرون ما المعيشة الضنك قالوا الله ورسوله أعلم قال عذاب الكافر في قبره والذي نفسي بيده إنه ليسلط عليه تسعة وتسعون تنينا أتدرون ما التنين قال تسعة وتسعون حية لكل حية سبعة رؤوس وفي رواية تسعة رؤوس ينفخون في جسمه ويلسعونه ويخدشونه إلى يوم يبعثون .** [1]

ترجمة : رسول الله ﷺ وفرمايل تاسې پوهيږئ چې دا آيت د څه په اړه نازل شوی دی (بېشکه د دوی لپاره به ژوند سخت وي) تاسې پوهيږئ چې

[1] رواه بقي بن مخلد في مسنده

المعيشة الضنك څه شی دی؟ صحابه وو ورته وویل : الله او د هغه رسول وربانديڼه خبر دي رسول الله ﷺ وفرمایل : دا په قبر کې د کافر عذاب دی زما د په هغه ذات قسم وي چې زما روح د هغه په لاس کې دی چې الله وربانديږ ۹۹ تنين مسلط کوي تاسې خبر یاست چې تنين څه شی دی؟ بيا يې وویل تنين ۹۹ ماران دي د هر مار اوه سرونه وي او په یو روایت کې نه سرونه وي دا دده په جسم کې زهر پوه کوي او دی چیچي او په ده باندې شکارې لګوي تر قیامت پورې .

همدارنګه په بل حدیث کې حضرت ابو سعید الخدري له رسول الله ﷺ څخه نقل کوي چې هغه مبارک ﷺ فرمایل : **يسلط على الكافر في قبره تسعة وتسعون تنينا يلدغونه حتى تقوم الساعة ولو أن تنينا منها نفخ على الأرض ما أنبتت خضراء .** [1]

ترجمة : په کافر باندې مسلط کوي د هغه په قبر کې ۹۹ تنين (تنين یو ډول مار دی لړ مخکې تېر شو) دا بنده په قبر کې چیچي ترڅو چې قیامت شوی نه وي او هغه داسې تنين او داسې ماران وي که يې یو زمکې ته پوکی را وکوي نو په زمکه به شنه ګیاه شنه نشي .

په بل حدیث کې حضرت عائشه روایت کوي چې رسول الله ﷺ فرمایل : **يرسل على الكافرين حيتان واحدة من قبل رأسه والأخرى من قبل رجليه يقرصانه قرصا كلما فرغتا عادتا إلى يوم القيامة.**

ترجمة : الله په قبر کې یو کافر ته دوه ماران ور لیږي یو يې د سر لوري ته ورځي او بل يې د

[1] **اخرجه الاما احمد**

پښو له اړخه دا دواړه يې چيچي په مسلسله توګه او كله چې لدې چيچلو څخه فارغ شي نو د قيامت ورځ شوي وې هلته لاړ شي يعني د خښولو نه يې وروسته د قيامت تر ورځې پورې چيچي .

۳. سر يې په تيږه وهل كيږي

په قبر كې يو عذاب دادى چې د مړي سر په تيږه وهل كيږي چې ميده ميده شي او بيا ورته صبر كوي هغه بېرته سره جوړ شي او چې څنګه جوړ شي بيا وربانډې وار وكوي دا هم ډير سخت عذاب دى د حضرت سمرة بن جندب نه روايت شوى دى او په بخاري شريف كې موجود دى چې رسول الله ﷺ فرمايل نن شپه ما خوب وليدو چې يو كس څملول شوى وي بل ورته ولاړ وي او هغه په سر بانډي په كاڼي بانډې وهي او د هغه سر ميده ميده كوي بيرته هغه سره جوړيږي او بيا همدا كار ورسره كيږي رسول الله ﷺ فرمايي ما پوښتنه وكوله چې دا څوك دى؟ يعني ده څه جرم كړى دى چې دا كار ورسره كيږي؟ بيا وروسته راته وويل شول چې دا هغه كس دى چې له مانځه څخه به ويده كېدو (په مانځه كې به يې سستي كوله د مانځه وخت به داخل وو دى به ويده شو او مونځ به يې ونه كولو) .

٤. سترګې خوله او پوزه يې پرې شكول كيږي

په مخكني حديث كې په يو ځاى كې رسول الله ﷺ فرمايي : بيا ما يو كس وليدو چې شا په تخته څملول شوى وو او بل كس وربانډې آخته وو په لاس كې يې تيرې وسپنې وې هغه به پرې آخته شو د هغه خوله به يې تر شا پورې ور څيرې كړه د هغه

پوزه به يې تر شاه پورې ور ځيرې کړه او د هغه سترګه به يې هم ور ځيرې کړه بيا به بل طرف ته ورغلو چې بل طرف به يې ور ځېرې کولو نو اول طرف به يې بېرته جوړ شوی وو ما پوښتنه وکوله چې دا څوک دي؟ يعني دده سره دا عمل ولې کيږي؟ دوو فرښتو راته وويل دا هغه کس دی چې له کور نه به را ووتلو دروغ به يې ويل او هغه دده دروغ به بيا مشهور شول او د دنيا کنارو ته به ورسېدل .

٥. قبر ورباندې را تنګول کيږي

يو ډول عذاب يې دادی چې قبر باندې پرې راتنګول کيږي تردې چې د هغه اندامونه يو تر بل تېر کړي او دا عذاب په ډېرو زياتو احاديثو کې ياد کړل شوی دی په يو روايت کې د حضرت ابي سعيد الخدري څخه روايت شوی دی هغه فرمايي رسول الله ﷺ فرمايل : **في الكافر يضيق عليه قبره حتى يخرج دماغه من بين أظفاره ولحمه.**

ترجمة : د کافر په حق کې رسول الله ﷺ فرمايل چې په هغه باندې قبر را تنګيږي تردې چې د هغه دماغ د ده د نوکانو او غوښې تر مينځ را ووزي .

علماء کرام فرمايي چې يو ځل د قبر را تنګېدل د هرچا لپاره دي که مسلمان وي او که کافر وي پدې باندې دوی دليل وايي چې کله حضرت سعد بن معاذ دفن کړل شو رسول الله ﷺ وفرمايل : **إن للقبر ضغطة لو كان أحد ناجيا منها لنجا منها سعد بن معاذ .** [1]

---

[1] **رواه الامام احمد**

ترجمة : بېشکه د قبر لپاره یو تنیګول وي که چېرته یو څوک ترې خلاصېدلی نو حضرت سعد بن معاذ به ورڅخه خلاص وو .

حضرت عائشه بنت سعد فرمايي ماته حضرت ام المؤمنين حضرت عائشې وفرمایل : ماته رسول الله ﷺ وفرمایل : **تعوذي بالله من عذاب القبر فإنه لو نجا منه أحد لنجا سعد بن معاذ لكنه لم يزد على ضمه .** [1]

ترجمة : د قبر له عذاب څخه په الله باندې پناه وغواړه بېشکه که یو څوک د قبر له عذاب څخه خلاصېدلی نو حضرت سعد بن معاذ به ورڅخه خلاص وو لکن بیا یې هم هغه ډېر تنیګ نه کړو .

همدارنګه حضرت عبد الله بن عمر فرمايي رسول الله ﷺ د حضرت سعد بن معاذ په اړه فرمایل : **هذا الذي تحرك له العرش وفتحت له أبواب السماء وشهده سبعون ألفا من الملائكة لقد ضم ضمة ثم فرج عنه .** [2]

ترجمة : دا هغه ذات وو چې عرش ورته وښوریدو او د اسمان دروازې ورته خلاصې شوې او جنازې ته یې اویا زره فرښتې راغلې وې هغه هم یو ځل تنیګ کړل شو بېرته پرېښودل شو .

همدارنګه یو بل روایت دی حضرت انس بن مالک فرمايي : **أن النبي صلى الله عليه و سلم دفن صبيا أو صبية فقال لو نجا أحد من ضمة القبر لنجا منها هذا الصبي .** [3]

---

[1] **رواه الطبراني**
[2] **رواه النسائي**
[3] **رواه الطبراني**

ترجمة : بېشکه رسول الله ﷺ يو ماشوم يا ماشومه دفن کړه بيا يې وويل : که يو چا د قبر له عذاب څخه نجات پيدا کولی شوای نو دې ماشوم به ترې نجات پيدا کړی وو .

د قبر خبرې

چې په هغه تياره کې له انسان سره خبرې کونکی پيدا شي او له انسان سره خبرې کول شروع شي څومره د وېرې خبره ده ته دا فکر کولی شې چې هلته خبرې کونکی څوک وي؟ ... هلته خبرې کونکی د انسان خپل قبر وي حديث يې مخکې تېر شول له حضرت ابي سعيد الخدري نه روايت دی هغه فرمايي : دَخَلَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم مُصَلاَّهُ فَرَأَى نَاسًا كَأَنَّهُمْ يَكْتَشِرُونَ قَالَ " أَمَا إِنَّكُمْ لَوْ أَكْثَرْتُمْ ذِكْرَ هَاذِمِ اللَّذَّاتِ لَشَغَلَكُمْ عَمَّا أَرَى فَأَكْثِرُوا مِنْ ذِكْرِ هَاذِمِ اللَّذَّاتِ الْمَوْتِ فَإِنَّهُ لَمْ يَأْتِ عَلَى الْقَبْرِ يَوْمٌ إِلاَّ تَكَلَّمَ فِيهِ فَيَقُولُ أَنَا بَيْتُ الْغُرْبَةِ وَأَنَا بَيْتُ الْوَحْدَةِ وَأَنَا بَيْتُ التُّرَابِ وَأَنَا بَيْتُ الدُّودِ . فَإِذَا دُفِنَ الْعَبْدُ الْمُؤْمِنُ قَالَ لَهُ الْقَبْرُ مَرْحَبًا وَأَهْلاً أَمَا إِنْ كُنْتَ لأَحَبَّ مَنْ يَمْشِي عَلَى ظَهْرِي إِلَىَّ فَإِذْ وُلِّيتُكَ الْيَوْمَ وَصِرْتَ إِلَىَّ فَسَتَرَى صَنِيعِي بِكَ . قَالَ فَيَتَّسِعُ لَهُ مَدَّ بَصَرِهِ وَيُفْتَحُ لَهُ بَابٌ إِلَى الْجَنَّةِ . وَإِذَا دُفِنَ الْعَبْدُ الْفَاجِرُ أَوِ الْكَافِرُ قَالَ لَهُ الْقَبْرُ لاَ مَرْحَبًا وَلاَ أَهْلاً أَمَا إِنْ كُنْتَ لأَبْغَضَ مَنْ يَمْشِي عَلَى ظَهْرِي إِلَىَّ فَإِذْ وُلِّيتُكَ الْيَوْمَ وَصِرْتَ إِلَىَّ فَسَتَرَى صَنِيعِي بِكَ . قَالَ فَيَلْتَئِمُ عَلَيْهِ حَتَّى تَلْتَقِيَ عَلَيْهِ وَتَخْتَلِفَ أَضْلاَعُهُ . [1]

ترجمة : رسول الله خپل د مانځه ځای ته ننوتلو وې ليدل چې هلته خلک وو هغوی خندل رسول الله ﷺ ورته وفرمايل که چېرته تاسې د مرګ ذکر زيات کولی نو تاسې به يې لدې نه مشغول کړي وی کوم حالت چې زه ستاسې ا وس وينم مرګ ډېر يادوئ

[1] صحيح الترمذي

ځکه په قبر باندې هېڅ ورځ نه ر اځي مګر هغه پکې خبرې کوي او وايي زه د غربت کور يم او زه د يوازې توب کور يم او زه د خاورو کور يم او زه د چينجو کور يم کله چې يو مؤمن بنده خښ کړل شي قبر ورته وايي په خير راغلې بېشکه ته به چې زما په شا ګرځېدلې ماته ګران وې اوس چې ته زما ګېډې ته راغلې نو دلته به هم وګورې چې زه لتا سره څه کوم نو بيا ورته قبر دومره فراخ شي لکه څومره چې دده نظر کار کوي او جنت ته ورته يوه دروازه ورخلاصه شي او کله چې فاجر بنده او يا کافر خښ کړل شي قبر ورته وايي تاته د سترګي مشي نه وي ته به چې زما په شا باندې ګرځېدې زما بد ايسيدې چې اوس ته زما په واک کې راغلې او ماته راغلې اوس به ته وګورې چې زه لتا سره څه کوم بيا وربانديې زمکه را ټوله شي تردې چې دی کلک ونيسي او دده اندامونه سره يو تر بل تېر کړي (د ښي طرف هډوکي چپ او د چپ طرف هډوکي ښې طرف ته ورسوي) .

همدارنګه ابي نعيم په حلية کې ليکلي دي چې کله انسان په قبر کې کېښودل شي نو د قبر لپاره ژبه پيدا شي او انسان ته وايي : **يا ابن آدم، كيف نسيتني؟! أما علمت أني بيت الأكلة، وبيت الدود، وبيت الوحشة .** [1]

ترجمة : اې بني ادمه څنګه د زه هېر کړی وم؟ ته پدې نه پوهېدې چې زه د داسې شي کور يم چې هغوی خوړل کوي ، زه د چينجو کور يم ، او زه د وېرې کور يم؟

ابن مبارك فرمايي : **بلغني أن المؤمن إذا مات وحُمِلَ، قال: أسرعوا بي، فإذا وُضِعَ في لحده كلَّمته الأرض فقالت له: إن**

[1] **حلية**

كنتُ لأحبُّك وأنت على ظهري، فأنت الآن أحب إلي، فإذا مات الكافر وحُمِلَ قال: ارجعوا بي، فإذا وُضِعَ في لَحده كلَّمته الأرضُ فقالت: إن كنتُ لأبغضك وأنت على ظهري، فأنت الآن أبغض إليَّ .[1]

ترجمة : ماته دا را رسېدلي دي چې يو مؤمن کله مړ شي او په اوږو واخيستل شي نو دی وايي زر مې يوسئ کله چې په لحد کې کېښودل شي نو زمکه ورسره خبرې کوي ورته وايي ته هغه وخت ماته ګران وې چې زما په شا ګرځېدې نو ته اوس هم ماته ګران يې او کله چې کافر مړ شي په اوږو واخيستل شي چيغې وهي چې ما بېرته وګرځوئ کله چې په لحد کې کېښودل شي زمکه ورسره خبرې کوي ورته وايي ته هغه وخت زما بد ايسيدې چې زما په شا ګرځېدې نو ته مې اوس هم بد ايسې .

د قبر د عذاب کشف

الله ځينې بندګانو ته د قبر عذاب ور ښکاره کړی دی او د ځينې اولياوو د کرامت په اړه هم راغلي دي چې هغوی ته به الله ور ښکاره کول چې په قبر کې د مړي څه حال دی دا د رسول الله ﷺ په زمانه کې هم واقع شوي دي او له هغه نه وروسته هم ډېرې حادثې داسې راغلي دي ما چې ددې خبرې په اړه لټون شروع کړو ما فکر نه کاوه چې ماته به دومره خبرې مخې ته راځي لکن دومره ډېرې واقعې مخې ته راغلې چې بيا زه پوه شوم چې دا ټولې زه د خپل مختصر کتاب برخه نه شم ګرځولی نو يو څو مې ترې را ټولې او تاسې ته يې ډالی کوم .

امام طبراني د عبدالله بن محمد بن المغيرة له لارې نقل کړي دي روايت د مالک بن مغول نه شوی

[1] زوائد الزهد لابن مبارك

هغه لـه حضرت نـافـع نـه روايـت كـوي هغه لـه حضرت ابـن عـمـر نـه روايـت كړى دى هغه فـرمـايـي :
بينما أنا أسير بجنبات بدر إذ خرج رجل من حفرة إلى حفرة في عنقه سلسلة فنادى يا عبد الله إسقني وقال فأتيت النبي صلى الله عليه و سلم فأخبرته فقال : أو قد رأيته فقلت : نعم قال عدو الله أبو جهل وذلك عذابه إلى يوم القيامة.

تـرجـمـة : كـلـه چې زه د بـدر پـه سـاحـه كې پـه سـفـر روان وم چې مې لـيـدل يـو سړى د كـنـدې نـه را ووتـلـو پـه غـاړه كې يې ځنځير پـروت وو راتـه چغه يې كړه اى عبد الله اوبـه راكـړه بيا يې نـور روايـت كړى دى بـيـا مخكې يې فـرمـايـلـي دي چې زه رسول الله ﷺ تـه راغـلـم دا قـصه مې ورتـه وكـولـه هغه راتـه وفـرمـايـل : و د لـيـدلـو؟ مـا ورتـه وويـل هو ... رسـول الله ﷺ راتـه وويـل : دا د الله دښمن ابـو جـهل دى دا بـه دده عذاب وي تـر قـيـامـت پـورې .

ابـن ابـي الـدنـيـا دا مضمون پـه بـل ډول نـقـل كړى دى لـه خـالـد نـه روايـت شوى دى هغه لـه شعبـي نـه روايـت كـوي هغه فـرمـايـي : **أن رجلا قال للنبي صلى الله عليه و سلم إني مررت ببدر فرأيت رجلا يخرج من الأرض فيضربه رجل بمقمعة معه حتى يغيب في الأرض ثم يخرج فيفعل به مثل ذلك مرارا فقال رسول الله صلى الله عليه و سلم : ذلك أبو جهل بن هشام يعذب إلى يوم القيامة .**

تـرجـمـة : يـو سړى راغـلـو رسـول الله ﷺ تـه يې وويـل : زه د بـدر پـه مـيـدان كې را تېرېـدلـم مـا يـو كس ولـيـدلـو چې لـه زمـكې نـه راوزي يـو كس يې پـه مـارتـول وهـي چې پـه لاس كې يې وو تـردې چې پـه زمـكـه كې غـيـب شي بـيـا راوزي او دا كس يې بـيـا وهـي او هـمـدا كـار ورسره بـيـا بـيـا كـوي رسـول الله ﷺ

وفرمایل : دا ابو جهل بن هشام دی او دا یې تر قیامت پورې عذاب دی .

ابن ابي الدنیا د یحیی بن ایوب بن الهاد په لاره د محمد بن ابراهیم نه روایت کړی دی هغه له حویرث بن الرباب نه روایت کوي هغه فرمایي چې زه په سفر روان وم مدینې منورې ته تلم چې له یو قبر نه یو سړی را ووتلو له سر او مخ نه یې اور پورته کېدو په وسپنو کې تړل شوی وو ماته یې وویل : ددې خپل لوښي نه خو د لږ اوبه راکړه شا ته پسې بل انسان را ووتلو ماته یې اواز وکولو کافر ته اوبه مه ورکوه هغه پسې راغی دی تر ځنځیر ونیولو او کش یې کړو په زمکه یې وغورځولو او له ځان سره یې کش کړو دواړه قبر ته ننوتل دی وایي ما چې دا واقعه ولیده هک حیران شوم او هېڅ مې نشوای کولی تردې چې عرق الضبیة ته ورسېدلم هلته مې دمه وکوله د ماښام مونځ مې وکولو او ماسخوتن مې وکولو بېرته په اوښه باندې سپور شوم چې مدینې منورې ته ورسېدم حضرت عمر بن الخطاب ته ورغلم او دا قصه مې ورته تېره کړه ده راته وویل : حویرثه زه په تا باندې د درواغو ګمان نه کوم ډېره سخته خبره د راته وکوله بیا یې د هغه ځای کنف الصفراء ساحې په مشرانو پسې احوال ور ولېږلو چې هغوی راغلل بیا یې زه هم ور وغوښتلم هغوی ته یې وویل : دې کس ماته داسې قصه وکوله او زه په ده ګمان هم نه کوم چې ده به درواغ ویلي وي نو تاسې ماته ووایاست چې ددې قبر مالک تاسې پېژنئ چې څوک دی؟

دوی ورته وویل : امیر المؤمنین مونږ هغه کس پېژنو هغه د غفار قبیلې کس دی د جاهلیت په وخت کې تر اسلام وړاندې مړی شوی دی حضرت امیر المؤمنین چې دا خبره واورېده چې هغه تر اسلام وړاندې مړ شوی دی د الله حمد یې اداء کړو چې شکر مسلمان پداسې حالت کې نه دی او پدې

خوشحال شو بیا یې پوښتنه وکوله چې دا څنګه انسان وو؟ دوی ورته وویل : دا یو کس وو چې په جاهلیت کې مړ شوی دی او په ده کې د جاهلیت په وخت کې دا لوی عیب وو چې دی د مېلمه لپاره په هېڅ ډول حق باندې قائل نه وو او د مېلمه قدر یې نه کولو او نه یې منلو .

یوه بله واقعه هشام بن عمار په کتاب البعث کې د یحی بن حمزة نه روایت کوي هغه وایي ماته نعمان له مکحول نه روایت کاوه چې یو کس حضرت عمر ته راغلو سر او نیمه ږیره یې سپینه وه حضرت عمر ورته ویل : په تا باندې څه چل شوی دی؟ (ستا خو ږیره او سر سپین نه وو دا ولې داسې زر سپین شوي دي؟) ده وویل : یا امیر المؤمنین د فلاني خیلو په هدیره باندې د شپې تېرېدلم چې یو کس مې ولید بل ورپسې شا ته روان وو د هغه په لاس کې د اور ډُره وه کله به یې چې را ګیر کړو نو یو وار به یې پرې وکولو تردې چې د ککرۍ نه تر پښو پورې اور ورباندې بل شو هغه کس لما څخه پناه وغوښته ویل یا عبد الله ماته پناه راکړه زما فریاد واوره هغه کس چې شا ته پسې روان وو هغه ماته وویل : عبد الله دده فریاد مه آوره دا د الله ډېر بد بنده دی ... ما چې دا حالت ولیدو نو زه سخت و ډار شوم صباء مې وېښته سپین شوي وو حضرت عمر وفرمایل ستاسي نبي ﷺ ستاسې لپاره یوازې سفر کول بد ګڼلي دي .

ابن ابي الدنیا یو کتاب لیکلی دی من عاش بعد الموت یې نوم دی په هغه کې یې یوه واقعه نقل کړېده د شهاب بن خراش له لارې هغه ل خپل تره العوام بن حوشب نه روایت کوي هغه له مجاهد نه روایت کوي هغه فرمایي زما چېرته څه کار وو کله چې زه په لار روان وم یو دم د زمکې نه خره سر را پورته کړو او زما په مخ کې درې ځله و

هرېدو بېرته په زمکه ننوتلو زه ډېر زيات ورڅخه وډار شوم او ټول حواس مې له لاسه ورکړل کله چې هغه خلکو ته ور ورسېدم چې زما ورسره کار وو نو هغوی راته وويل : څه چل دربانديې شوی دی رنګ د ولې بدل دی؟ ما ورته قصه تېره کړه دوی راته وويل : هغه ددې کلي هلک دی او هلته په خيمه کې يې مور ده دا هلک ژوندی وو مور به يې ورته څه خبره وکوله ده به ورته ښکنځل وکول مور به يې ورته وويل : ته خو سم خر يې هغه دې ته د تکليف ورکولو لپاره ددې په مخ کې درې ځله د خره اواز وکولو بيا مړ شو نو مونږ دلته ښخ کړو اوس يې چې کله هم هغه د دفن وخت شي هره ورځ له زمکې سر را پورته کړي او د خيمې خوا ته درې ځله و هريږي بېرته ورک شي .

همدا پورتنی واقعه يې په يو بل روايت هم نقل کړېده د هغه روايت شروع داسې شوې ده چې يو هلک وو مور به يې چې څه خبره ورته وکوله دی به يې مور ته لکه د خره داسې ور وهرېدو نوره کيسه يې په هماغه پورتني قسم کړېده .

په يوه بله واقعه کې ابو الحسن بن البراء فرمايي مونږ ته العباس بن ابي عيسي قصه کوله هغه ويل مونږ ته محمد بن يوسف الفريابي ويل چې مونږ ته ابو سنان قصه کوله او يو کس يې راته وښود چې هغه اوس هم ژوندی دی ورشئ تاسې ورڅخه پوښتنه وکوئ بيا مونږ ورته وويل چې نه زمونږ ستا په خبره يقين دی مونږ له هغه څخه پوښتنه نه کوو ده وويل : د هغه کس ورور په حق رسېدلی وو ډېر زيات پسې خفه وو او ډېر سخت تاثير يې وربانديې کړی وو زه ورغلم ورته مې وويل : مونږ ټول مړه کيږو ته دومره خفه ولې يې ؟ ده راته وويل : زه د ورور په مرګ نه يم خفه بلکه خفه پدې يم کله چې مونږ د هغه د دفن نه فارغ شوو ما د هغه له قبر نه يوه چغه

واوريده چې ويل يې اواه ... په دوهمه كه په دريمه ورځ مې زړه صبر نشو ورغلم قبر مې را لوڅ كړو چې تختې مې لږ سره ليرې كړې ومې ليدل چې دده په كفن كې لمبه ده او دده په مينځ كې اور دى ما وې زه به لاس ور ننباسم او دا به ګل كړم كېداى شي ګل شي نو ګوتې مې وسوزيدې ما ورته وويل: ته لاس ښكاره كړه چې لاس يې را ښكاره كړو ګوتې يې سوزيدلې وې .

دى وايي بيا ما امام اوزاعي ته وويل: دا يهود او نصارا خو مړه كيږي داسې قصې د هغوى په اړه ولې نه كيږي يو يهودي او يو نصراني هم ښكاره نه شو چې په قبر كې يې اور ښكاره شوى وي او يا يې له قبر څخه د چغو اواز را پورته شوى وي دا له مسلمانانو سره داسې ولې كيږي؟ ده راته وويل: يهود او نصارا خو بې‌شكه ټول اور ته ورځي ترڅو چې هغوى په اسلام مشرف نشي چې په هر حالت كې مړه شي نو د دوى لاره اور ته ده او دا تاسې ته الله ددې لپاره در ښكاره كوي چې تاسې ژوندي خلك ورڅخه پند واخلي او خپل عملونه سم كړئ .

الهيثم بن عدي روايت كړى دى هغه فرمايي مونږ ته ابان بن عبد الله البجلي قصه كوله چې زمونږ يو ګاونډى مړ شو مونږ هغه ته غسل وركړو ، په كفن مو كړو مونځ مو وربانديې وكولو او قبر ته مو يوړو كله مو چې د هغه قبر را ژور كړو په قبر كې مو يو شى لكه پيشو داسې وړوكى حيوان وليدو مونږ د هغه د ډارولو كوښښ وكولو خو هغه نه ډاريدو ، مونږ د شړلو كوښښ وكولو خو هغه نه تلو هيڅ لاره يې نه وه چې له قبر نه مو ويستلى واى يو قبر ايستونكي په يوه تېره شي سره په سر ووهلو لكن هغه نه متاثر شو او نه زخمي شو مونږ ورڅخه زيات وډار شوو هغه قبر مو پريښود بل مو ژور كړو چې لحد مو جوړ كړو هغه شى دلته هم را پيدا شو خلكو ته مو وويل :

مونږ لدې سره څه وکوو هلته مو هم قبر وويستلو داسې شی پکې را پيدا شول او دلته هم دادي را ووتل څه ورسره وکوو؟ هرڅه مو چې لدې سره هم وکول له قبر نه يې په ويستلو نه توانېدو آخر چا وويل چې بس هغه ته توجه مه کوئ په همدې کې يې خښ کړئ خو چې مونږ څنګه تختې ور پسې کېښودې د هغه د هډوکو خرپهاری مو واورېدو چې ماتېدل مونږ سخت پرې خفه شوو او ډېر زيات وډار شوو مونږ چې راغلو ښځې ته مو وويل : ستا د خاوند څه اعمال وو ؟ او قصه مو ورته وکوله هغې وويل : ده به له جنابت نه غسل نه کولو .

د صدقة بن خالد الدمشقي نه روايت دی چې څه شيوخ د دمشق وو هغوی ماته قصه کوله چې مونږ حج ته تللي وو چې په لاره را تلو نو په لاره کې مو يو ملګری مړ شو هلته اوبه وې نېږدې ورسره کورونه وو هغه کورونو ته مونږ ورغلو څه اسباب مو ورڅخه وغوښتل چې قبر پرې ژور کړو هغوی بېلچه او تبر او څه نور شيان راکړل هغه ته مو قبر ژور کړو کله مو چې دفن کړو معلومه شوه چې تبر خو مو په قبر کې د ننه پرېښودو.. او هغه هم زمونږ خپل نه وو د خلکو نه مو په سوال را اخيستی وو نو زر زر مو بېرته قبر پسې را لوڅ کړو کله مو چې تختې ورڅخه پورته کړې مړی په قبر کې نه ښکاره کېدو د هغه لاس پښې او ټول بدن سره را غونډ شوی وو او د تبر په هغه حلقه کې تخته کړل شوی وو چې په کوم ځای کې د تبر لاستی ورځي مونږ چې دا وليدو سخت ورڅخه وډار شوو او زر زر مو بېرته پرې خاورې واړولې تبر ته مو لاس ورنه وړو او د تبر د مالک سره مو په پيسو باندې خبره وکوله او هغه ته مو د تبر قيمت ورکړو کله چې راغلو د هغه ښځې ته مو وويل : ستا د خاوند څه اعمال وو؟ هغې وويل بس تاسو د هغه عملونه ليدل چې جهاد به يې کولو او حجونه به يې کول مونږ چې څه ليدلي وو هغه قصه مو ورته وکوله دې وويل : دده يو ملګری

وو د هغه سره ډېر زيات مال وو ده هغه مړ كړو او ټول مال يې ورڅخه واخيست ده به حجونه او جهادونه په هغه مال سره كول .

يو عالم فرمايي ماته يو سړي قصه كوله چې زما لور مړه شوه كله مو چې په لحد كې كېښوده تختې مو پسې كېښودلې يوه تخته زما خوښه نه شوه بېرته مې را ليرې كړه غوښتل مې چې لېږ يې سمه پسې كېږدم ومې ليدل چې لور مې مخ له قبلې څخه اړولی وو ما چې دا وليدل سخت پرې خفه شوم د شپې مې په خوب كې وليده راته يې وويل : زما په خوا كې چې څومره مړي دي د هغوی اكثرو مخونه له قبلې څخه آوښتي دي .

لوی عالم اسحاق الفزاري فرمايي ما له يو كفن كش (هغه كس چې له مړيو څخه به يې كفنونه ايستل او خرڅول به يې) پوښتنه وكوله چې مړي د خښولو نه وروسته په قبرونو كې څنګه وي؟ هغه راته وويل : اكثر مړي چې په قبرونو كې وي مخونه يې له قبلې څخه آوښتي وي بيا مونږ پدې اړه امام اوزاعي ته ليک واستولو چې يو تجربه لرونكی كس وايي چې په قبرونو كې د اكثرو مړيو مخونه له قبلې څخه آوښتي وي هغه په ځواب كې ماته ليكلي وو **إنا لله وإنا إليه راجعون** (دری ځله) د چا چې مخ له قبلې نه واوړي ددې نښه ده چې دا په سمه لاره نه دی مړ .

عبد المؤمن بن عبد الله العنسي فرمايي ما له يوه كفن كش څخه پوښتنه وكوله چې تا توبه ولې ويسته؟ هغه وويل ما يو كس وليدو چې په ټول بدن باندې يې ميخونه وهل شوي وو يو لوی ميخ يې په سر او يو لوی ميخ يې په پښو باندې وهل شوی وو چې دې ميخونو هغه په زمكه پورې داسې كليک كړی وو چې بالكل د ښوريدو نه وو ما چې

دا ولیدو زه سخت وډار شوم او له خپلې ګناه مې توبه وویسته .

د یو بل کفن کش نه پوښتنه وشوه چې تا توبه ولې وویسته؟ هغه وویل اکثر مړي به چې ما لیدل نو د هغوی مخونه به له قبلې څخه آوښتي وو .

د علمي دنیا ځلانده ستوری امام ابن قیم په خپل کتاب الروح کې یوه واقعه ذکر کړیده هغه فرمایي مونږ ته ابو عبد الله محمد بن سنان السلامي التاجر چې نېک انسان وو قصه وکوله یو کس راغلو په بغداد کې د آهنګرانو بازار ته او په یو آهنګر باندې یې واړه واړه میخونه خرڅ کړل ځینې واړه میخونه پکې وو چې دوه سرونه یې وو آهنګر هغه واخیستل چې لږ ورته خلاص شو نو غوښتل یې چې هغه ګرم کړي او بیا ورڅخه کوم شی جوړ کړي ځومره یې چې ګرم کړل هغه نرم نه شول او چې ځومره سخت ګذارونه یې پرې وکول نه خو هغه چیت شول او نه یې شکل بدل شو آخر ورڅخه ستړی شو نو یې یو طرف ته کېښودل تردې چې هغه کس یې پیدا کړو چې دا یې وربانديې خرڅ کړي وو هغه ته یې وویل : دا میخونه تا له کومه کړل؟ هغه ورته وویل : هسې په لاره کې مې پیدا کړل لکن څرنګه چې دی د میخونو په کیفیت باندې پوه شوی وو او ده غوښتل چې ددې راز معلوم کړي نو ورپسې شله شو آخر یې ورته وویل : یو قبر مې ولیدو چې خلاص وو هډوکي پکې پراته وو او په هغه هډوکو باندې دا میخونه وهل شوي وو ما کوښښ وکولو چې دا میخونه له هډوکو څخه را وکاږم لکن وس مې پرې ونه رسېدو آخر مې تیږه پرې را واخیسته او هډوکي مې ورڅخه مات کړل او دا میخونه مې ترې را وویستل یو عالم فرمایي زه چې کله ماشوم وم دا قصه په هغه وخت کې په بغداد کې مشهوره وه او هر چا به کوله او هرچا به یې په اړه خبرې کولې .

د قبر د عذاب ځینې اسباب

امام ابن قیم د قبر د عذاب څه اسباب را ټول
کړي دي او هغه فرمایي د قبر عذاب د څو شیانو
څخه راځي په لنډه توګه هغه مبارک فرمایي : د
الله په اړه نا پوهي د الله احکام نه منل او په
هغوی باندې عمل نه کول ، ګناهونه کول د قبر
د عذاب په لویو سببونو کې دي ..

ځکه د قبر عذاب او د آخرت عذاب د الله د غضب او
د الله د قهر ثمره ده او ددې نښه ده چې الله دې
بنده ته په قهر او غصه دی هغه څوک چې پدې
دنیا کې الله په قهر کړي د الله د احکامو مخالفت
وکوي او د الله احکام په ځای نه کړي بیا په
همدې حالت کې مړ شي او توبه ونه باسي نو هغه
ته به عذاب ورکول کیږي او په قبر کې به هم
دومره عذاب ورکول کیږي لکه څومره چې ده د الله
نا فرمانی کړي وي .

علماوو کوښښ کړی دی او تر ډېره حده پورې یې
نور هغه اسباب را ټول کړي دي چې په قرآن کریم
کې او په مبارکو احادیثو کې یې له امله د قبر
عذاب یاد کړل شوی دی یو څو یې لتاسې سره
شریکوم .

۱. کفر او شرک

د قبر له لویو اسبابو څخه کفر او شرک دی الله
په قرآن کریم کې د فرعونیانو په اړه فرمایي :
فَوَقَاهُ اللَّهُ سَيِّئَاتِ مَا مَكَرُوا وَحَاقَ بِآلِ فِرْعَوْنَ سُوءُ الْعَذَابِ (45) النَّارُ

يُعْرَضُونَ عَلَيْهَا غُدُوًّا وَعَشِيًّا وَيَوْمَ تَقُومُ السَّاعَةُ أَدْخِلُوا آلَ فِرْعَوْنَ أَشَدَّ الْعَذَابِ (46) . [1]

ترجمة : پس وساته دغه (موسى يا مؤمن سړى) لره الله له سختو (عذابونو) د هغو چې مکر کړى وو دوى او (بالعکس) چاپېر شو په آل د فرعون (سره د فرعون) بد عذاب (دغرق په دنيا او بد عذاب په عقبى کې) اور (د دوزخ) وړاندې کاوه شي (دا کفار) پر دې (اور) هر صبا او هر بېگا او په هغه ورځ کې چې قائم شي قيامت (نو وبه ويلى شي له جانبه د الله ملائکو ته) ننباسئ تاسې آل د فرعون (سره له فرعون) په ډېر سخت عذاب کې (له عذابه د برزخ) .

او د فرعونيانو گناه څه وه؟ هرڅوک پدې پوهيږي چې هغوى کافران وو نو د هغوى دا کفر ددې سبب شو چې دوى ته به په قبر کې عذاب ورکول کيږي .

همدارنگه رسول الله ﷺ د دوو قبرونو په خوا کې تېريدلو پوښتنه يې وکوله دا قبر واله څوک پېژني؟ يو کس وويل زه يې پېژنم يا رسول الله ﷺ ... پوښتنه يې وکوله څه وخت مړه شوي دي؟ هغه صحابي ورته وويل د شرک په وخت کې مړه شوي دي يا رسول الله ﷺ بيا رسول الله ﷺ وويل : **إِنَّ هَذِهِ الْأُمَّةَ تُبْتَلَى فِي قُبُورِهَا فَلَوْلَا أَنْ لَا تَدَافَنُوا لَدَعَوْتُ اللَّهَ أَنْ يُسْمِعَكُمْ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ الَّذِي أَسْمَعُ مِنْهُ .** [2]

ترجمة : دې خلکو ته په قبرونو کې عذاب ورکول کيږي که چېرته زه پدې نه ډاريدلى چې که دا اواز تاسې واورئ نو بيا به په تاسې کې بعض

---

[1] **سورة الغافر (المؤمن)**
[2] **صحيح مسلم**

ستاسې بعض نور ددې عذاب له وېرې نه دفن کوئ نو ما به له الله نه غوښتي وو چې تاسې ته هغه څه در واوروي چې زه يې آورم (يعني زه اوس پدې ډارېږم که تاسې دا اواز واورئ بيا به تاسې خپل خپلوان ددې عذاب له ډاره خښ نه کړئ) .

نو پدې حديث کې هغه صحابي چې دا دوه کسان يې پېژندل وويل چې دوی په هغه وخت کې مړه شوي دي چې دوی مشرکان وو .

۲. نفاق

همدارنګه د قبر له عذابونو څخه بل نفاق دی چې په کوم زړه کې نفاق وي هغه چې په ښکاره ځان مسلمان ښکاره کوي په زړه کې يې د کفر او کافر مينې ځای نيولی وي او په زړه کې د کفارو په فتح خوشحاليږي او د مسلمانانو په کاميابي خفه کيږي نو دا هم د قبر د عذاب له لويو سببونو څخه دی الله د دوی په اړه فرمايي : **وَمِمَّنْ حَوْلَكُمْ مِنَ الْأَعْرَابِ مُنَافِقُونَ وَمِنْ أَهْلِ الْمَدِينَةِ مَرَدُوا عَلَى النِّفَاقِ لَا تَعْلَمُهُمْ نَحْنُ نَعْلَمُهُمْ سَنُعَذِّبُهُمْ مَرَّتَيْنِ ثُمَّ يُرَدُّونَ إِلَى عَذَابٍ عَظِيمٍ .** [1]

ترجمة :او ځينې له هغو کسانو چې په شاو خوا د تاسې (اهل المدينې) کې دي له (صحرائي) اعرابو څنې منافقان دي او ځينې له خلقو د مدينې نه (يو قوم دی چې) عادت ئې نيولی دی پر منافقت نه پېژنې ته دوی ، مونږ عالمان يو پر (نفاق د) دوی ژر به په عذاب کړو مونږ دوی دوه کرته بيا به بوتلل شي دوی عذاب ډېر لوی ته.

په آيت کې دوی ته لوی عذاب ته له ورتلو وړاندې دوه عذابونه ياد کړل شوي دي چې يو د

[1] سورة التوبة آية ۱۰۱

دنيا او بل د قبر دى او بيا به لوى عذاب ته ددې دواړو نه وروسته ورځي .

په بل اوږده حديث كې رسول الله ﷺ د منافق په حالت باندې تصريح كړېده او فرمايي :

إِذَا قُبِرَ الْمَيِّتُ، أَتَاهُ مَلَكَانِ أَسْوَدَانِ أَزْرَقَانِ، يُقَالُ لِأَحَدِهِمَا الْمُنْكَرُ، وَالْآخَرُ النَّكِيرُ، فَيَقُولَانِ: مَا كُنْتَ تَقُولُ فِي هَذَا الرَّجُلِ؟ فَيَقُولُ: مَا كَانَ يَقُولُ، هُوَ عَبْدُ اللَّهِ وَرَسُولُهُ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ، فَيَقُولَانِ: قَدْ كُنَّا نَعْلَمُ أَنَّكَ تَقُولُ هَذَا، ثُمَّ يُفْسَحُ لَهُ فِي قَبْرِهِ سَبْعُونَ ذِرَاعًا فِي سَبْعِينَ، ثُمَّ يُنَوَّرُ لَهُ فِيهِ، ثُمَّ يُقَالُ لَهُ: نَمْ، فَيَقُولُ: أَرْجِعُ إِلَى أَهْلِي فَأُخْبِرُهُمْ، فَيَقُولَانِ: نَمْ كَنَوْمَةِ الْعَرُوسِ الَّذِي لَا يُوقِظُهُ إِلَّا أَحَبُّ أَهْلِهِ إِلَيْهِ، حَتَّى يَبْعَثَهُ اللَّهُ مِنْ مَضْجَعِهِ ذَلِكَ، وَإِنْ كَانَ مُنَافِقًا قَالَ: سَمِعْتُ النَّاسَ يَقُولُونَ فَقُلْتُ مِثْلَهُ، لَا أَدْرِي، فَيَقُولَانِ: قَدْ كُنَّا نَعْلَمُ أَنَّكَ تَقُولُ ذَلِكَ، فَيُقَالُ لِلْأَرْضِ: الْتَئِمِي عَلَيْهِ، فَتَلْتَئِمُ عَلَيْهِ، فَتَخْتَلِفُ فِيهَا أَضْلَاعُهُ، فَلَا يَزَالُ فِيهَا مُعَذَّبًا، حَتَّى يَبْعَثَهُ اللَّهُ مِنْ مَضْجَعِهِ ذَلِكَ .[1]

ترجمة : كله چې مړى په قبر كې كېښودل شي دوه ملائكې ورته راشي تور رنګونه يې وي شنې سترګې يې وي يوې ته منكر او بلې ته نكير ويل كيږي ورته وايي : ددې سړي په حق كې څه وايې؟ دى وايي دا د الله بنده او د هغه رسول دى زه ددې ګواهي وركوم چې نشته په حقه معبود مګر يوازې الله دى محمد د هغه بنده او د هغه رسول دى دوى ورته وايي : مونږ پوهېدو چې ته به همداسې وايې بيا ورته قبر اويا په اويا متره كې ورته فراخه كړي بيا قبر ورته رڼا كړي بيا ورته وايي اوس ويده شه دى ورته وايي زه به ورشم خپل كور واله ته به زيرى وركړم دوى به ورته وايي نه اوس داسې ويده شه لكه ناوې چې ويده كيږي او بيا ددې په اهل كې چې دېته څوک ګران

[1] رواه الترمذي وحسنه الألباني

وي هغه يې را ويښوي ترڅو چې الله يې له قبر نه پورته کړي او که منافق وي نو هغه په خوب کې وايي : ما له خلکو آورېدل چې دده په اړه يې څه ويل ما هم وويل نور زه نه پوهېږم دوی به ورته وو ايي : مونږ پوهېدو چې ته به همداسې ځواب وايې بيا زمکې ته وو ايې وربانديې را ټوله شه هغه پرې را ټوله شي او دده اندامونه يو له بل سره تېر کړي بيا به تر هغه وخته پدې عذاب کې وي چې الله يې را پورته کړي .

۳. په مانځه کې سستيا کول

هغه کس چې په مانځه کې سستي کوي او مونځ قضاء کوي دا هم له هغه اسبابو څخه دی چې انسان ته يې له امله د قبر عذاب ورکول کېدلی شي په يو اوږده حديث کې دي چې د حضرت سمرة بن جندب نه روايت شوی دی او په بخاري شريف کې موجود دی چې رسول الله ﷺ فرمايل نن شپه ما خوب وليدو چې يو کس څملول شوی وي بل ورته ولاړ وي او هغه په سر باندې په کاڼي باندې وهي او د هغه سر ميده ميده کوي بيرته هغه سر جوړيږي او بيا همدا کار ورسره کيږي رسول الله ﷺ فرمايي ما پوښتنه وکوله چې دا څوک دی؟ يعني ده څه جرم کړی دی چې دا کار ورسره کيږي؟ بيا وروسته راته وويل شول چې دا هغه کس دی چې له مانځه څخه به ويده کېدو (په مانځه کې به يې سستي کوله د مانځه وخت به داخل وو دی به ويده شو او مونځ به يې ونه کولو) .

٤. په قرآن کریم باندې عمل نه کول

هغه کس چې په قرآن باندې پوهیږي او قرآن زده کوي بېرته یې پریږدي یو ځل قرآني علم حاصل کړي بیرته یې پریږدي بیا وربانديې عمل نه کوي نو هغه کس ته هم په قبر کې عذاب ورکول کیږي هغه عالم وي چې د قرآن په احکامو باندې پوه وي خو د دیني مقصدونو لپاره یې پریښی وي ، هغه عالم وي چې پدې پوه وي چې قرآن څه غواړي لکن بیا هم دی وربانديې عمل نه کوي او د قرآن په تقاضا باندې نه ځي نو هغه هم رسول الله ﷺ په پورتني حدیث کې یاد کړی دی چې سر یې وهل کیږي او میده کیږي ما چې پوښتنه وکوله دا څوک دی ماته دوو فرښتو وویل **فَإِنَّهُ الرَّجُلُ يَأْخُذُ الْقُرْآنَ فَيَرْفُضُهُ** (دا هغه کس دی چې قرآن اخلي بېرته یې پریږدي) .

٥. په چا پسې بهتان خپرول

په چا پسې یوه درواغ خبره خپرول او لدې لارې د هغه بې عزتي کول او په خلکو کې د هغه په اړه په درواغو پروپاګند کول هم له هغه اسبابو څخه دي چې له امله یې انسان ته عذاب ورکول کیږي په مخکني حدیث کې په یو ځای کې رسول الله ﷺ فرمایي : بیا ما یو کس ولیدو چې شا په تخته څملول شوی وو او بل کس وربانديې آخته وو په لاس کې یې تیرې وسپنې وې هغه به پرې آخته شو د هغه خوله به یې تر شا پورې ور څیرې کړه د هغه پوزه به یې تر شاه پورې ور څیرې کړه او د هغه سترګه به یې هم ور څیرې کړه بیا به بل طرف ته ورغلو چې بل طرف به یې ور څېرې کولو نو اول طرف به یې بېرته جوړ شوی وو ما پوښتنه وکوله

چې دا څوک دي؟ يعني دده سره دا عمل ولې کيږي؟ دوو فرښتو راته وويل دا هغه کس دی چې له کور نه به را ووتلو دروواغ به يې ويل او هغه دده درواغ به بيا مشهور شول او د دنيا کنارو ته به ورسېدل .

٦. زنا

زنا هم يوه له هغه بدو ګناهونو څخه ده چې په قبر کې د عذاب سبب کېدلی شي په مخکني اوږده حديث کې رسول الله ﷺ په يو ځای کې فرمايي : **فَأَتَيْنَا عَلَى مِثْلِ التَّنُّورِ فَإِذَا فِيهِ لَغَطٌ وَأَصْوَاتٌ قَالَ فَاطَّلَعْنَا فِيهِ فَإِذَا فِيهِ رِجَالٌ وَنِسَاءٌ عُرَاةٌ وَإِذَا هُمْ يَأْتِيهِمْ لَهَبٌ مِنْ أَسْفَلَ مِنْهُمْ فَإِذَا أَتَاهُمْ ذَلِكَ اللَّهَبُ ضَوْضَوْا (أي صاحوا) قَالَ قُلْتُ لَهُمَا مَا هَؤُلَاءِ؟**

ترجمة : بيا موږ يو تنور ته راغلو چې دننه پکې چيغې وې او اوازونه وو موږ پکې وکتل ومو ليدل چې هلته پکې لوڅ سړي او ښځې وې او له لاندې نه ورته لمبه راځي کله چې هغه لمبه ورته راشي دوی ټول چيغې کړې ما فرښتو ته وويل : دا څوک دي؟ يعني دوی ته دا عذاب ولې ورکول کيږي؟ بيا وروسته راته فرښتو وويل : **وَأَمَّا الرِّجَالُ وَالنِّسَاءُ الْعُرَاةُ الَّذِينَ فِي مِثْلِ بِنَاءِ التَّنُّورِ فَإِنَّهُمْ الزُّنَاةُ وَالزَّوَانِي .**

ترجمة : هغه لوڅې ښځې او سړي چې په تنور کې وو هغه زنا کارانې ښځې او زناکاران سړي وو .

۷. سود

سود هم له هغه ګناهونو څخه دی چې په قبر کې د عذاب سبب کيږي په پورتني اوږده حديث کې آخر سبب همدا دی چې رسول الله ﷺ فرمايي : **فَأَتَيْنَا عَلَى نَهَرٍ أَحْمَرَ مِثْلِ الدَّمِ وَإِذَا فِي النَّهَرِ رَجُلٌ سَابِحٌ يَسْبَحُ وَإِذَا عَلَى شَطِّ النَّهَرِ رَجُلٌ قَدْ جَمَعَ عِنْدَهُ حِجَارَةً كَثِيرَةً وَإِذَا ذَلِكَ السَّابِحُ يَسْبَحُ مَا يَسْبَحُ ثُمَّ يَأْتِي ذَلِكَ الَّذِي قَدْ جَمَعَ عِنْدَهُ الْحِجَارَةَ فَيَفْغَرُ لَهُ فَاهُ فَيُلْقِمُهُ حَجَرًا فَيَنْطَلِقُ يَسْبَحُ ثُمَّ يَرْجِعُ إِلَيْهِ كُلَّمَا رَجَعَ إِلَيْهِ فَغَرَ لَهُ فَاهُ فَأَلْقَمَهُ حَجَرًا قَالَ قُلْتُ لَهُمَا مَا هَذَانِ؟**

ترجمة : بيا مونږ راغلو يو نهر ته چې لکه ويني داسې سور رنګ يې وو ومې ليدل چې په نهر کې يو کس لامبې او د نهر په غاړه باندې يو کس ناست دی ډيرې تيږې ورسره دي کله چې هغه لامبو وهونکی پدې سرو اوبو کې چې لکه وينې داسې ښکاره کيږي لامبو ووهي نو دې کس ته راشي خوله ورته خلاصه کړي او دا کس پکې يوه تيږه ور تخته کړي هغه بېرته په لامبو شي بيا ورته راشي دا کس بيا په خوله کې يوه تيږه ور تخته کړي ما فرښتو ته وويل دا څوک دی؟ ده ته دا عذاب ولې ورکول کيږي؟ فرښتو راته وروسته وويل : **وَأَمَّا الرَّجُلُ الَّذِي أَتَيْتَ عَلَيْهِ يَسْبَحُ فِي النَّهَرِ وَيُلْقَمُ الْحَجَرَ فَإِنَّهُ آكِلُ الرِّبَا** .[1]

ترجمة : هغه سړی چې په نهر کې به يې لمبل او بيا به په خوله کې تيږه ور تخته کول کېده هغه سود خور وو .

۸. فرضي روژه خوړل

[1] **رواه البخاري عن سمرة بن جندب**

هغه کس چې بغیر د عذر نه فرضي روژه خوري او هغه کسان چې تر ناوخته پورې روژه هم ونیسي لکن ماښام ته چې لږ وخت پاتې وي ماته یې کړي دا کسان هم په قبر کې عذابول کیږي او دوی ته به هم په قبر کې عذاب ورکول کیږي رسول الله ﷺ فرمایي : یوه ورځ چې زه ویده وم دوه کسان راغلل زه یې بوتلم یوه سخت غره ته ماته یې وویل وخیږه ... ما ورته وویل : زه پدې نشم ختلی دوی راته وویل : ته وخیږه مونږ به یې درته اسان کړو زه په هغه غره وختلم سخت اوازونه مې واوریدل پوښتنه مې وکوله دا اوازونه د څه شي دي؟ دوی راته وویل : دا د دوزخ د خلکو فریادونه دي بیا یې زه ور وستلم هلته ما ولیدل چې خلک را ځړیدلي دي خولې یې خلاصې دي او تر خولو یې وینې څاڅي ما وویل دا څوک دي؟ دوی راته وویل دا هغه کسان دي چې تر ماښام وړاندې به یې روژې ماتولې یعني د رمضان په میاشت کې به یې بغیر د عذر نه تر ماښام وړاندې خوراک کولو .[1]

۹. قول او عمل سره بدلیدل

د کوم انسان چې خبرې یو ډول وي او عمل یې بل شان وي په خوله یو څه وایي او کوي بل څه نو ده ته به هم په قبر کې عذاب ورکول کیږي او دا کار هم له هغه شیانو څخه دی چې له امله یې انسان ته په قبر کې عذاب ورکول کېدلی شي رسول الله ﷺ فرمایي : **رَأَيْتُ لَيْلَةَ أُسْرِيَ بِي رِجَالًا تُقْرَضُ شِفَاهُهُمْ بِمَقَارِيضَ مِنْ نَارٍ فَقُلْتُ يَا جِبْرِيلُ مَنْ هَؤُلَاءِ قَالَ هَؤُلَاءِ خُطَبَاءُ مِنْ**

---

[1] رواه النسائي

أُمَّتِكَ يَأْمُرُونَ النَّاسَ بِالْبِرِّ وَيَنْسَوْنَ أَنْفُسَهُمْ وَهُمْ يَتْلُونَ الْكِتَابَ أَفَلَا يَعْقِلُونَ. [1]

ترجمة : په هغه شپه مې ولیدل چې زه بیول شوی وم داسې خلک چې د هغوی شونډې د اور په قیچي ګانو باندې قیچي کېدلې ما وویل : جبریل ..! دا خلک څوک دي؟ هغه راته وویل : دا ستا د امت خطیبان دي هغه چې خلکو ته به یې په نیکو کارونو امر کولو او خپل ځانونه به ورڅخه هېر وو (خپله یې هغه څه نه کول چې په کومو باندې یې خلکو ته امر کولو) دوی د الله کتاب لوست نو آیا دوی نه پوهېدل؟ .

۱۰. غلا

غلا هم هغه لویه ګناه ده چې له امله به یې انسان ته په قبر کې عذاب ورکول کیږي په خاصه توګه هغه غلا چې د حاجیانو څخه کیږي رسول الله ﷺ چې د کسوف مونځ وکولو بیا یې وفرمایل : **لَقَدْ جِيءَ بِالنَّارِ وَذَلِكُمْ حِينَ رَأَيْتُمُونِي تَأَخَّرْتُ مَخَافَةَ أَنْ يُصِيبَنِي مِنْ لَفْحِهَا وَحَتَّى رَأَيْتُ فِيهَا صَاحِبَ الْمِحْجَنِ يَجُرُّ قُصْبَهُ فِي النَّارِ كَانَ يَسْرِقُ الْحَاجَّ بِمِحْجَنِهِ فَإِنْ فُطِنَ لَهُ قَالَ إِنَّمَا تَعَلَّقَ بِمِحْجَنِي وَإِنْ غُفِلَ عَنْهُ ذَهَبَ بِهِ.** [2]

ترجمة : اور راوړل شو او هغه چې تاسې زه ولیدم چې وروسته شوم زه وډار شوم هسې نه وسوزم ما په هغه کې ولیدل چې د همسا لرونکي کسان وو خپله همسا یې په ځان پسې را کش کوله هغه چې په خپله همساه سره چې سر یې را تاو شوی وي له حاجیانو څخه غلا کوي که هغه یې ووینې نو ورته وایي دا خو زما په همسا کې بند

---

[1] رواه احمد

[2] رواه مسلم

شوي وو (يعني قصداً په څه څادر ، جامه يا بل شي کې خپله همسا ور بنده کړي او ځان نا ګمان واچوي روان وي نو که د مال خاوند يې ووينې دى وايي چې زه پرې نه يم خبر په همسا کې مې دا شى بند شوي وو) او که د هغه فکر نه شي نو دا مال ورځخه يوسي .

١١. د غنيمت د مال نه غلا کول

هغه څوک چې تر تقسيم نه وړاندې په خپل سر له غنيمت نه څه شى پورته کړي اګر که هغه يوه ستن هم وي نو دا هم د قبر د عذاب سبب کېدلى شي د رسول الله ﷺ په وړاندې د يو کس په اړه خبره کېده چې هغه په جنګ کې وژل شوى وو چا وويل : ده ته خو د جنت مبارک شي او يا جنت دده لپاره ډير ښه د ورتلو ځاى دى رسول الله ﷺ وفرمايل :

كَلَّا وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ إِنَّ الشَّمْلَةَ الَّتِي أَخَذَهَا يَوْمَ خَيْبَرَ مِنْ الْمَغَانِمِ لَمْ تُصِبْهَا الْمَقَاسِمُ لَتَشْتَعِلُ عَلَيْهِ نَارًا.[1]

ترجمة : بالکل نه زما د په هغه ذات قسم وي چې زما نفس د هغه په لاس کې دى بېشکه هغه جامه چې ده په غزوه خيبر کې تر تقسيم وړاندې واخيسته د هغې له امله اوس په ده باندې اور بليږي .

١٢. له بولو (متيازو) څخه ځان پاک نه ساتل

١٣. النميمة چغلي (خبري نقل کول)

[1] **متفق عليه**

هغه کس چې له متيازو څخه ځان پاک نه ساتي او هغه کس چې د خلکو په مينځ کې خبرې نقل کوي دا هم د قبر د عذاب له اسبابو څخه دي پدې اړه د حضرت عبد الله بن عباس په يو حديث کې مخکې تېر شول چې رسول الله ﷺ د دوو قبرونو په خوا کې تېرېدلو صحابه وو ته يې وويل چې دې دوو کسانو ته په قبر کې عذاب ورکول کيږي او دوی ته په ډېره لويه خبره کې (چې دوی ته لويه ښکاره کېده او يا تاسې ته لويه ښکاره کيږي) عذاب نه ورکول کيږي دې يوه به د متيازو نه ځان نه ساتلو او دې بل به د خلکو په مينځ کې شيطانت کولو .

په پورتنيو دوو کسانو کې چې دوی ته عذاب ورکول کيږي د يو په حق کې يې سبب د پاکي پرېښودل دي کوم چې په ده باندې واجب وو او دا بل کس هغه کس دی چې د خپلو خبرو په واسطه يې د خلکو په مينځ کې دښمني پيدا کړه نو د پورتني حديث نه چې مخکې تېر شو ښکاره کيږي چې دا دواړه ډېر لوی ګناهونه دي هم د پاکي پرېښودل او هم د خلکو په مينځ کې دښمني پيدا کول .

او په يو روايت کې له رسول الله ﷺ نه پوښتنه هم وشوه يا رسول الله ﷺ دوی به تر څه وخته په عذاب کيږي؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : دا غيب دی د الله نه سوا بل چا ته پدې اړه علم نشته چې دوی به تر څه وخته پورې په عذاب کيږي .

حضرت عائشه فرمايي : **دخلت امرأة من اليهود فقالت إن عذاب القبر من البول قلت كذبت قالت إنه ليقرظ من الجلد والثوب قالت فخرج رسول الله صلى الله عليه و سلم إلى صلاته وقد ارتفعت**

أصواتنا فقال رسول الله صلى الله عليه و سلم ما هذا فأخبرته بما قالت فقال صدقت.[1]

ترجمة : د يهودو يوه ښځه راغله ماته يې وويل : د قبر عذاب له بولو نه وي ما ورته وويل دا دروغ دي دې وويل : په کوم ځای چې متيازې ولګيږي د هغه ځای څرمن به پرې کول کيږي او د جامې چې په کوم ځای ولګيږي د جامې هغه ځای به پرې کول کيږي پدې وخت کې رسول الله ﷺ مانځه ته لاړو مونږ بحث وکولو او اوازونه مو سره پورته شول رسول الله ﷺ وفرمايل : دا څه خبره وه ؟ ما ورته قصه وکوله رسول الله ﷺ وفرمايل : دا رښتيا وايي (د قبر عذاب د متيازو نه وي او مخکې په بني اسرائيلو کې دا حکم وو چې په څرمن باندې به متيازې ولګېدلې هغه ځای به پرې کول کېدو او که په جامه به ولګېدلې نو له جامې نه به هغه ځای پرې کول کېدو).

حضرت ابو هريره فرمايي : رسول الله ﷺ فرمايل :

أكثر عذاب القبر من البول .[2]

ترجمة : د قبر عذاب اکثر د بولو څخه وي .

حضرت عبد الله بن عباس فرمايي رسول الله ﷺ فرمايل :

إن عامة عذاب القبر من البول فتنزهوا منه.[1]

---

[1] سنن النسائي
[2] رواه الامام احمد

ترجمة : د قبر عذاب اکثر له بولو څخه وي ځان ورڅخه پاک وساتئ .

په یو بل حدیث کې حضرت انس فرمايي رسول الله ﷺ فرمایل :

اتقوا البول فإنه أول ما يحاسب به العبد في القبر. [2]

ترجمة : له بولو څخه ځان وساتئ له انسان سره اول ددې په اړه باندې په قبر کې حساب کیږي .

پدې پورته احادیثو کې پدې باندې ټینګار وشو چې په قبر کې عذاب اکثر له بولو او له نمیمة چغلي (یعني د دوو کسانو په مینځ کې خبرې نقل کول او د هغوی په مینځ کې دښمني پیدا کول او دا اکثر که رښتیا خبرې هم وي بیا هم ناروا وي یعني که یو کس د بل په اړه څه خبرې وکولې په مینځ کې یو کس دا رښتیا خبرې هغه کس ته نقل کړې چې خبرې ورپورې شوې وې نو دا هم ناروا ده) څخه وي زه پدې پسې ګرځېدم چې ګناهونه خو په دنیا کې ډېر دي دا ګناهونه ولې ددې سبب شول چې انسان ته په قبر کې عذاب ورکول شي ؟ په خپله پلټنه کې مې آخر د ځینې علماوو دا عبارت پیدا کړو : **السر في تخصيص البول والنميمة والغيبة بعذاب القبر وهو أن القبر أول منازل الآخرة وفيه أنموذج ما يقع في يوم القيامة من العقاب والثواب والمعاصي التي يعاقب عليها يوم القيامة نوعان حق الله وحق لعباده وأول ما يقضي فيه يوم القيامة من حقوق الله الصلاة ومن حقوق العباد والدماء وأما البرزخ فقضي فيه في مقدمات هذين الحقين ووسائلها فمقدمة الصلاة الطهارة من الحدث**

---

[1] **رواه البزار**
[2] **رواه البزار**

والخبث ومقدمة الدماء النميمة الوقيعة في الأعراض وهما أيسر أنواع الأذى فيبدأ في البرزخ بالمحاسبة والعقاب عليهما .

ترجمة : پدې کې چې بولې ، چغلي او غيبت د قبر د عذاب لپاره سبب شول راز دادی چې قبر د آخرت له منزلونو څخه اول منزل دی او پدې کې د هغه څه تمثيل کيږي چې په آخرت کې به واقع کيږي څرنګه عذاب او ثواب او د ګناهونو حساب چې هلته کيږي دلته يې تمثيل کيږي او په قيامت کې ګناهونه چې انسان ته پرې عذاب ورکول کيږي دوه ډوله وي يو حق الله وي او بل حق العباد وي په حقوق الله کې چې اول تر هرڅه چې له بنده سره يې حساب کيږي مونځ دی او په حقوق العباد کې چې اول د بنده سره حساب کيږي هغه وينه ده نو په قبر کې هم ددې دواړو حقونو فيصله کيږي او د هغه څه فيصله کيږي چې دې دواړو شيانو ته يوه لاره وه نو د مانځه لپاره لاره پاکي وه له بې اودسې او ګندګې څخه او د وينې د تويولو يوه لاره چغلي او نميمة وه هغه چې دا دواړه د ضرر رسولو اسانه او سپکې لارې وې نو ځکه په قبر کې بنده ته پدې سره عذاب ورکول کيږي .

۱٤. غیبت کول

غیبت هم یوه له هغه ګناهونو څخه ده چې په قبر کې د عذاب سبب کېدلی شي په یو حدیث کې رسول الله ﷺ فرمایي : **لاَ يَدْخُلُ الجَنَّةَ قَتَّاتٌ** . [1]

ترجمة : غیبت کونکی جنت ته نه ننوزي.

په یو بل حدیث کې حضرت انس بن مالک فرمایي رسول الله ﷺ فرمایل : **فتنة القبر من ثلاث من الغيبة والنميمة والبول.**

ترجمة : د قبر فتنه (عذاب) له دریو شیانو څخه وي له غیبت نه له شیطانت نه (د دوو کسانو په مینځ کې خبرې یو بل ته نقل کول او د هغوی په مینځ کې دښمني پیدا کول) او له بولو څخه .

او پورته چې د نمیمة او بولو په اړه یو حدیث تېر شو په هغه کې هم په یو روایت دی ابي بکرة کې دا عبارت راغلی دی **وَأَمَّا الْآخَرُ فَيُعَذَّبُ فِي الْغَيْبَةِ** (یعني هغه بل یې په غیبت کې عذاب کیږي د النمیمة په ځای الغیبة یاد کړل شوی دی)

۱٥. کبر او غرور

هغه انسان چې کبر کوي او ځان ته ډېر په غره کې وي نو ده ته به هم په قبر کې عذاب ورکول کیږي رسول الله ﷺ فرمایي : **بَيْنَمَا رَجُلٌ يَتَبَخْتَرُ يَمْشِي فِي**

---

[1] **متفق علیه**

بُرْدَيْهِ قَدْ أَعْجَبَتْهُ نَفْسُهُ فَخَسَفَ اللَّهُ بِهِ الْأَرْضَ فَهُوَ يَتَجَلْجَلُ فِيهَا إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ . [1]

ترجمة : کله چې يو کس کبر کاوه او د کبر سره په خپله جامه کې روان وو خپل ځان ته ډېر خوشحال وو نو الله په زمکه کې ننه ايست او هغه به تر قيامت پورې په قبر کې په عذاب کيږي يعني په يو اړخ په بل به کيږي او په تکليف کې به وي .

١٦. د غير ناطقه حيواناتو عذاب کول

دا چې څوک يو حيوان را ونيسي او بغير د څه ضرورت نه هغه ته تکليف ورکوي دا هم ګناه ده او د قبر د عذاب له اسبابو څخه کېدلی شي د کسوف په ورځ چې کله رسول الله ﷺ د اور خبرې کولې نو رسول الله ﷺ دا هم پکې ويل : **وَحَتَّى رَأَيْتُ فِيهَا صَاحِبَةَ الْهِرَّةِ الَّتِي رَبَطَتْهَا فَلَمْ تُطْعِمْهَا وَلَمْ تَدَعْهَا تَأْكُلُ مِنْ خَشَاشِ الْأَرْضِ حَتَّى مَاتَتْ جُوعًا .**

ترجمة : تردې چې ما پکې د هغې پيشو ښځتنه وليده چې هغه يې تړلې وه نه يې خپله خوراک ورکولو او نه يې پرېښوده چې د زمکې حشرات وخوري تردې چې هغه د لوږې نه مړه شوه .

دا يوه ښځه وه پيشو يې حصاره کړې وه له خوراک او څښاک څخه يې منع کړې وه تردې چې هغه له لوږې مړه شوه څرنګه چې دا ښځه په طبيعت کې سخته وه او په زړه کې يې هېڅ ډول رحم او ترحم نه وو نو بغير د ضرورت نه يې صرف هغې ته د

[1] **متفق عليه واللفظ لمسلم**

ضرر ورکولو په خاطر دا پیشو بنده کړې وه سره ددې چې هغې به په خپل اواز کې ډېر فریاد کړی وي خو د ښځې سخت زړه ورته نرم نه شو تردې چې د هغې اواز په ورو ورو ښکته کېدو تردې چې بند شو او پیشو مړه شوه دې ښځې ته په کار وو چې دې پیشو ته یې په خپله خوراک او څښاک ورکړی وای لکن چې دا یې نه کول بیا به یې پرېښودې وه چې خپله یې ځان ته خوراک او څښاک پیدا کړی وای نو دې دا یو هم ونه کولو نو ځکه ددې سبب شو چې دې ته به ددې په وجه عذاب ورکول کیږي رسول الله ﷺ په بل ځای کې هم ددې په اړه ویلي دي چې یوه ښځه اور ته د پېشو له امله ننوتله هغه هم همدا ښځه وه .

۱۷. قرضونه

هغه کس چې په دنیا کې قرضونه کوي نو چې کله یې وس ورسیږي هغه د پخپله خلاص کړي او بل چا ته یې د نه پرېږدي څه معلومه ده چې وارثان به یې ترې خلاص کړي او کنه نو هغه کس چې پداسې حالت کې مړ شي چې په ده باندې قرضونه وي نو دا قرضونه په قبر کې دده د عذاب سبب کېدلی شي حضرت سعد بن الاطول فرمایي : دده ورور مړ شو په میراث کې ورڅخه درې سوه درهمه پاتې شول رسول الله ﷺ ورته وویل : : **إِنَّ أَخَاكَ مُحْتَبَسٌ بِدَيْنِهِ فَاقْضِ عَنْهُ** (ستا ورور په قرضونو کې بند دی هغه ورڅخه اداء کړه) ده ورته وویل : ټول قرضونه مې خلاص کړل یو دا ښځه ده د دوو دینارونو دعوه کوي او هېڅ دلیل ورسره نشته رسول الله ﷺ ورته وویل : دې ته یې هم ورکړه ددې حق دی .[1]

---

[1] **رواه ابن ماجة**

۱۸. په مړي باندې ژړا

هغه مړي ته هم عذاب ورکول کیږي چې د هغه کور واله ورپسې ژاړي او په غیر شرعي توګه ورپسې فریادونه کوي ، ګریوانونه شکوي ، ویښته شکوي ، مخ وهي او داسې نور مخکې د مرګ په اړه کتاب کې دا خبره تېره شوه چې د کور د خلکو په عمل باندې مړي ته سزا ولې ورکوله کیږي؟ ددې لپاره مختلف ځوابونه شوي وو یو یې دا وو چې اکثر داسې خلک وي چې هغوی خپل اهل ته وایي چې په ما پسې به ډېر ژاړئ چې خلکو ته دروند ښکاره شم ... نو هغه ته عذاب ورکول کیږي او یا دا چې هر څوک چې مړ کیږي چې وخت پیدا کړي باید وصیت وکوي چې په ده پسې به څوک غیر شرعي فریاد نه کوي نو دا کسان بیا نه په عذاب کیږي او هغه څوک چې پدې خوشحالیږي چې په ده پسې ډېر فریاد وشي نو د هغه په اړه رسول الله ﷺ فرمایي : **مَنْ نِيحَ عَلَيْهِ يُعَذَّبُ بِمَا نِيحَ عَلَيْهِ** . [1]

ترجمة : هغه کس چې ژړا ورپسې کیږي هغه ته پدې سره عذاب ورکول کیږي.

او ځینې علماء وایي چې کله چې په ده پسې ژړا کونکې ښځې ژاړي ورته وایي اې د سر سیوریه... اې زمونږ دنیا... ای سیده .. ای سرداره نو هلته ملائکې ورته ولاړې وي او ده ته وربانديې عذاب ورکوي ورته وایې ته رښتیا داسې وې؟ اوس خو ته داسې پروت یې دا ته څنګه د سر سیورى وې دا څنګه سید وې؟ ....

په یو قول کې یو بل شی هم د قبر د عذاب سبب ګڼل شوي دي عبد الرزاق یې روایت کړی دی له معمر نه هغه له ابي اسحق هغه له ابي میسرة

---

[1] **متفق علیه**

عمرو بن شرحبيل نه روايت كړی دی هغه فرمايي : **قال مات رجل فلما أدخل في قبره أتته الملائكة فقالوا إنا جالدوك مائة جلدة عذاب الله قال فذكر صلاته وصيامه واجتهاده قال فخففوا عنه حتى انتهى إلى عشرة ثم سألهم فخففوا عنه حتى انتهى إلى واحدة فجلدوه جلدة اضطرم قبره نارا وغشي عليه فلما أفاق قال فيم جلدتموني هذه الجلدة قالوا إنك بلت يوما وصليت ولم تتوضأ وسمعت رجلا يستغيث مظلوما فلم تغثه .**

ترجمه : يو كس مړشو كله چې په قبر كې كېښودل شو ملائک ورته راغلې ورته يې وويل : مونږ تا سل ذُرې وهو دا د الله عذاب دی نو هغه خپل مونځ او خپلې روژې ورته د شفاعت په ډول ورته مخې ته كړې همدارنګه د هغه په نېكو عملونو كې كوښښ يې ياد كړو نو هغه ذُرې له ده څخه مرتبه په مرتبه سپكې شوې تردې چې لس شوې بيا يې ورته خپل منت وكولو هغه ذُرې ورته وبښل شوې او يوه ذُره يې ووهلو له ذُرې سره قبر ټول له اور نه ډک شو او په ده باندې بې هوشي راغله كله چې په خود كې شو نو يې پوښتنه وكوله دا يوه ذُره مو په څه ووهلم؟ دوی ورته وويل يوه ورځ ته په متيازو شوې (تاته متيازې درباد شوې) او تا په هماغه حالت كې مونځ وكولو او يوه ورځ يو مظلوم تاته اواز كولو او تا د هغه مرسته ونه كوله (او ته يې په مرسته باندې قادر هم وې) .

د قبر د عذاب نه نجات ورکونکي

ځینې داسې کارونه هم دي چې انسان یې په دنیا کې وکوي نو د قبر له عذاب څخه په امن کیږي او لکه بیا بیا چې مخکې تېر شول قبر د آخرت له منزلونو څخه اول منزل دی څوک چې پدې کې کامیاب شي ددېنه وروسته ټول منزلونه ورته اسان دي او څوک چې پدې کې ناکام شول ددېنه وروسته راتلونکي ټول منزلونه ورته سخت دي الله د مونږ ته دا اول منزل او وروسته را تلونکي ټول منزلونه اسان کړي علماوو هغه اسباب هم ځینې را ټول کړي دي چې د قبر له عذاب نه د امن سبب کیږي د مثال په ډول :

۱. ایمان او ثبات

د قبر او آخرت د عذاب نه تر ټولو نه زیات ساتونکی شی دادی چې انسان ایمان راوړي او په همدې ایمان باندې ټینګ پاتې شي الله فرمایي :
إِنَّ الَّذِينَ قَالُوا رَبُّنَا اللَّهُ ثُمَّ اسْتَقَامُوا تَتَنَزَّلُ عَلَيْهِمُ الْمَلَائِكَةُ أَلَّا تَخَافُوا وَلَا تَحْزَنُوا وَأَبْشِرُوا بِالْجَنَّةِ الَّتِي كُنتُمْ تُوعَدُونَ (30) . [1]

ترجمة : بېشکه هغه کسان چې ویلي ئې دي صدقاً له زړه چې رب زمونږ الله دی بیا ټینګ ولاړ دي (په دغه توحید او نورو اعمالو د دین) را نازلیږي به پر دوی پرښتې (عند النزع و البعث یا فی القبر چې داسې به وایي) مه ویریږئ او مه خفه کېږئ او خوشاله اوسئ تاسې په جنت هغه چې وئ تاسې چې وعده یې درسره کړل شویده (په ژبو د انبیاؤ د الله سره) .

---

[1] سورة الصافات

همدارنګه رسول الله ﷺ فرمايي : وَلَقَدْ أُوحِيَ إِلَيَّ أَنَّكُمْ تُفْتَنُونَ فِي الْقُبُورِ، مِثْلَ أَوْ قَرِيبًا مِنْ فِتْنَةِ الدَّجَّالِ، يُؤْتَى أَحَدُكُمْ فَيُقَالُ لَهُ: مَا عِلْمُكَ بِهَذَا الرَّجُلِ؟ فَأَمَّا الْمُؤْمِنُ أَوِ الْمُوقِنُ فَيَقُولُ: مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم، جَاءَنَا بِالْبَيِّنَاتِ وَالْهُدَى، فَأَجَبْنَا وَآمَنَّا وَاتَّبَعْنَا، فَيُقَالُ لَهُ : نَمْ صَالِحًا، فَقَدْ عَلِمْنَا إِنْ كُنْتَ لَمُوقِنًا، وَأَمَّا الْمُنَافِقُ أَوِ الْمُرْتَابُ فَيَقُولُ: لَا أَدْرِي سَمِعْتُ النَّاسَ يَقُولُونَ شَيْئًا فَقُلْتُهُ .[1]

ترجمة : ماته دا وحی وشوه چې تاسې ته به په قبر کې عذاب درکول کيږي لکه د دجال فتنه او يا دېته ورته تاسې يو ته به فرښته راځي درته به وايي : ددې کس په اړه د څه علم دی؟ هغه چې مؤمن وي او يقين يې وي هغه به ورته وايي دا محمد ﷺ دی مونږ ته يې دلائل راوړي وو او هدايت يې راوړی وو مونږ ورته لبيک وويل او مونږ وربانديې ايمان راوړو او مونږ يې متابعت وکولو نو ده ته به ووايي : ويده شه مونږ پدې پوه وو چې ستا يقين وو او هغه کس چې منافق وي او يا يې شک وي هغه به وايي : زه نه يم خبر ما به له خلکو نه څه شی آوريدل چې هغوی به ويل ما هم هماغه وويل .

۲. د عذاب له اسبابو ځان ساتل

له هغه شيانو څخه ځان ساتل چې د قبر د عذاب سبب کيږي چې تفصيل يې لږ مخکې تېر شو او که انسان په کومه ګناه آخته وي چې د قبر د عذاب سبب کيږي له هغه نه توبه ويستل او هغه پرېښودل ددې سبب کيږي چې انسان د قبر له عذاب نه وساتل شي اما ابن قيم فرمايي : **أما المجمل هو تجنب تلك الأسباب التي تقتضي عذاب القبر، ومن أنفعها أنْ يجلس الرجل عندما يريد النوم لله ساعة يحاسب نفسه فيها على ما**

[1] متفق عليه

خسره وربحه في يومه، ثم يجدد توبة نصوحًا بينه وبين الله، فينام على تلك التوبة، ويعزم على أنْ لا يعاود الذنب إذا استيقظ. ويفعل هذا كل ليلة، فإنْ مات من ليلته مات على توبة، وإنْ استيقظ استيقظ مستقبلا للعمل مسرورًا بتأخير أجله حتى يستقبل ربه، ويستدرك ما فاته.

ترجمة : لنده دا چې د هغه اسبابو څخه انسان ځان وساتي او توبه ترې وباسي چې هغه د قبر د عذاب سبب کیږي او ښه طریقه یې داده چې انسان کله ویده کیږي نو یو ساعت د الله لپاره کیني له خپل ځان سره حساب وکوي چې نن ورځ دده لپاره په ګټه کې وه او که په نقصان کې وه او بیا ددې فکر نه وروسته خپله توبه نوې کړي او د الله او د خپل په مینځ کې صلح وکوي او په همدې توبه باندې ویده شي او تر ویده کېدو وړاندې دا عزم هم وکوي چې بیا به دا ګناه زه بالکل نه کوم کله چې را ویښ شم او هره شپه دا کار وکوي نو که پدې شپه کې مړ شي نو د توبې سره مړ شو او که را ویښ شي نو باید پدې خوشحالي کې را ویښ شي چې الله دده مرګ وروسته کړو او دادي بیا یې یوه ورځ ورکړه او پدې نوې ورځ کې به الله ته مخ کړي او کوم عملونه چې له ده څخه پاتې وي هغ به پوره کړي .

۳. نېک اعمال کول

هغه کسان چې په دنیا کې نېک اعمال زیات کوي په ښه طریقه په خپل وخت د ټولو شرطونو او ارکانو واجباتو سنتونو سره مونځ کوي او په همدې ډول روژه نیسي حج او زکات جهاد او دیني خدمت په سمه توګه کوي هغه کسان د قبر له عذاب څخه په امن کې وي مخکې د رسول الله ﷺ حدیث تېر شو رسول الله ﷺ فرمایل : **إِذَا دَخَلَ الإنْسَانُ قَبْرَهُ ، فَإِنْ كَانَ مُؤْمِنًا أَحَفَّ بِهِ عَمَلُهُ ، الصَّلاةُ وَالصِّيَامُ** (کله چې انسان قبر ته ننه ایستل شي که چېرته مؤمن وي نو د هغه نېک اعمال په ده باندې راټول شي) او پدې اړه مختلف احادیث تېر شول چې بیا دده نېک اعمال د عذاب فرښتې نه پرېږدي چې دې بنده ته ور نېږدې شي او دا نېک اعمال له هر اړخ نه د بنده ساتنه کوي .

همدارنګه په یو حدیث کې رسول الله ﷺ اودس په قبر کې د عذاب نه خلاصوونکی یاد کړی دی رسول الله ﷺ فرمایي : **إني رأيت الليلة عجبا - فذكر الحديث بطوله - وفيه رأيت رجلا من أمتي بسط عليه عذاب القبر فجاءه وضوءه فاستنقذه منه .** [1]

ترجمة : نن شپه ما څه عجیب ولیدل بیا یې اوږد حدیث یاد کړو او په هغه کې یې دا هم وویل چې ما یو سړی ولیدو زما د امت نه په هغه باندې د قبر عذاب خپور شوی وو دده اودس ورته راغلو دی یې ورڅخه خلاص کړو .

---

[1] **رواه الطبراني**

٤ . شهادت

د الله په لاره کې چې چاته شهادت نصیب شي هغوی هم د قبر له عذاب څخه په امن کې وي او په هغوی باندې د قبر عذاب او د قبر فتنې نه راځي رسول الله ﷺ فرمايي : **للشهيد عند الله سِتُّ خصال: يَغفر له في أول دُفعة من دمه، ويُرى مقعده من الجنة، ويُجار من عذاب القبر،، ويأمن من الفزع الأكبر، ويُحلّى حلة الإيمان، ويُزوج من الحور العين، ويُشفَّع في سبعين إنساناً من أقاربه .** [1]

ترجمه : دشهيد لپاره د الله سره شپږ خصوصيتونه دي ١. د وينې له اولې دفعې سره ورته گناهونه بښل کيږي ٢. د شهادت په وخت کې ورته په جنت کې خپل ځای ور ښکاره کول کيږي ٣. د قبر د عذاب نه ورته امان ورکول کيږي او د قيامت د ويرې نه به په امن وي ٤. د ايمان غاړکی به په غاړه کې ور اچول کيږي ٥. حورې ورته په نکاح کيږي ٦. د خپلوانو له جملې څخه به د اويا کسانو په حق کې شفاعت کوي او دده شفاعت به منل کيږي .

له حضرت راشد بن سعد نه روايت دی هغه له يو صحابي نه روايت کوي هغه فرمايي : **أَنَّ رَجُلا قَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ مَا بَالُ الْمُؤْمِنِينَ يُفْتَنُونَ فِي قُبُورِهِمْ إِلا الشَّهِيدَ قَالَ كَفَى بِبَارِقَةِ السُّيُوفِ عَلَى رَأْسِهِ فِتْنَةً .** [2]

ترجمه : يو سړي (چې راوي ته يې نوم نه وو زده) رسول الله ﷺ ته وويل : يا رسول الله څه وجه ده چې مؤمنان ټول په قبرونو کې په فتنه کې واقع کيږي بغير د شهيدانو نه (څه وجه ده چې

---

[1] **رواه الترمذي و ابن ماجة**
[2] **رواه النسائي**

شهیدان د قبر له عذاب نه په امن کې وي؟) رسول الله ﷺ ورته وویل : کله چې هغه په جنګ کې وو او په سر باندې یې د تورو پړقا وه هغه فتنه دده بس ده د قبر د عذاب نه د هغه حالت له برکت نه په امن کې شوی دی .

٥. د الله په لاره کې پهره کول

د الله په لاره کې ددې لپاره پهره کول چې مسلمانان د کفارو له حملې او د هغوی له خطر څخه وساتل شي هم د قبر د عذاب نه انسان ته نجات ورکوي رسول الله ﷺ د هغه مجاهد په اړه فرمايي چې هغه د الله د رضا لپاره پهره کړې وي :**كُلُّ مَيِّتٍ يُخْتَمُ عَلَى عَمَلِهِ إِلَّا الَّذِي مَاتَ مُرَابِطًا فِي سَبِيلِ اللَّهِ، فَإِنَّهُ يُنْمَى لَهُ عَمَلُهُ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ، وَيَأْمَنُ مِنْ فِتْنَةِ الْقَبْرِ .** [1]

ترجمة : هرڅوک چې مړ شي د هغه عمل ختميږي مګر هغه کس چې د پهرې په حالت کې مړ شي چې د الله په لاره کې پهره کوي د هغه عمل د قيامت تر ورځې پورې نمو کوي او زياتيږي او د هغه د قبر له عذاب څخه په امن کې کيږي .

په يو بل حديث کې جهاد ياد کړل شوی دی چې د قبر د عذاب نه نجات ورکوي په هغه حديث کې حضرت ابو ايوب انصاري فرمايي رسول الله ﷺ فرمايي : **من لقي في سبيل الله فصبر حتى يقتل أو يغلب لم يفتن في قبره أبدا.**

ترجمة : څوک چې د الله په لاره کې له دشمن سره مخامخ شي نو دی په تکليف باندې صبر وکوي تردې

[1] **رواه الترمذي**

چې یا خو ووژل شي او یا غالب شي نو هغه ته به کله هم په قبر کې عذاب نه ورکول کیږي .

٦. د قبر له عذاب څخه پناه غوښتل

رسول الله ﷺ په مختلفو ځایونو کې امر کړی دی چې د قبر له عذاب څخه پناه وغواړئ او رسول الله ﷺ په خپله هم د قبر له عذاب څخه پناه غوښته هم په مانځه کې او هم په صبا او بیګاه کې د ویده کېدلو او را ویښېدلو په وخت کې او یو حدیث یې مخکې هم تېر شو د موضوع د تکمیل په غرض یې را ګرځوم رسول الله ﷺ فرمایل : **إِذَا تَشَهَّدَ أَحَدُكُمْ فَلْيَسْتَعِذْ بِاللَّهِ مِنْ أَرْبَعٍ، يَقُولُ : اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ جَهَنَّمَ، وَمِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ، وَمِنْ فِتْنَةِ الْمَحْيَا وَالْمَمَاتِ، وَمِنْ شَرِّ فِتْنَةِ الْمَسِيحِ الدَّجَّالِ.** [1]

ترجمة : کله چې تاسې چا التحیات ویل نو بیا د په الله باندې له څلورو شیانو څخه پناه غواړي او وایي دي ای الله زه په تا باندې پناه غواړم د عذاب د دوزخ نه او د عذاب د قبر نه او د ژوند او مرګ له فتنې څخه او د فتنې د دجال څخه .

او هغه څوک چې الله ته عاجزي وکوي او د قبر له عذاب نه ورڅخه نجات وغواړي نو الله ورته نجات ورکوي او الله د بندګانو دعا ګانې قبلوي .

٧. د جُمعې په ورځ یا شپه مرګ

هغه کس چې د جُمعې په شپه او یا د جُمعې په ورځ مړ شي هغه کس ته هم د قبر عذاب نه ورکول کیږي

[1] **صحيح مسلم**

رسول الله ﷺ فرمايي : **مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَمُوتُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ أَوْ لَيْلَةَ الْجُمُعَةِ إِلا وَقَاهُ اللَّهُ فِتْنَةَ الْقَبْرِ.**

ترجمة : هېڅ مسلمان د جُمعې په شپه او يا د جُمعې په ورځ نه وفات کيږي مګر جُمعه يې د قبر له عذاب څخه ساتي .

٨. د ګېډې په بيماري مړه کېدل

هغه څوک چې د ګېډې په بيماري باندې مړ شي او د ګېډې بيماري دلته ټولو هغه بيماريو ته ويل کيږي چې په انسان کې د ننه وي نو د زيات تکليف له امله او دې ډول بيمار ته د زيات درد له امله الله دی د قبر له عذاب څخه په امن کې کوي رسول الله ﷺ فرمايي : **مَن يقتلْهُ بطنُهُ لم يُعذَّبْ في قبرِهِ.** [1]

ترجمة : هغه کس چې دده ګېډه يې مړ کړي يعني د ګېډې په بيمار باندې مړ شي هغه ته به په قبر کې عذاب نه ورکول کيږي .

[1] **رواه النسايي**

٩. سورة الملک لوستل

هغه کسان چې هره شپه سورة الملک تلاوت کوي نو په هغه باندې د قبر عذاب نه راځي حضرت عبد الله بن مسعود فرمايي : **من قرأ تبارك الذي بيده الملك كل ليلة منعه الله بها من عذاب القبر وكنا في عهد رسول الله صلى الله عليه و سلم نسميها المانعة.** [1]

ترجمة : چا چې تبارک الذي بيد الملک سورة هره شپه ولوست نو د قبر له عذاب نه به ورته مانع شي او مونږ به د رسول الله ﷺ په وخت کې دې سورت ته المانعة (منع کونکې) ويل.

١٠ . صدقات ورکول

خيراتونه او صدقې ورکول هم انسان د قبر له عذاب څخه ساتي رسول الله ﷺ فرمايي : **إِنَّ الصَّدَقَةَ لَتُطْفِئُ عَنْ أَهْلِهَا حَرَّ الْقُبُورِ، وَإِنَّمَا يَسْتَظِلُّ الْمُؤمِنُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فِي ظِلِّ صَدَقَتِهِ .** [2]

ترجمة : بېشکه صدقه له خپل اهل نه د قبر ګرمي ختموي او انسان په قيامت کې د خپلې صدقې تر سيوري لاندې پاتې کيږي .

يعني په هغه ورځ چې هېڅ سيورى به نه وي او ټول خلک به لمر ته ولاړ وي او سخته ګرمي به وي او اوږده ورځ به وي په هغه ورځ به صدقه کونکي خلک د خپلې صدقې تر سيوري لاندې ولاړ وي .

١١. صدقه جاريه

[1] رواه النسائي
[2] رواه الطبراني

په صدقاتو کې په خاصه توګه صدقه جاريه هم د قبر له عذاب نه نجات ورکوي او بنده د قبر له عذاب څخه ساتي همدارنګه هغه څه چې انسان يې وقف کړي ترڅو چې هغه وقف شوي شی استعماليږي نو ده ته يې ثواب رسيږي رسول الله ﷺ فرمايي : **إذا ماتَ ابنُ آدمَ انقطعَ عملُهُ إلا مِن ثلاثٍ: صدقةٍ جاريةٍ، أو علمٍ يُنتفَعُ بهِ، أو ولدٍ صالحٍ يدعُو لهُ .** [1]

ترجمة : کله چې بنده مړ شي له هغه څخه دده عمل قطع شي (نور اعمال دده په عملنامه کې نه ثبت کيږي) مګر د دريو شيانو ثواب په ده پسې له مرګ نه وروسته هم رسيږي صدقه جاريه ، هغه علم چې فايده ورڅخه اخيستله کيږي ، هغه نېک او صالح زوی چې ده ته دعاء کوي .

۱۲. مړي ته دعاء کول

بل هغه څه چې اميد دی چې د مړي نه به د قبر عذاب پورته کړي هغه ته دعاء کول دي او هغه په دعاء کې ياد ساتل دي کله چې ژوندي مؤمنان هغه په دعاء کې ياد ساتي لدې سره له هغه نه عذاب سپکيږي حضرت عوف بن مالک الاشجعي فرمايي : ما له رسول الله ﷺ څخه واورېدل چې هغه په يوه جنازه کې فرمايل : **اللَّهُمَّ اغْفِرْ لَهُ وَارْحَمْهُ وَاعْفُ عَنْهُ وَعَافِهِ وَأَكْرِمْ نُزُلَهُ وَوَسِّعْ مُدْخَلَهُ وَاغْسِلْهُ بِمَاءٍ وَثَلْجٍ وَبَرَدٍ وَنَقِّهِ مِنْ الْخَطَايَا كَمَا يُنَقَّى الثَّوْبُ الْأَبْيَضُ مِنْ الدَّنَسِ وَأَبْدِلْهُ دَارًا خَيْرًا مِنْ دَارِهِ وَأَهْلًا خَيْرًا مِنْ أَهْلِهِ وَزَوْجًا خَيْرًا مِنْ زَوْجِهِ وَقِهِ فِتْنَةَ الْقَبْرِ وَعَذَابَ النَّارِ قَالَ عَوْفٌ فَتَمَنَّيْتُ أَنْ لَوْ كُنْتُ أَنَا الْمَيِّتَ لِدُعَاءِ رَسُولِ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم عَلَى ذَلِكَ الْمَيِّتِ** [2]

---

[1] رواه مسلم
[2] رواه مسلم

ترجمة : اى الله ده ته بښنه وكوه په ده رحم وكوه او ده ته عفوه وكوه ده ته دده د مېلمستيا معززه كړه د ورتلو ځاى يې ازاد كړه په ابو او واوره او يخ سره يې ووينځه له خطاياوو څخه يې داسې پاك كړه لكه سپينه جامه چې پاكيږي له خيري نه او ددې كور په ځاى هلته ښه كور وركړه او ددې اهل په ځاى هلته ښه اهل وركړه او ددې جوړې په ځاى هلته ښه جوړه وركړه او د قبر له فتنې د اور له عذاب څخه يې وساته حضرت عوف فرمايي ما تمنا وكوله كاش دغه مړى چې رسول الله ﷺ ورته دعاء وكوله زه واى .

همدارنګه رسول الله ﷺ كله چې د يوه مړي د ښخولو نه فارغ شو نو وبه يې فرمايل : **استغفِروا لأخيكم، واسألوا لهُ التثبيتَ؛ فإنهُ الآنَ يُسألُ** .[1]

ترجمة : د خپل ورور لپاره مو بښنه وغواړئ او دده لپاره له الله نه د ثبات سوال وكوئ اوس له ده څخه پوښتنه كيږي .

---

[1] **رواه أبو داود**

۱۳. مړي ته د نېک عمل ثواب ور بښل

همدارنګه څوک چې مړي ته د خپلو نېکو عملونو ثواب ور وبښي لدې سره هم د هغه څخه د قبر عذاب سپکیږي په بخاري او مسلم کې حدیث دی چې یو کس رسول الله ﷺ ته راغلو ورته یې وویل زما مور مړه شوې ده زه د هغې نه صدقه وکوم؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : هو ته له هغې څخه صدقه

وکوه امام نووي ددې حدیث په تشریح کې فرمایلي دي پدې کې ښکاره دلیل موجود دی چې د مړي نه صدقه کول روا دي او دا چې د مړي نه صدقه وشي ثواب یې مړي ته رسیږي او هغه ته فایده کوي او پدې باندې د ټولو مسلمانانو اجماع ده .

په قبر کې د نېکو اعمالو فایده

حضرت کعب فرمايي : **إذا وضع العبد الصالح في قبره احتوشته أعماله الصالحة الصلاة والصيام والحج والجهاد والصدقة قال وتجيء ملائكة العذاب من قبل رجليه فتقول الصلاة إليكم عنه فقد أطال القيام لله عليهما قال فيأتون من قبل رأسه فيقول الصيام لا سبيل لكم عليه فقد أطال ظمأه لله تعالى في الدنيا قال فيأتون من قبل جسده فيقول الحج والجهاد إليكم عنه فقد أنصب نفسه وأتعب بدنه وحج وجاهد لله عز و جل لا سبيل لكم عليه قال فيأتونه من قبل يديه فتقول الصدقة كفوا عن صاحبي فكم من صدقة خرجت من هاتين اليدين حتى وقعت في يد الله عز و جل ابتغاء وجهه فلا سبيل لكم عليه فيقال هنيئا طيبا حيا وميتا قال ويأتيه ملائكة الرحمة فتفرش له فراشا من**

الجنة ودثارا من الجنة ويفسح له في قبره مد البصر ويؤتى بقنديل من الجنة فيستضيء بنوره إلى يوم يبعثه الله من قبره . [1]

کله چې يو نېک انسان په قبر کې کېښودل شي نو نېک اعمال د هغه مونځ او روژه ، حج، جهاد او صدقه وربانديږ را ټول شي او دده ساتنه کوي کله چې د عذاب ملائک ورته د پښو له خوا راشي نو دده مونځ ورته وايي ده ته مه را نېږدې کيږئ ده ته تاسې څه نشي ويلی دی به اکثر د ډېر وخت لپاره په ما باندې د الله لپاره ولاړ وو بيا چې کله فرښتې د سر له خوا ورته راشي نو روژه يې ورته وايي نه تاسې ده ته څه نشئ ويلی ده به اکثر د الله لپاره روژه نيوله نو بيا چې له نورو اړخونو وربانديږ را تلل وغواړي نو حج او جهاد ورته وايي نه ... تاسې ده ته عذاب نشئ ورکولی ده به اکثر ځان د الله د رضا لپاره ستړی کولو او دا بدن به يې استعمالولو نو بيا چې د مخې له خوا وربانديږ را تلل وغواړي نو صدقه ورته وايي چې څومره ځله لدې لاسونو څخه د الله د رضا لپاره صدقه وتلې ده تاسې اوس ده ته څه نشئ ويلی او عذاب نشئ ورکولی .

نو ده ته بيا وويل شي چې څه مبارک د شه په ژوند کې هم ښه وې وروسته له مرګه هم ښه يې بيا د رحمت ملائک ورته راشي نو د جنت فرش ورته وغوړوي او په قبر کې ورته دومره فراخي راولي لکه څومره چې دده نظر کار کوي او د جنت نه ورته يو چراغ راوړي تر قيامت پورې ده ته په قبر کې رڼا کوي.

په يو بل حديث کې حضرت امام احمد د محمد بن المنکدر يو حديث نقل کړی دی هغه فرمايي چې

---

[1] **رواه ابن ابي الدنيا**

حضرت اسماء قصه كوله چې رسول الله ﷺ فرمايل :
إذا أدخل الإنسان في قبره فإن كان مؤمنا حف به عمله الصيام والصلاة قال فيأتيه الملك من نحو الصلاة فيرده ومن نحو الصيام فيرده فيناديه اجلس فيجلس فيقول ماذا تقول في هذا الرجل يعني النبي صلى الله عليه و سلم قال : من ؟ قال : محمد قال محمد صلى الله عليه و سلم قال فيقال وما يدريك أدركته ؟ قال يقول إنه رسول الله صلى الله عليه و سلم قال يقول على ذلك عشت وعليه مت وعليه تبعث
قال إن كان فاجرا أو كافرا قال جاءه الملك ليس بينه وبينه شيئ يرده فأجلسه قال يقول اجلس ماذا تقول في هذا الرجل قال أي رجل قال محمد قال يقول والله ما أدري سمعت الناس يقولون شيئا فقلته قال فيقول له الملك على ذلك عشت وعليه مت وعليه تبعث قال ويسلط عليه دابة في قبره معها سوط بمرزبة جمرة مثل غرب البعير تضربه ما شاء الله صماء لا تسمع صوته فترحمه. [1]

ترجمة : كله چې انسان په قبر كې كېښودل شي او هغه مؤمن وي نو د هغه عملونه مونځ او روژه په هغه باندې را تول شي نو چې فرښته د مانځه له خوا ورته راشي هغه يې ترې منع كړي چې د روژې له خوا ورته راشي هغه يې ورڅخه منع كړي نو بيا نېږدې نه ورځي اواز ورته كوي كېنه ... هغه را كيني نو ورته ووايي ددې كس په اړه څه وايې؟ يعني رسول الله ﷺ دى ورته ووايي : څوک؟ هغه ورته وايي محمد نو دى ورته ووايي : هغه محمد صلى الله عليه وسلم دى فرښته ورته ووايي ته پرې څه خبر يې؟ دى ورته وايي : هغه د الله رسول دى فرښته ورته ووايي په همدې كې د ژوند وكولو او په همدې باندې وفات شوې او په همدې باندې به ان شاء الله له قبر نه را پورته كېږې .

[1] رواه الامام احمد

او که فاجر وي نو فرښته ورته راشي هيڅ شی يې ترې نشي منع کولی نو هغه يې را کينوي ورته ووايي کينه ددې سړي په حق کې څه وايې؟ هغه ورته وايي د کوم سړي؟ فرښته ورته وايي محمد دی ورته وايي زه خو نه يم خبر خو خلکو به څه ويل ما هم هماغه وويل فرښته ورته وايي په همدې نظريه د ژوند وکولو په همدې مړ شوې او له همدې سره به را پورته کيږې .

او بيا وربانديې يوه دابه مقرره کړي چې له ده سره په قبر کې وي او په لاس کې يې يوه دره وي لکه هغه چې خلک پرې اوښان وهي تر هغه وخته پورې يې وهي چې ترڅو د الله خوښه وي هغه په غوږو کڼه وي دده اواز نه آوري چې وربانديې رحم وکوي .

همدارنګه د حضرت براء بن عازب يو اوږد حديث تېر شو چې په هغه کې د روح د قبض نه واخله د قبر په مرحلو کې تر آخره پورې د مسلمان او کافر دواړو حالتونه ذکر شوي وو هلته هم تېر شول چې مسلمان ته به يو ښکلی شکل لرونکی کس راشي ، ښکلې جامې يې وي ، ښه بوی ورڅخه ځي ده ته به ووايي : هغه زيری مې دربانديې چې تا خوشحاله کوي دا هغه ورځ ده چې لتا سره يې وعده کېده دی به ورته ووايي : ته څوک يې ستا مخ خو داسې مخ دی چې خير راوړي هغه به ورته ووايي زه ستا نېک عمل يم دی به وايي ای الله زر قيامت کړه چې زه خپل اهل او خپل مال ته ورشم ...

همدارنګه حضرت عائشه فرمايي : **إذا خرج سرير المؤمن نادى أنشدكم الله لما أسرعتم بي فإذا أدخل قبره لحقه عمله فتجيء الصلاة فتكون على يمينه ويجيء الصوم فيكون عن يساره ويجيء عمله بالمعروف فيكون عند رجليه فتقول الصلاة : ليس لكم**

قبل مدخل كان يصلي فيأتون من قبل رأسه فيقول الصوم : إنه كان يصوم ويعطش فلا يجدون موضعا فيأتون رجليه فتخاصم عنه أعماله فلا تجد له مسلكا . [1]

ترجمة : کله چې د مؤمن جنازه وویستله شي هغه چیغې وهي د الله لپاره لږ زر زر مې یوسئ کله چې قبر ته ور ښکته کړل شي عملونه یې ورته راشي مونځ یې راشي ښي طرف ته یې ودریږي روژه یې راشي چپ طرف ته یې ودریږي او په نېکیو باندې امر یې راشي نو د پښو خوا ته ورته ودریږي (نو چې کله فرښتې ورته راشي) مونځ یې ورته وایي تاسې ده ته زما له لوري نه شئ ورتلی ده به هر وخت مونځ کاوه نو چې د سر له خوا ورته راشي نو روژه ورته وايي تاسې له دې خوا ده ته نه شئ راتلی ده به هر وخت روژه نیوله او تږی کېدو به نو د پښو له خوا ورته راشي نو هلته ورسره دده نور نېک اعمال لانجه وکوي او فرښتې ده ته نېږدې نه ور پرېږدي .

همدارنګه د حضرت ثابت البناني څخه بل روایت دی هغه فرمایي : **إذا وضع الميت في قبره احتوشته إعماله الصالحة وجاء ملك العذاب فتقول له بعض إعماله إليك عنه فلو لم يكن إلا أنا لما وصلت إليه .**

ترجمة : کله چې مړی په قبر کې کېښودل شوي (نېک مسلمان وي) نو د هغه نېک اعمال ده ته راشي کله چې د عذاب فرښته ده ته راشي نو دده ځینې اعمال ورته وايي لدې خوا به ده ته نه ورځې که دده سره نور هېڅ نه وي یوازې زه وم ته ده ته نشې ورتلی .

[1] **رواه ابن ابي الدنيا**

په بل روايت کې هم حضرت ثابت البناني فرمايي : **إذا مات العبد الصالح فوضع في قبره أتي بفراش من الجنة وقيل له نم هنيئا لك قرة العين لک قال ويفسح له في قبره مد بصره ويفتح له باب إلى الجنة فينظر إلى حسنها ويجد ريحها وتحتوشه أعماله الصالحة الصيام والصلاة والبر فتقول أنصبناك واطمأناك وأسهرناك فنحن اليوم بحيث تحب نحن أنساؤك حتى تصير إلى منزلك من الجنة .**

کله چې صالح بنده مړ شي په قبر کې کېښودل شي نودجنت نه فرش ورته راوړل شي او ورته ويل شي : ويده شه خوشحاله شه او بيا به ده ته قبر دومره فراخه شي څومره چې دده نظر کار کوي او له جنت نه به يوه دروازه ورته راخلاصه شي دى به د جنت ښکلا ته ګوري او د هغه ښکلى بوى به ده ته راځي او دده سره به نېک اعمال ملګري وي دده روژه او دده مونځ به له ده سره وي ورته به وايي په دنيا کې مونږ ته ستړى کړى وې له خوبه مو ويستلى وې او نن مونږ لتاسره تر هغه وخته پورې ملګري يو چې ترڅو ته جنت ته نه وې رسېدلى .

ابن ابي الدنيا له حضرت يزيد الرقاشي څخه نقل کړي دي چې هغه به فرمايل : **بلغني أن الميت إذا وضع في قبره احتوشته أعماله فأنطقها الله تعالى فقالت أيها العبد المنفرد في حفرته انقطع عنك الأخلاء والأهلون فلا أنيس لك اليوم غيرنا قال ثم يبكي ويقول طوبى لمن كان أنيسه صالحا طوبى لمن كان أنيسه صالحا والويل لمن كان أنيسه وبالا .** [1]

ترجمة : ماته دا خبره را رسېدلې ده چې کله مړى په قبر کې کېښودل شي نو د هغه اعمال ورته راشي او هغوى ته الله د خبرو قوت ورکړي ورته

[1] **رواه بن ابي الدنيا**

وايې ای بنده چې يوازې په قبر کې کېښودل شوی يې لتا څخه اوس ستا ملګري او دوستان قطع شول نو نن درسره هېڅوک ملګری نشته له مونږ نه بغير بيا به يزيد رقاشي په ژړا شو ويل به يې مزې د هغه چا دي چې پدې ورځ يې ملګري نېک اعمال وي خوشحالي د هغه چا لپاره ده چې پدې ورځ يې نېک اعمال ملګري وي او عذاب دی د هغه چا لپاره چې ملګری يې پدې ورځ بد اعمال او ګناه وي .

حضرت وليد بن عمرو بن الصباح به فرمايل :
قال بلغني أن أول شيء يجده الميت حوله عند رجليه فيقول ما أنت فيقول أنا عملك . [1]

ترجمة : ماته دا خبره را رسېدلې ده چې په اول هغه شی چې مړی يې په خپله خوا کې ويني هغه شی دي چې مړی ورڅخه پوښتنه کوي چې ته څه شی يې؟ هغه به ورته وايي زه ستا نېک عمل يم .

حضرت عبد الله بن مسعود فرمايي : **من قرأ تبارك الذي بيده الملك كل ليلة منعه الله بها من عذاب القبر وكنا في عهد رسول الله صلى الله عليه و سلم نسميها المانعة.** [2]

ترجمة : چا چې تبارک الذي بيد الملک سورة هره شپه ولوست نو د قبر له عذاب نه به ورته مانع شي او مونږ به د رسول الله ﷺ په وخت کې دې سورت ته المانعة (منع کونکې) ويل.

همدا مضمون په يو بل روايت کې هم نقل شوی دی د حضرت عبد الله بن مسعود په اړه نقل شوي دي
أنه ذكر تبارك فقال هي المانعة تمنع من عذاب القبر توفي رجل فأتي

[1] رواه بن ابي الدنيا
[2] **رواه النسائي**

من قبل رجليه فتقول رجلاه لا سبيل لكم على ما قبلي إنه كان يقرأ سورة الملك ويؤتى من قبل بطنه فيقول بطنه لا سبيل لكم على ما قبلي إنه كان يقرأ سورة الملك .

ترجمة : حضرت عبد الله بن مسعود تبارک الذي سورت ياد کړو بيا يې وويل : دا سورة المانعة (منع کونکی) دی له عذاب د قبر نه يو کس چې وفات شي نو د پښو له خوا ورته عذاب راځي نو د هغه پښې ورته وايي لدې خوا تاسې په ده باندې نه شئ ورتلئ ځکه ده به تبارک الذي ويله او چې دده د ګيډې له خوا پرې راشي نو دده ګېډه ورته وايي تاسې په ده باندې زما له خوا نه شئ ورتلئ ده به تبارک الذي ويله .

امام ابو عبيد لوی عالم دی د قرآن په فضائلو يې يو کتاب ليکلی دی هغه د حضرت عبد الله بن مسعود نه نقل کوي چې هغه فرمايل : کله چې يو کس وفات شي نو په خوا کې ورته اور بل شي که دده په خوا کې داسې څه نه وي چې دی وساتي نو دده سره چې هرڅه وي هغه وسوزوي او يو کس چې وفات شو او ده له قرآن څخه نور هېڅ نه لوستل بس يو سورت يې لوستلو چې دېرش آيتونه يې درلودل نو چې عذاب د سر له خوا ورته راشي نو دا سورت ورته وايي ده به زه تلاوت کولم ... نو ددې خوا بيا عذاب ورته نه شي راتلی بيا د پښو له خوا ورته را شي نو هغه سورت ورته وايي ده به په ما باندې قيام کولو (زه به يې په مانځه کې تلاوت کولم) نو د ګيډې له خوا پرې راشي نو دا سورت ورته وايي دا خو زما لوښی وو (ده زه حفظ کړی وم او دلته زه اوسېدم) نو هغه دېرش آيتونه لرونکی سورت عذاب نه پرېږدي چې دې مړي ته ورشي دی مبارک وايي چې مونږ بيا قرآن کريم وکتلو صرف يو سورت مو پيدا کړو چې دېرش آيتونه يې درلودل هغه تبارک الذي (سورة الملک) سورت وو .

دا بل روایت دی سلسله د روایت یې دلته ذکر ده :

وروى هشام بن عمار حدثنا عبد الله بن عبد الرحمن بن يزيد عن ابن جابر عن أبيه عن عطاء بن يسار قال:

إذا وضع الميت في لحده فأول شيء يأتيه عمله فيضرب فخذه الشمال فيقول أنا عملك فيقول فأين أهلي وولدي وعشيرتي ما خولني الله تعالى فيقول تركت أهلك وولدك وعشرتك وما خولك الله وراء ظهرك فلم يدخل فبرك معك غيري فيقول يا ليتني آثرتك على أهلي وولدي وعشيرتي وما خولني الله تعالى إذا لم يدخل معي غيرك .

ترجمة : کله چې مړی په قبر کې کېښودل شي نو اول شی چې ده ته راځي دده عمل وي دی دده په زنګون ووهي ورته وایي زه ستا نېک عمل یم مړی ورته ووایي : نو زما اهل زما اولاد او زما کورنۍ او هغه خلک چېرته دي چې ما ورسره دوستي کوله او ماته الله راکړي وو هغه (دده عمل) به ورته ووایي تا خپل اهل خپل اولاد خپلوان او هغه چې تاته الله درکړي وو هغه د ټول شا ته پرېښودل او قبر ته یوازه زه درسره راغلم زما نه بغیر نور هیڅوک لتا سره قبر ته رانغلل دی به ورته ووایي کاش چې زه مخکې خبر وای چې یوازې ته لما سره قبر ته راځې چې ما په هغوی ټولو باندې ته غوره کړی وای او هغوی مې پرېښي وای او لتا سره مې په دنیا کې ډېر ښه کړی وای .

او پدې پورته ټولو خبرو باندې ګواه د رسول الله ﷺ حدیث دی چې حضرت انس بن مالک روایت کړی دی : عن النبي صلى الله عليه و سلم قال يتبع الميت ثلاثة فيرجع

اثنان ويبقى واحد يتبعه أهله وماله وعمله فيرجع أهله وماله ويبقى عمله. [1]

ترجمة : له رسول الله ﷺ څخه روايت کوي هغه فرمايي له جنازې سره درې شيان ځي دوه ترې راګرځي او يو ورسره پاتې کيږي له جنازې سره د هغه اهل (د کورنۍ خلک او دوستان) د هغه مال او د هغه عمل ځي د هغه اهل او مال بيرته را ستنيږي او دهغه نېک عمل ورسره پاتې کيږي .

په بل حديث کې حضرت انس بن مالک فرمايي : رسول الله ﷺ فرمايل : **ما من عبد إلا له ثلاثة أخلاء فأما خليل فيقول له ما أنفقت فلك وما أمسكت فليس لك فذلك ماله وأما خليله فيقول أنا معك فإذا أتيت باب الملك رجعت وتركتك فذلك أهله وحشمه وأما خليل فيقول أنا معك حيث دخلت وحيث خرجت فذلك عمله فيقول إن كنت لأهون الثلاثة علي.** [2]

ترجمة : د هر بنده درې ملګري وي يو هغه ملګرى وي چې ورته وايي کوم د چې مصرف کړو هغه ستا دى او هغه چې د وساتلو هغه ستا نه دى دا ملګرى د هغه مال دى (کوم يې چې تر خپل مرګ وړاندې مصرف کړو نو دده وو ده ورڅخه فايده پورته کړه او هغه چې ده وساتلو دى ترې مړ شي هغه دده څخه وروسته دده وارثانو ته پاتې شي بيا د هغوى مال وي) بل هغه ملګرى وي چې لتا سره وي کله چې ته د ملک دروازې ته راشې نو هغه درڅخه وګرځي او تا پريږدي دا دده اهل او دده دوستان دي (دا تر مرګه پورې له انسان سره وي کله چې انسان مړ شي او خښ کړل شي دوى بېرته را ستانه شي او اکثر په هماغه ورځ بېرته په خپلو کارونو مصروف شي) بل هغه ملګرى

---

1 **صحيح البخاري و مسلم**
2 **رواه البزار**

دی چې ده ته وايي زه لتا سره يم چېرته چې ته نـنوزې زه درسره ننوزم او چېرته چې ته وزې زه درسره وزم دا ملګری دده عملونه دي او دا انسان به يو وخت خپل دې ملګري ته وايي ته خو پدې دريو واړو کې ماته ډېر سپک وې (ما ډېره توجه هغو دواړو ته کوله او تاته خو په دنيا کې ما دومره توجه نه کوله د څومره چې ته مستحق وې) .

په قبر کې نېک اعمال

کله چې انسان خپل ځان په پوره توګه الله ته تسليم کړي او د هغه زړه ته د الله پوره مينه ور ننوزي نو هغه په عبادت باندې داسې خوند او مزه اخلي لکه نور انسانان يې چې په ګناهونو باندې اخلي او هغوی د الله عبادت ته خوشحاليږي او په مينه سره يې کوي او دا د انسان د نيکمرغي نښه ده چې په عبادت کې يې لذت پيدا شي او زيات شي هغه کسان چې د الله له عبادت څخه خوند اخلي هغوی هر وخت په مينه سره عبادت کوي او کله چې د انسان په عبادت کې لذت او خوند پيدا شي نو بيا هېڅ شی نشي کولی هغه له عبادت څخه منع کړي بلکه هغه هر وخت غواړي چې د الله په عبادت او د الله په ذکر باندې مصروف پاتې شي پدې نېکانو کې ځينې بيا داسې هم وي چې الله ورته له مرګ نه وروسته ددې عبادت برکت ورکړي سره ددې چې له مرګ سره د انسان د عملونو کتابونه ونغاړل شي بيا پکې د انسان خپل عملونه هېڅ نه درج کيږي خو د ځينې نيکانو سره د هغوی د نېکو عملونو برکت په قبر کې هم پاتې وي پدې اړه يو حديث دی حضرت عبد الله ابن عباس فرمايي : **ضَرَبَ بَعْضُ أَصْحَابِ النَّبِيِّ محمد صلى الله عليه وسلم خِبَاءَهُ عَلَى قَبْرٍ ، وَهُوَ لا يَحْسِبُ أَنَّهُ قَبْرٌ ، فَإِذَا فِيهِ إِنْسَانٌ يَقْرَأُ**

سُورَةَ تَبَارَكَ الَّذِي بِيَدِهِ الْمُلْكُ حَتَّى خَتَمَهَا ، فَأَتَى النَّبِيَّ محمد صلى الله عليه وسلم ، فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ : إِنِّي ضَرَبْتُ خِبَائِي عَلَى قَبْرٍ ، وَأَنَا لا أَحْسِبُ أَنَّهُ قَبْرٌ ، فَإِذَا فِيهِ إِنْسَانٌ يَقْرَأُ سُورَةَ تَبَارَكَ الْمُلْكِ حَتَّى خَتَمَهَا ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ محمد صلى الله عليه وسلم : هِيَ الْمَانِعَةُ ، هِيَ الْمُنْجِيَةُ ، تُنْجِيهِ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ . [1]

ترجمة : د رسول الله ﷺ ځینې صحابه وو په قبر باندې خیمه ووهله دی نه وو خبر چې دا به قبر وي وایې وریدل چې یو انسان سورة الملک وایي تردې چې ختم یې کړو رسول الله ﷺ ته راغلو ورته یې وویل یا رسول الله ﷺ ما د قبر سره خیمه ووهله او زما ګمان نه وو چې دا قبر دی نو وا مې وریدل چې یو انسان سورة الملک ویل تردې چې ختم یې کړو رسول الله ﷺ وویل دا المانعة (د عذاب منع کونکې) ده هغه المنجية (نجات ورکونکې) ده د قبر د عذاب نه نجات ورکوي .

همدارنګه ابو عبد الله بن مندة د حضرت طلحة بن عبيد الله یو حدیث نقل کړی دی هغه فرمایي :
أردت مالي بالغابة فأدركني الليل فآويت إلى قبر عبد الله بن عمرو بن حرام فسمعت قراءة من القبر ما سمعت أحسن منها فجئت إلى النبي صلى الله عليه و سلم فذكرت ذلك له فقال ذلك عبد الله ألم تعلم أن الله قبض أرواحهم فجعلها في قناديل من زبرجد وياقوت وعلقها وسط الجنة فإذا كان الليل ردت إليهم أرواحهم إلى مكانها التي كانت .

ترجمة : په دښته کې مې څه مال وو په هغه پسې لاړم شپه را باندې راغله د حضرت عبد الله بن عمرو بن حرام قبر ته ورغلم له قبر نه مې تلاوت آوریدو چې داسې ښه اواز یې وو چې ما داسې

---

[1] الترمذي

اواز نه وو آورېدلی رسول الله ﷺ ته راغلم دا قصه مې ورته وکوله رسول الله ﷺ وفرمايل : هو دا خو عبدالله دی ته پدې نه پوهېږې چې الله د دوی روحونه قبض کړي دي هغه يې د زبرجدو او ياقوتو په چراغونو کې د جنت په مينځ کې آويزان کړي دي کله چې شپه شي بېرته يې دوی ته ورگرځوي بيا د دوی روحونه له دوی سره وي .

همدارنگه د حضرت ثابت البناني په اړه يو روايت نقل شوی دی چې سلسله يې مخکې ذکر ده

: روى أبو نعيم بإسناده عن محمد بن عبد الله الأنصاري حدثني إبراهيم بن الصمة المهلبي قال حدثني الذين كانوا يمرون بالحصن بالأسحار قالوا كنا إذا مررنا بجنبات ثابت البناني سمعنا قراءة القرآن.

ترجمة : ابراهيم بن الصمة المهلبي فرمايي ماته هغه کسانو قصه وکوله چې هغوی په حصن باندې په سحر وختي کې تيريږي دوی وايي کله چې مونږ د حضرت ثابت البناني د قبر په خوا کې تيريږو مونږ آورو چې هغه تلاوت کوي .

همدارنگه دده په اړه يو بل روايت دی :

وبإسناده عن يسار بن حبيش عن أبيه قال أنا والذي لا إله إلا هو أدخلت ثابت البناني في لحده ومعي حميد ورجل غيره فلما سوينا عليه اللبن سقطت لبنه فإذا به يصلي في قبره فقلت للذي معي ألا تراه قال اسكت فلما سوينا عليه وفرغنا أتينا ابنته فقلنا لها ما كان عمل ثابت قال وما رأيتم فأخبرناها فقالت كان يقوم الليل خمسين سنة فإذا كان السحر قال في دعائه اللهم إن كنت أعطيت أحدا الصلاة في قبره فأعطينها فما كان الله ليرد ذلك الدعاء.

ترجمة : او په همدې اسناد د يسار بن حبيش نه د هغه د پلار نه روايت دى هغه فرمايي زما د قسم په هغه ذات وي چې د هغه نه سوا بل په حقه لا ئق د عبادت نشته چې زه هغه كس وم چې ما حضرت ثابت البناني په لحد كې كېښودو زما سره حميد وو او يو بل كس وو كله مو چې د هغه تختې پسې كېښودې يوه تخته وغورځېده ما چې هغه سموله لحد ته مې وروكتل چې هغه را سم شوى وو په مانځه ولاړ وو ما هغه كس ته وويل چې لما سره دى اې دېته ګوره ... هغه راته وويل : چُپ شه شور مه كوه كله مو چې تختې بېرته وروپسې سمې كړې له خښولو نه يې فارغ شوو راغلو دده مبارک يوه لور وه له هغې نه مو پوښتنه وكوله چې ده كوم عمل زيات كولو ؟ هغې راته وويل : ولې تاسې څه وليدل؟ مونږ ورته ټوله قصه وكوله بيا هغې وويل : زما پلار پنځوس كاله د شپې مونځ نه وو پرېښى ټوله شپه به يې مونځ كولو او بيا به يې د سحر په وخت كې دعا ګانې كولې او په دعاء كې به يې دا هم ويل اى الله كه په قبر كې يو كس ته د مانځه اجازه وركوې نو ماته يې راكړه نو الله به دده دا دعاء قبوله كړې وي (ده مبارک ځكه په قبر كې د مانځه سوال كولو چې دى له هغه كسانو څخه وو چې د مانځه نه يې خوند اخيستلو او هرڅوک چې يو څه وخت په پوره مينه مونځ وكوي نو د هغه په مانځه كې دده لپاره خوند پيدا شي بيا يې زړه غواړي چې هر وخت مونځ وكوي او دا مونځ بيا دده لپاره تر هر كار غوره كار شي) .

يو بل روايت دى چې سلسلة يې ذكر شوېده : **وقال أبو بكر الخلال أخبرني أحمد بن محمد بن بشر حدثنا سليمة بن شبيب حدثنا حماد الحفار قال دخلت المقابر يوم الجمعة فما انتهيت إلى قبر إلا سمعت فيه قراءة القرآن .**

ترجمة : حماد قبر کیندونکی فرمايي زه د جُمعې په ورځ قبرستان ته ننوتلم چې هر قبر ته به ور رسېدلم له هغه نه به مې تلاوت آورېدو .

په يو بل روايت کې چې سند يې هم ذکر دی راغلي دي : **وروى أبو الحسن في كتاب الروضة عن عبد الله به محمد عن منصور حدثني إبراهيم الحفار قال حفرت قبرا فبدت لبنة فشممت رائحة المسك حين انفتحت اللبنة فإذا شيخ جالس في قبره يقرأ القرآن .**

ترجمة : له حضرت ابراهيم الحفار نه روايت دی هغه وايي ما يو قبر کيندلو (د قبر د کينيستلو په وخت کې په خوا کې بل قبر را وتلو) د يوې تختې نه ډېر ښه بوی راغلو ما چې دا تخته را پورته کړه بل قبر را ښکاره شو سپين ږيری سړی پکې ناست وو تلاوت يې کاوه .

حضرت يحيى بن معين فرمايي : **قال قال لي حفار مقابر أعجب ما رأيت من هذا المقابر أني سمعت في قبر أنينا كأنين المريض وسمعت من قبره المؤذن وهو يجيبه من القبر.**

ترجمة : ماته يو قبر ايستونکي ووېل : پدې مقبره کې ما ډېر شيان ليدلي خو يو ډېر عجيب چې ما ليدلي دي هغه دادي چې له يو قبر نه مې داسې زبېرګی آورېدو لکه د بيمار او له يو قبر نه مې واورېدل چې اذان کېدو هغه ورسره د اذان کلمې تکرار کولې .

حضرت الحافظ أبو بکر الخطيب د حضرت عيسى بن محمد الطوماري نه روايت کوي هغه فرمايي ما ابو بکر المجاهد القاري په خوب کې وليد تلاوت يې کاوه ما ورته ووېل : ته خو مړيې اوس هم تلاوت کوې؟ ده راته ووېل : هو ما به له الله

نه سوال كولو چې ما ته په قبر كې د تلاوت موقع راكړي.

مړي له دنيا نه خبريږي

په مختلفو رواياتو كې دا خبره هم راغلې ده چې هغه كسان چې په قبرونو كې دي د خپلو خپلوانو له اعمالو او كړو وړو څخه چې په دنيا يې كې كوي هغوى ته خبر ورسيږي د حضرت ابي هريره يو حديث دى چې ابن ابي الدنيا نقل كړى دى حضرت ابو هريره فرمايي : رسول الله ﷺ فرمايل : **لا تفضحوا أقاربكم بسيئات أعمالكم فإنها تعرض على أوليائكم من أهل القبور.** [1]

ترجمة : خپل خپلوان په خپلو بدو عملونو سره مه خجالت كوئ ځكه ستاسې عملونه ستاسې خپلوانو ته په قبرونو كې ور ښكاره كول كيږي .

همدارنگه بل يو روايت د حضرت انس بن مالك له لارې شوى دى هغه فرمايي رسول الله ﷺ فرمايل : **إن أعمالكم تعرض على أقاربكم وعشائركم فإن كان خيرا استبشروا وإن كان غير ذلك قالوا : اللهم لا تمتهم حتى تهديهم كما هديتنا .**

ترجمة : بېشكه ستاسې ا عمال ستاسې خپلوانو ته په قبرونو كې ور ښكاره كول كيږي كه چېرته ښه وي نو هغوى ورته خوشحال شي (پدې خوشحال شي چې زمونږ خپلوان په سمه لار روان دي) او كه چېرته بل څه وي (يعني بد اعمال وي) نو هغوى وايي اى الله دا زمونږ خپلوان چې بد اعمال كوي تر هغه وخته پورې يې مه مړ كوه ترڅو ورته داسې هدايت وكوې لكه مونږ ته د چې كړى وو.

[1] كتاب المنامات لابن ابي الدنيا

همدارنګه بل روایت له حضرت جابر بن عبد الله څخه نقل شوی دی هغه فرمایي رسول الله ﷺ فرمایل : **إن أعمالكم تعرض على أقاربكم في قبورهم فإن كان خيرا استبشروا وإن كان غير ذلك قالوا : اللهم ألهمهم أن يعملوا بطاعتك.**

ترجمة : بېشکه ستاسې عملونه ستاسې خپلوانو ته په قبرونو کې ور وړاندې کیږي که چېرته ښه وي هغوی ورته خوشحال شي او که چېرته بل څه وي (بد عملونه وي) هغوی وایي ای الله ته دوی ته الهام وکوې چې دوی ستا په اطاعت باندې عمل وکوي .

بل روایت د حضرت ابو ایوب انصاري په روایت نقل کړی شوی دی هغه فرمایي : **تعرض أعمالكم على الموتى فإن رأوا سيئة قالوا : اللهم راجع به .**

ترجمة : ستاسې عملونه مړیو ته ور ښکاره کول کیږي که چېرته هغه پکې بد عملونه ووینې نو وایي ای الله ور تېر شه ترې (بښنه ورته وکوې) او د الله نه غواړي چې ده ته هدایت وکوې چې لدې عملونو څخه منع شي .

حضرت ابن مبارک فرمایي له حضرت سعید بن جُبیر څخه پوښتنه وشوه چې آیا مړیو ته د ژوندیو احوال او اخبار ورول کیږي؟ ده وویل : **نعم ما من أحد له حميم إلا ويأتيه أخبار أقاربه فإن كان خيرا سر به وإن كان شرا ابتأس وحزن حتى إنهم ليسألون عن الرجل قد مات فيقال : ألم يأتكم ؟ فيقولون : لا قد خولف به إلى أمه الهاوية .**

ترجمة : هو! هر څوک چې په قبر کې د چا نیږدې خپلوان وي هغه ته د خپلوانو اخبار ور وړل کیږي که چېرته ښه وي نو هغه پرې خوشحال شي او

که بد وي نو وربانديٍ خفه شي ترديٍ چيٍ يو څوک مړ شي نو نور مړي چيٍ له ده څخه پخوا مړه شوي وي هغه د يو کس په اړه پوښتنه هم کوي چيٍ هغه څنګه وو؟ دا نوی مړ شوی کس بيا ورته وايي : هغه خو لما څخه وړانديٍ مړشو ولیٍ هغه دلته نه دی راغلی؟ دوی وايي نه .... هغه خپل د ورتلو ځای الهاوية (چيٍرته چيٍ د دوزخيانو ارواح ځي) ته تللی دی .

همدارنګه حضرت عبد الله بن السائب بن زاذان فرمايي رسول الله ﷺ فرمايل : **إن لله ملائكة سياحين يبلغوني من أمتي السلام .** [1]

ترجمة : بيٍشکه د الله لپاره څه ګرځندويه فرښتيٍ دي هغوی ګرځي او زما له امت نه ماته سلامونه را رسوي .

همدارنګه بل حديث دی چيٍ د حضرت اوس بن اوس ، ابي الدرداء ، ابن مسعود ، ابي امامة ، انس بن مالک او حضرت ابي هريره او نورو ګڼ شميٍر صحابه وو په روايت سره نقل شوی دی رسول الله ﷺ فرمايي :

أنه تعرض عليه صلاة أمته يوم الجمعة.

ترجمة : شان دادی چيٍ رسول الله ﷺ ته ور رسيږي درود چيٍ دده امت يې وايي د جُمعيٍ په ورځ .

پديٍ اړه ابن ابي الدنيا يوه قصه نقل کړيده چيٍ محمد بن الحسين له خالد بن عمور القرشي نه روايت کړی دی هغه فرمايي ماته صدقة بن سليمان الجعفري وويل زما څه بد عادت وو پديٍ وخت کيٍ

[1] **رواه البزار**

زما پلار وفات شو نو ما توبه وویسته او په خپلو تېرو تېرو عملونو باندې پښېمان شوم او پاکه توبه مې وویسته چې بیا زه ګناه نه کوم یو وخت زه وښوېدم (هغه ګناه لما څخه بیا وشوه) د شپې مې پلار په خوب کې ولید راته یې ویل : بچیه! زه ستا عملونو ته ډېر زیات خوشحالېدم چې ماته به را وړاندې کېدل مونږ به ستا عملونه د صالحینو سره مشابه کول لکن دا ځل د ډېر زیات وشرمولم ما د خپلو نورو مړیو په وړاندې مه شرمنده کوه حضرت خالد بن عمر فرمایي ددې نه وروسته بیا هغه ډېر زیات عاجز شو او په کوفه کې زما ګاونډی وو هروخت به ما د سحر په دعاء کې ورڅخه آورېدل چې ویل به یې : أسألك إنابة لا رجعة فيها يا مصلح الصالحين وهادي الضالين وراحم المذنبين .

ترجمة : داسې توبه درڅخه غواړم چې د هغې نه وروسته بیا ګناه ته رجوع نه وي ای د صالحینو اصلاح کونکیه ای د ګمراهانو لارښوونکیه ای په ګناهکارانو باندې رحم کونکیه .

یوه بله واقعه د حضرت عوف بن مالک او صعب بن جثامة په اړه نقل شوې چې دوی دواړه خواږه دوستان وو تردې چې د دوی په مینځ کې ورور ګلوي جوړه شوې وه او دواړو به یو بل ته ورور ویل یوه ورځ دوی خبرې کولې صعب عوف بن مالک ته ویل که چېرته په مونږ کې هر یو مخکې مړ شي بل ته به په خوب کې ورځي او هرڅه به ورته وایي حضرت عوف بن مالک ورته ویل : داسې هم کېدای شي؟ صعب ورته ویل هو ... صعب مړ شو یو څه وخت وروسته حضرت عوف په خوب کې ولید ورته یې وویل : وروره څه درسره وشول؟ ورته یې وویل : ټول ګناهونه راته وبښل شول ... بیا مې د هغه په غاړه کې تور داغ ولید ما

ورته وویل : اې وروره دا داغ د څه شي دی؟ هغه وویل : لس دیناره وو ما د فلاني یهودي څخه اخیستي وو هغه په کور کې په فلاني ځای کې ایښي دي را وایې اخله او هغه یهودي ته یې ورکړه او ورور ته مې ووایه (خپل نسبي ورور یې ورته یاد کړو) چې په کور کې هرڅه کیږي ماته یې خبر را رسیږي حتی چې یو څو ورځې وړاندې د کور پیشو مړه شوه زه پرې خبر یم او زما لور شپږ ورځې وروسته مړه کیږي لږ ښه رویه ورسره وکوئ ...

کله چې ددې خوب نه را ویښ شوم صباء شو ما ویل چې پدې خوب کې خو ډیرې نښې دي ... زه د دوی کور ته راغلم نو دکور خلکو یې راته ستړي مشي وویله او د صعب د مړه کېدو نه وروسته چې زه نه د دوی کره ورغلی وم او نه مې دوی ته څه مېلمستیا کړې وه ګیله وکوله او راته یې وویل : خلک به د ورور د پاتې اهل سره داسې رویه کوي لکه ته یې چې کوې له کومه وخته د چې ورور وفات شوی ته نه یې راغلی خو ما هم ورته داسې عذر وویلو لکه څنګه چې خلک وایي هغه ځای مې وکتلو چې صعب راته په خوب کې ویلي وو چې هلته یوه کڅوړه پرته وه او لس دینارونه وو هغه یهودي ته مې احوال ور ولېږلو هغه راغلو ما ورته وویل په صعب باندې ستا څه قرض وو؟ هغه وویل صعب خو د غوره صحابه وو څخه وو د رسول الله ﷺ له محترمو ملګرو څخه وو څه چې وو ما ورته بښلي دي ما ورته وویل : نه ته به ما ته وایې .. بیا یې وویل : هو ما ورته لس دیناره ورکړي وو ما هغه کڅوړه ور واچوله هغه چې وکتل ویل .. والله دا خو هماغه دینارونه دي کوم چې ما ده ته ورکړي وو ما له ځان سره وویل : ښه دا یو نښه شوه ... بیا مې د دوی کور واله ته وویل : په کور کې څه شوي دي؟ دوی وویل : هو پیشو مړه شویده .. ما وویل دا دومره دا دوه شوې بیا مې پوښتنه وکوله

وريره مې چېرته ده (د حضرت صعب لور) دوى راته وويل : هغه بيرون ده لوبې كوي زه پسې ور پاڅېدم هغه مې راوستله چې لاس مې پرې كېښود هغه ګرمه وه (تبه يې وه) ما ورته وويل لدې سره ښه كوئ بيا هغه شپږ ورځې وروسته په حق ورسېده دا قصه ابن مبارک د څه بدلو عباراتو سره نقل كړيده خو معنى يې تقريباً همدا ده .

په قبر کې رسېدونکی اجر

په انسان باندې د الله یو لوی فضل دا وي چې هغه ته داسې لارې ور برابرې کړي چې په هغه باندې عمل وکوي دده د دنیا او آخرت د ښکلا سبب کیږي او په نیکیو کې ځینې داسې نیکي دی چې هغه وخت یې هم انسان ته ثواب رسیږي کله چې ا نسان په قبر کې وي ، هغه وخت چې دده عملونه قطع شوي وي ، هغه وخت چې دده د عملونو د کولو وخت ختم شوی وي ، هغه وخت چې دده ډېر ارمان وي چې څه نېک کار مې کړی وای لکن دا فرصت له ده څخه د لاس نه وتلی وي او دده په وړاندې صرف د ارمانونو ډېری پروت وي نور هېڅ هم نه وي نو هغه وخت هم د ځینې اعمالو ثواب په ده پسې رسیږي هغه اعمال شریعت له مونږ نه پټ نه دي ساتلي زمونږ مهربان قائد ، مهربان استاد او په امت باندې مهربان پیغمبر رسول الله ﷺ مونږ ته را ښودلي دي الله د زمونږ له لوري او د ټول امت له لوري هغه ته جزاء خیر ورکړي حضرت انس بن مالک فرمایي رسول الله ﷺ فرمایي : **سَبْعَةٌ يَجْرِي لِلْعَبْدِ أَجْرُهُنَّ بَعْدَ مَوْتِهِ وَهُوَ فِي قَبْرِهِ : مَنْ عَلَّمَ عِلْمًا ، أَوْ كَرَى نَهْرًا ، أَوْ حَفَرَ بِئْرًا ، أَوْ غَرَسَ نَخْلا ، أَوْ بَنَى مَسْجِدًا ، أَوْ وَرَّثَ مُصْحَفًا ، أَوْ تَرَكَ وَلَدًا يَسْتَغْفِرُ لَهُ بَعْدَ مَوْتِهِ .** [1]

ترجمة : اوه شیان چې انسان ته یې ثواب جاري کیږي دده له مرګ نه وروسته هم پداسې حال کې چې دی په قبر کې وي هغه چې چاته یې څه علم ور وښود ، یا یې نهر جوړ کړو (یوې علاقې ته یې پکې اوبه ور وستې) یا یې کوهی وویستو ، یا یې کومه د خورما ونه نیال کړه ، یا یې جومات جوړ کړو، یا ترینه په میراث کې کوم قرآن کریم

---

[1] **رواه البزار في مسنده و صححه ا لالباني**

پاتې شو، یا ترېنه یو ماشوم پاتې شو چې دده له مرګ نه وروسته دده لپاره بښنه غواړي .

په پورتني حدیث کې هغه شیان یاد کړل شوي دي چې انسان دا کارونه وکوي نو دی په قبر کې وي دی په حق رسېدلی وي لکن ددې شیانو ثواب په ده پسې قبر ته ور رسیږي او رسول الله ﷺ وویل چې دا اوه شیان دي .

لمړی تعلیم

چا ته علم ورکول هم هغه عمل دی چې انسان ته یې په قبر کې ثواب ور رسیږي لکن دا هغه فایده من علم ښیي چې انسان د خپل دین سره اشنا کوي انسان ته د هغه رب او د هغه معبود ور ښیي او انسان ته د سمې لارې هدایت کوي دا هغه علم ښیي چې په کوم سره انسان هدایت له ګمراهي نه بېل کړي ، حق له باطل نه وپېژني ، حرام له حلا نه سره جلا کړي ، دا هغه دیني علم دی چې زده کول یې ثواب دی ، تکرار یې عبادت دی ، او بل چاته رسول یې جهاد دی لدې ځای نه ددې مبارک علم فضیلت ښکاره کیږي چې دا کسان چې د دینې علومو په خپرولو کې هڅې کوي د دوی څومره ثواب دی او دا څومره محترم او بختور خلک دي چې په حقیقت کې همدا کسان د خلکو لپاره چراغونه دي ، په ملکونو کې مینارونه دي ، او د امت لپاره د هدایت لارې دي ، د علم او حکمت چینې دي او د دوی ژوند د ټولو خلکو لپاره یو غنیمت دی ، او د دوی جدایي د خلکو لپاره رښتونی مصیبت دی هغه کسان چې د اسلامي علومو په خپرولو کې هڅې کوي هغه کسان دي چې جاهل په خبره پوه کوي ، غافل ته خبره ور په زړه کوي ، ګمراه ته سمه لاره ښیي ، نو چې دوی کله کوم یو وفات شي د دوی علوم په خلکو کې پاتې شي ، د دوی خبرې پاتې شي ، د دوی

شاګردان پاتې شي ، د دوی تصنیفات پاتې شي او د دوی کتابونه په خلکو کې پاتې شي خلک له هغوی څخه استفادې کوي ، له کتابونو څخه زده کړې کوي او د کتابونو مطالعې کوي هغه کسان چې دوی یې نه وي لیدلي هغوی هم کولی شي د دوی له کتابونو څه زده کړي ، څه پند ورڅخه واخلي نو ددې ټولو ثواب په ده پسې رسیږي او دا د هغه لپاره د بخت خبره ده .

دوهم د نهرونو کیندل

ددې نه مطلب داسې ځای ته اوبه ور وستل دي چې تردې وړاندې هلته اوبه نه وې هلته د زمکې اوبو ته ضرورت وي او یو ځوک په خپل مصرف هلته اوبه ورسوي نو چې هلته پدې اوبو څومره ګیاه کیږي ، خلک ترې اوبه استعمالوي ، تږي لدې اوبو څخه څښاک کوي ، چارپایان ، مارغان او نور شیان ورڅخه اوبه څښي ، خلکو ته هلته د ژوند اسباب برابر شي ، خلکو ته هلته د ژوند هغه وسیله په لاس ورشي چې ددېنه بغیر ژوند نا ممکن دی بلکه ژوند جوړیږي په اوبو سره او بیا د هغې ویالې نه خلک یو بل خوا ته وړې ځانګې جوړې کړي له هغه نه څومره زمکه ژوندی شي ترڅو پورې چې دا خدمت روان وي او ترقي کوي نو دې کس ته یې په قبر کې ثواب رسیږي .

دریم د کوهیو ویستل

لکه مخکې چې تېر شول د نهرونو تېرول ډېر لوی اجر لري او کله چې مړی په قبر کې وي نو د هغې ثواب ورته رسیږي په همدې ډول د کوهي ویستل هم دي کله چې انسان کوهی وباسي بیا خلک لدې څخه اوبه څښي او فایده ورڅخه پورته کوي انسان ته په هر حالت کې ددې اجر رسیږي په یو حدیث کې راغلي دي : **بينما رجل في طريق فاشتد عليه العطش ، فوجد**

بئراً فنزل فيها فشرب ، ثم خرج ، فإذا كلب يلهث يأكل الثرى من العطش ، فقال الرجل : لقد بلغ هذا الكلب من العطش مثل الذي كان بلغ مني ، فنزل البئر فملأ خفه ماء فسقى الكلب ، فشكر الله له فغفر له ، قالوا يا رسول الله وإن لنا في البهائم أجراً ؟ فقال : في كل ذات كبدٍ رطبةٍ أجرٌ .[1]

ترجمة : يو وخت يو سړی په لاره روان وو سخت تږی شو نو کوهی یې پیدا کړو پکې ښکته شو اوبه یې وڅښلې را ووتلو ویې لیدل چې یو سپی سخت تږی دی او له تندې نا قرار دی سړي وویل : دا سپی خو داسې تږی شوی دی لکه زه چې تږی وم بېرته کوهي ته ور ښکته شو موزه یې د اوبو نه را ډکه کړه را ویې خېژوله او سپي ته یې ورکړه د الله شکر یې وویست الله ورته بښنه وکوله صحابه وو ورځخه پوښتنه وکوله چې په چارپایانو کې هم مونږ ته اجر شته؟ رسول الله ﷺ وویل : په هر لانده ځیګر کې اجر شته .

نو الله هغه انسان د یوه سپي د مړولو په وجه وبښلو نو که یو انسان کوهی وباسي او هلته ډېر خلک تږينه اوبه څښي او هر وخت یې تنده ماتيږي نو څومره اجر به یې وي او په سرو زرو د لیکلو خبره پکې داده چې انسان کله مړ شي او په قبر کې وي ددې اجر به ورته رسيږي .

څلرم د کجورې نهال کول

لکه چې معلومه ده په ونو کې کجوره د سیدې او سردارې حیثیت لري بهترينه ونه ده او بهترينه مېوه ده ډېر زيات خصوصیات او غوره صفات لري او د ټولو سربېره ډېر اوږد عمر لري نو چا چې خورما کېښوده او هغه شنه شوه نو چې ترڅو پورې

[1] متفق عليه

هغه موجوده وي خلک يې له سيوري او له ميوې څخه فايده پورته کوي نو ده ته به يې فايده رسيږي او په قبر کې به يې ده ته ثواب ور رسيږي داسې صرف خورمانه ده بلکه علماء کرام فرمايي چې هره ميوه لرونکي او سيوري لرونکې ونه ده چې څوک يې کيږدي او هغه لويه شي چې خلک د هغه له ميوې او سيوري څخه فايده پورته کوي نو ده ته به يې ثواب رسيږي او په ټولو ونو کې يې خورما ددې لپاره ياده کړه چې په ونو کې هغه يو خاص مقام او خاص فضليت لري .

پنځم د جومات جوړول

جومات هغه ځای وي چې الله ته په ټوله زمکه کې دا ډير غوره وي او مبارک ځای وي د خلکو د عبادت ځای وي ، د الله ذکر پکې کيږي او د الله نوم پکې اخيستل کيږي مونځونه پکې ا داء کيږي او د قرآن تلاوت پکې کيږي او په اکثرو جوماتونو کې ديني علوم لوستل کيږي او دقرآن کريم زده کړې پکې کيږي او داسې نور غوره عبادتونه او کارونه وي چې په جوماتونو کې ترسره کيږي هغه کس چې جومات جوړ کړي نو دا هرڅه چې پکې کيږي ده ته به يې ثواب رسيږي او دده به پکې برخه وي حتی چې دی مړ وي او په قبر کې کېښودل شوی وي په جومات کې چې څوک عبادت کوي نو ده ته به يې ثواب په قبر کې ورسيږي او دده د نېکو عملونو تله به ورسره درنده کيږي ددې سربېره رسول الله ﷺ فرمايي : **من بنی مسجداً يبتغي به وجه الله بنی الله له بيتاً في الجنة .** [1]

---

[1] **متفق عليه**

ترجمة : چا چې د الله لپاره جومات جوړ کړو او پدې سره یې مطلب د الله رضا وه الله به ورته په جنت کې کور جوړ کړي .

شپږم په میراث کې قرآن کریم پاتې کېدل

هغه څوک چې قرآن کریم چاپ کړي او یا یې واخلي او چاته یې د ثواب لپاره ورکړي او یا یې په جوماتونو کې د تلاوت لپاره کیږدي یا یې د مدرسې شاګردانو ته ورکړي چې هغوی یې تلاوت کوي ترڅو مسلمانان ورڅخه فایده پورته کړي نو په هغه کې چې څوک تلاوت کوي ده ته یې ثواب رسیږي او که څوک دده له قرآن کریم څخه کومه برخه یاده کړي نو چې هغه یې په یادو هم تلاوت کوي دی به ورسره په ثواب کې الله شریکوي او د الله په خزانو کې د ثواب کمی نشته چې الله ورباندې سختي وکوي نو دا قرآن کریم چې ترڅو پورې ورڅخه فایده پورته کیږي نو ده به یې د ثواب برخه رسیږي اګر که دی په قبر کې هم وي .

اووم نېک اولاد پاتې کېدل

هغه کس چې نېک اولاد ورڅخه پاتې شي ، هغه کس چې خپل اولاد ته ښه ور وښیي او هغوی په سمه لاره کړي ترڅو چې هغوی په سمه لاره وي ، ترڅو چې هغوی نېک کارونه کوي او ترڅو چې هغوی د اسلام په مبارک دین باندې عمل کوي او بیا هغوی هغه ښه چې له ده څخه یې زده کړي دي وروسته نسل ته ور ښیي او هغوی ته یې ور زده کوي او بیا هغوی ورباندې عمل کوي او ترڅو چې دده د اولادونو له خوا دا د نېکو سلسله روانه وي او ترڅو چې دده دا نېک اولاد دده په حق کې د دعا لاسونه پورته کوي او ده ته دعاګانې کوي اګر که

دی په قبر کې هم وي نو ده ته به نېکي رسيږي او دده نېک اعمال به ورسره زياتيږي نېکبخت وي هغه انسان چې پداسې حالت کې مړ شي چې داسې اولاد شا ته پريږدي چې دده په حق کې لاس پورته کوي او دده لپاره بښنه رحمت او مغفرت غواړي دا مهمه نه ده چې له انسان څخه زوی او که لور پاتې کيږي ، دا مهمه نه ده چې د انسان څخه د زوی لخوا مسيان پاتې کيږي او که د لور لخوا خو مهمه داده چې داسې څوک له انسان څخه پاتې شي چې ده ته دعا ګانې کوي .

په ځينې روا ياتو کې نور هم د ثواب داسې کارونه ياد کړل شوي دي چې په انسان پسې يې تر مرګ وروسته ثواب ور رسيږي د مثال په ډول له حضرت ابي هريره څخه روايت دی هغه فرمايي رسول الله ﷺ فرمايل : **إن مما يلحق المؤمن من عمله وحسناته بعد موته علماً علمه ونشره ، وولداً صالحاً تركه ، ومصحفاً ورثه أو مسجداً بناه ، أو بيتاً لابن السبيل بناه ، أو نهراً أجراه ، أو صدقةً أخرجها من ماله في صحته وحياته تلحقه من بعد موته .** [1]

ترجمة : يو له هغه کارونو څخه چې په انسان پسې يې له مرګ نه وروسته ثواب ور رسيږي هغه علم دی چې ده خپور کړی وي ، هغه نېک اولاد دی چې ده پريښی وي ، هغه د قرآن کريم نسخه ده چې له ده څخه په ميراث کې پاتې شوې وي ، يا جومات دی چې ده جوړ کړی وي ، يا د مسافرو لپاره کور دی چې ده جوړ کړی وي ، هغه نهر دی چې ده تېر کړی وي ، او يا هغه صدقه ده چې ده په هغه وخت کې ورکړې وي چې دی ژوندی او جوړ وو ثواب به يې تر مرګ وروسته ده ته ور رسيږي.

[1] **رواه ابن ماجة**

په بل روايت کې حضرت ابو امامة فرمايي : **أربعة تجري عليهم أجورهم بعد الموت : من مات مرابطاً في سبيل الله ، ومن علّم علماً أجرى له عمله ما عمل به ، ومن تصدق بصدقة فأجرها يجري له ما وجدت ، ورجل ترك ولداً صالحاً فهو يدعو له** [1] .

ترجمة : څلور کسان داسې دي چې د هغوی اجرونه تر مرګ وروسته هم روان وي يو هغه چې د الله په لار کې د پهرې په حالت کې مړ شي ، بل هغه چې چاته يې څه علم ور ښودلی وي دده نه وروسته چې وربانديې عمل کيږي نو ده ته يې ثواب رسيږي ، هغه صدقه چې ده ورکړې وي ترڅو چې هغه شی موجود وي ده ته يې ثواب رسيږي ، هغه سړی چې نېک اولاد يې پريښی وي ده ته دعاء کوي نو ده ته يې ثواب رسيږي .

په بل روايت کې حضرت ابو هريرة فرمايي رسول الله ﷺ فرمايل : **إذا مات ابن آدم انقطع عمله إلا من ثلاث : صدقةٍ جاريةٍ ، أو علم ينتفع به أو ولدٍ صالح يدعو له** . [2]

ترجمة : کله چې بني آدم (انسان) مړ شي نو د هغه عمل بند شي مګر له دريو شيانو څخه (د دريو شيانو ثواب په ده پسې له مرګ نه وروسته هم ور رسيږي) صدقه جاريه ، هغه علم چې فايده ورڅخه اخيستله کيږي ، هغه نېک اولاد چې دده په حق کې دعاء کوي .

---

[1] **رواه الامام احمد و الطبراني**

[2] **رواه مسلم**

ماخذونه

1. القرآن الكريم
2. البرهان في علوم القرآن
3. الإتقان في علوم القرآن
4. تفسير القرطبي
5. تفسير ابن كثير
6. تفسير الطبري
7. تفسير المنار
8. صحيح البخاري
9. صحيح مسلم
10. سنن الترمذي
11. سنن النسائي
12. سنن أبي داود
13. سنن ابن ماجه
14. سنن الدارمي
15. سنن الدارقطني
16. شرح النووي على مسلم
17. فتح الباري شرح صحيح البخاري
18. حاشية السندي على ابن ماجه
19. عون المعبود
20. تحفة الأحوذي
21. مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح
22. السيرة النبوية (ابن هشام)
23. كتاب الشفا بتعريف حقوق المصطفى
24. زاد المعاد
25. البداية والنهاية
26. جامع العلوم والحكم
27. سير أعلام النبلاء
28. بداية المجتهد ونهاية المقتصد
29. بيان المختصر شرح مختصر ابن الحاجب
30. بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع
31. تحفة المحتاج في شرح المنهاج
32. جمع الوسائل في شرح الشمائل
33. رد المحتار على الدر المختار
34. حلية الأولياء وطبقات الأصفياء
35. فتح القدير

36. البحر الرائق شرح كنز الدقائق
37. الأشباه والنظائر على مذاهب أبي حنيفة النعمان
38. القواعد النورانية الفقهية
39. أنوار البروق في أنواع الفروق
40. مدارج السالكين بين منازل إياك نعبد وإياك نستعين
41. الجواب الكافي لمن سأل عن الدواء الشافي
42. موعظة المؤمنين من إحياء علوم الدين
43. القاموس المحيط
44. لسان العرب
45. النهاية في غريب الحديث والأثر
46. مختار الصحاح
47. الحاوي للفتاوي

د مؤلف چاپ شوي آثار

1. د حضرت محمد د نبوت معجزې پښتو
2. ږنګه ځاله پښتو
3. آشیانه سوخته فارسي
4. په اسلام کې د انسان حقوق انګلیسي
5. دین یې دام دی ددنیا په لار کې اېښی پښتو
6. فرار از کزار فارسي
7. له کزاره تېښته پښتو
8. زوړ دین نوی مسلمان پښتو
9. ډم ډمکو جي او لیکوال پښتو
10. ادیان پشت در فارسي
11. له دروازې تر شا دینونه پښتو
12. د انصاف او اعتدال لاره پښتو
13. کفري الفاظ پښتو
14. کل بچه فارسي
15. معلومات عمومي فارسي

16. د حج لارښود پښتو او انګلیسي
17. محمد رسول الله سیرت اخلاق او پېژندنه پښتو
18. د اسلامي تاریخ له پاڼو څخه اول پښتو
19. د اسلامي تاریخ له پاڼو څخه دوهم پښتو
20. د اسلامي تاریخ له پاڼو څخه دریم پښتو
21. د اسلامي تاریخ له پاڼو څخه څلرم پښتو
22. د اسلامي تاریخ له پاڼو څخه پنځم پښتو
23. د اسلامي تاریخ له پاڼو څخه شپږم پښتو
24. د اسلامي تاریخ له پاڼو څخه اوم پښتو
25. د اسلامي تاریخ له پاڼو څخه آتم پښتو
26. د اسلامي تاریخ له پاڼو څخه نهم پښتو
27. د اسلامي تاریخ له پاڼو څخه لسم پښتو
28. د فقهي کتابونو له پاڼو څخه اول پښتو
29. د فقهي کتابونو له پاڼو څخه دوهم پښتو
30. د فقهي کتابونو له پاڼو څخه دریم پښتو

31. د فقهي کتابونو له پانو څخه څلورم
پښتو
32. د فقهي کتابونو له پانو څخه پنځم
پښتو
33. د علم حديث مطالعه پښتو
او انګليسي
34. د فقهي کتابونو له پانو څخه شپږم
پښتو
35. کلمه طيبة پښتو
36. الدعاء
پښتو
37. اللهم عربي، پښتو،
انګلسي
38. المسجد
پښتو
39. قرآني معلومات لمړی برخه
پښتو
40. سلام پښتو
41. د فقهي کتابونو له پانو څخه اومه برخه
پښتو
42. د وخت اهميت (لمړی برخه)
پښتو
43. د وخت اهميت (دوهمه برخه)
پښتو
44. د وخت اهميت (دريمه برخه)
پښتو
45. الحكمة ١ پښتو
46. الحكمة ٢ پښتو
47. الحكمة ٣ پښتو
48. الحكمة ٤ پښتو

49. حتمي سفر (مرګ) پښتو
50. حتمي سفر (شهادت) پښتو
51. حتمي سفرل (قتل) پښتو
52. حتمي سفر (ځانکدن) ستاسې په لاس کې